د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اقتصاد وزارت

# د پکتیکا ولایت پروفایل

## اقتصادي او ټولنيزې پراختيا ته يوه کتنه



د پکتیکا ولایت د اقتصاد ریاست
وری - ۱۳۹۸



# د مطالبو لړلیک

**اختصارات ............................................................................................... ۱**
**سریزه .................................................................................................. ۲**
**مننلیک..................................................................................................... ۳**
**د والي پیغام ............................................................................................. ٤**
**میتودولوژي(د جوړولو طریقه):......................................................................... ٦**
**د دغه سند پیژندنه ....................................................................................... ۷**
**دپکتیکا ولایت لنډه پیژندنه................................................................................. ۸**
**لومړی څپرکی.............................................................................................. ۸**
اداري ویش ................................................................................................... ۸
**د پکتیکا ولایت د ځمکی حالت او سرچیني ........................................................... ۹**
طبعي منابع: ................................................................................................... ۹
**طبعي منابع: .................................................................................................. ۹**
*۱ - دګتیواز دګازو او نفتو حوزه:.............................................................................. ۹*
*۲- دګومل نفت: ................................................................................................ ۹*
**د پکتیکا ولایت سکتوري جوړښت ........................................................................ ۱۱**
**د پکتیکا ولایت قومی جوړښت .......................................................................... ۱۱**
**وجه تسمیه:................................................................................................... ۱۲**
**تاریخی آبدات (ځایونه)................................................................................... ۱۲**
**مشهورځایونه او زیارتونه ................................................................................ ۱٦**
کتابخانې: ..................................................................................................... ۱٦
نفوس (Population)........................................................................................ ۱٦
کولتور ........................................................................................................ ۱۷
مشاهیر ....................................................................................................... ۱۷
رسنۍ: ......................................................................................................... ۱۷
صنعت:........................................................................................................ ۱۸
**کرنه:.......................................................................................................... ۱۸**
لوبې:........................................................................................................... ۱۸

## دوهم څپرکی........................................................................................ ۱۹

**د پکتیکا ولایت د انکشافی سکتورونو موجوده وضعیت : ......................................... ۱۹**

۱-.................................................. د روغتیا او خوړو سکتور اوسنی اقتصاد وضعیت:
.............................................................................................................. ۱۹

۲- د پوهنې، رسنیو او فرهنگ اقتصادی او ټولنیز وضعیت : ................................................ ۱۹

۳- د بنسټیزو چارو او طبیعي سرچینو سکتور د اوسني وضعیت تحلیل .................................... ۲۱

*په پکتیکا ولایت کې لاندې پاخه سړکونه شتون لري: ............................................................. ۲۱*

٤- کرهنې ، کلیو او پراختیا سکتور د اوسني وضعیت تحلیل: ............................................. ۲۲

*باغداری(Horticulture): ..................................................................................................... ۲۳*

*ځنګلات(Forests) ............................................................................................................. ۲۳*

*غذایي مصئونیت(Food Security) : ........................................................................................ ۲۳*

*دحیواناتو انکشاف(Improvement of live stock): ....................................................................... ۲٤*

*دطبعی منابعو تنظیمول(Natural source arrangement): ............................................................ ۲٤*

*ابــــــــیاری(Irrigation): ..................................................................................................... ۲٤*

*دتحقیق،ترویج او مارکیټ انکشاف: .................................................................................. ۲٥*

*د بکر او بایرو مځکو د آبادیدو زمینه برابرول: ..................................................................... ۲٥*

دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت ملی پروګرامونه. ......................................................... ۲٦

٥- دخصوصي سکتور اوسنی اقتصاد وضعیت:............................................................................ ۲۸

٦- دټولنیز خوندیتوب سکتور د اوسني وضعیت تحلیل ........................................................ ۲۹

۷- د حکومتداری، د قانون واکمنی او بشري حقوقو د سکتور د اوسني وضعیت تحلیل ......................... ۳۰

۸ - د امنیت سکتور د اوسني وضعیت تحلیل: ................................................................ ۳۱

## دریم څپرکی.......................................................................................... ۳۳

**دپکتیا ولایت انکشافی بودجه ود ۱۳۹۷ کال انکشافی لګشت :....................................... ۳۳**

معارف:.................................................................................................................. ۳۳

*بودجه معارف : ......................................................................................................... ۳۳*

زراعت:.................................................................................................................. ۳٤

*بودجه زراعت: ......................................................................................................... ۳٤*

تحصیلات عالی:...................................................................................................... ۳٥

*بودجه تحصیلات عالی: ............................................................................................... ۳٦*

صحت عامه: ........................................ ۳۶
*بودجه صحت عامه:* ........................................ ۳۷
انرژی و آب : ........................................ ۳۷
*بودجه انرژی و آب :* ........................................ ۳۸
*فواید عامه:* ........................................ ۳۸
*بودجه فواید عامه:* ........................................ ۳۹
لست پروژه های انکشافی ولایت پکتیکا ........................................ ۳۹


## خلورم څپرکی........................................ ۴۳

**د نادولتی موسساتو کړنی ........................................ ۴۳**
**د نادولتی موسساتو جدول........................................ ۴۵**


## پنځم څپرکی........................................ ۴۷

**دپکتیکا ولایت انکشافی طرحه : ........................................ ۴۷**
**د طرحی بنسټیزه موخه: ........................................ ۴۹**
**د پکتیکا ولایت کرنیز اقتصادی وضعیت: ........................................ ۵۰**
باغداری(HORTICULTURE) ........................................ ۵۱
*ځنګلات(Forests)* ........................................ ۵۱
*غذايي مصئونیت(Food Security)* ........................................ ۵۱
*دحیواناتو انکشاف(Improvement of live stock)* ........................................ ۵۲
*دطبعی منابعو تنظیمول(Natural source arrangement):* ........................................ ۵۲
*ابـــــــــیاری(Irrigation)* ........................................ ۵۲
د بکر او بایرو مځکو د آبادیدو زمینه برابرول ........................................ ۵۳
**دمېوباغونو اقتصادی ارزښت: ........................................ ۵۵**
په ملی عوایدو کی د مېو د صادراتو رول ........................................ ۵۵
په فقر او بیکاري کمولو کی دمېو د صادراتو او عایداتو رول........................................ ۵۵
**په پکتیکا ولایت دسړخونو جوړولو دری کلن پلان ........................................ ۵۶**
**دمېو پروسیس اورفعه حاصیل او پانګه اچونه: ........................................ ۵۶**
**د بازارتحلیل: ........................................ ۵۷**
**دمېو د محصولاتو مخکی اخیستنه ، قرضه او سب سایډی ........................................ ۵۸**

**په پکتیکا ولایت کې د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادګټې او زیانونه: ............................ ٦٠**
د حاصل تر رفع کېدو د مخه قرار داد ښېګڼې................................................................... ٦٠
*د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادونو زیانونه.......................................................... ٦٠*
دتولیدی عواملو او لګښت تحلیل: ........................................................................... ٦٠
تحلیل سوات: ................................................................................................ ٦١
*ضعف نقطی...................................................................................................... ٦١*
*فرصتونه ........................................................................................................ ٦١*
*تهدیدونه ........................................................................................................ ٦٢*
**عمده ستونزی: ............................................................................................. ٦٢**
دکرهنزومحصولاتو دتولید او صادراتو دزیاتوالی چټکی لاری: ........................................... ٦٢
پایلی :.......................................................................................................... ٦٢

## شپږم څپرکی.................................................................................... ٣٣

**د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ او د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه (ANPDF/ NPPS)..... ٦٤**
د افغانستان جغرافیایي-اقتصادي (جیواکانومیک) موقعیت ................................................ ٦٤
د ملي یوالي حکومت .......................................................................................... ٦٥
**سیاسي او امنیتي لرلید: ....................................................................................... ٦٥**
**اقتصادي لرلید:................................................................................................ ٦٦**
١. دخصوصي سکټور د پراختیا پروګرام ..................................................................... ٦٦
خصوصي سکټور د ودې له لارې د کارې فرصتونه رامنځته کول........................................... ٦٧
٢. د ولسي ترون پروګرام ..................................................................................... ٦٨
**ولسی تړون به د خدمتونو لړ تر لړ معیارونه وړاندې کړي......................................... ٦٨**
٣. د اغیزمني حکومتولۍ پروګرام .............................................................................. ٦٩
الف) د عامه سکټور سمون ..................................................................................... ٦٩
**د یوې اغیزمنې او ځواب ویونکې ملکي اداري رامنځته کول ........................................ ٦٩**
ب) د اداري فساد د ریښو ایستل: ............................................................................. ٧٠
د اداري فساد پر وړاندې د حکومت د پلان عمده ټکي:..................................................... ٧٠
ج) د سیمه ایزې حکومتولۍ پیاوړتیا ........................................................................... ٧٠
د) نشه یې توکو پر وړاندې مبارزه............................................................................. ٧١
۴. دعدلي سکټور د رغولوپروګرام ............................................................................. ٧١

عدالت ته دټولو افغانانو لاسرسی: ........................................................................ ۷۱
۵. دکرنې د پراختیا هر اړخیز پروګرام.................................................................. ۷۲
د کاري زمینې رامنځته کول، د حاصلاتو زیاتول او کروندګرو لپاره د بازارونو پرانستل:..................... ۷۲
۷. دښاري پراختیا پروګرام ............................................................................... ۷۳
خوځنده او د هستوګنې وړ ښارونه........................................................................... ۷۳
۸. د انرژۍ پروګرام........................................................................................ ۷٤
د زیربیناوو او انرژۍ د پراختیا لپاره د ملي لومړیتوب پروګرام ............................................ ۷٤
د بریښنا او انرژۍ سکتورونو لپاره زموږ موخې:......................................................... ۷۵
۹. دکانونو او طبیعي سرچینودپراختیا ملي پروګرام:....................................................... ۷۵
د غوره اقتصاد لپاره د استخراجي سکتور پیاوړي کول ..................................................... ۷٦
۱۰. د بشري سرچینود پراختیا پروګرام..................................................................... ۷٦
د اقتصادي ودې د رامنځته کولو په موخه بشري سرچینو ته پراختیا ورکول .................................... ۷٦
۱۱. د ښځود اقتصادي پیاوړتیا پروګرام.................................................................... ۷۷
افغانستان د جندر یا جنسیت تګلاره : ..................................................................... ۷۷

## اووم څپرکی.................................................................... ۷۸

**سروی وضعیت زنده گی در افغانستان :........................................................... ۷۸**
وضعیت زنده گی مردم ولایت پکتیکا به اساس سروی ALCS-۲۰۱۷ :........................................... ۷۸
سروی وضعیت زنده گی به سطح ملی : .................................................................... ۸۰
**گزیده شاخص های احصائیوی به سطح ملی : ................................................... ۸۲**

## اتم څپرکی.................................................................... ۱۰۸

**د SDGS د بنسټیزو پراختیایي موخو لنډه پېژندنه ................................................... ۱۰۸**
د بنسټیز انکشاف د موخو لرلید SDGs:.................................................................. ۱۰۸
*د بنسټیزي پرمختیا د موخو تمرکز:......................................................................... ۱۰۹*
**په سمبولیک ډول د اولسو موخو لنډیز:........................................................... ۱۰۹**
**د افغانستان لپاره بنسټیزې پراختیایي موخې A-SDGS:............................................. ۱۰۹**
**د افغانستان لپاره د بنسټیزو پراختیایي موخو اهمیت A-SDGS:..................................... ۱۰۹**
**د افغانستان لپاره د بنسټیزو پراختیایي موخو د تطبیق مرحلې A-SDGS: ........................... ۱۱۰**
**سرچینې او مأخذونه: .......................................................................... ۱٤۰**

دولایت په کچه : ............................................................................................. ۱۴۰

اقتصاد وزارت

و

# اختصارات

MoEc وزارت اقتصاد

CSO نهاد جامعهٔ مدنی

DDA مجتمع انکشافی ولسوالی

GDDC ریاست عمومی طرح و توحید

DGO دفتر مقام ولسوالی

ISLA ابتکار تقویت سازی ادارات محلی

IDLG اداره مستقل ارگانهای محلی

INGO نهاد بین المللی غیر-دولتی

LoGo حکومتداری محلی (پروژهٔ که توسط UNDP تمویل میشود)

M&E نظارت و ارزیابی

MoF وزارت مالیه

MoWA وزارت امور زنان

PAP پلان سالانهٔ ولایتی

PBP پالیسی بودجهٔ سازی ولایتی

PC شورای ولایتی

PCM اعضای شورای ولایتی

PCO دفتر شورای ولایتی

PDC کمیتهٔ انکشافی ولایتی

PDPG رهنمود پلانگذاری انکشافی ولایتی

PGO دفتر مقام ولایت

DoEc ریاست اقتصاد ولایتی

PIMS سیستم مدیریت معلومات ولایتی

PTC کیمتهٔ تخنیکی ولایتی

PPFMC کمیتهٔ مدیریت امورمالی عامهٔ ولایتی

PSC کمیتهٔ های سکتور ولایتی

PLD ریاست های ولایتی

PPP پالیسی پلانگذاری انکشافی ولایتی

USAID ادارهٔ انکشاف بین المللی ایالات متحده امریکا

WB بانک جهانی

UNDP برنامهٔ انکشافی ملل متحد

# سریزه



په دې کې هیڅ شک نشته چې افغانستان د انساني، فرهنګي، ټولنیزو او اقتصادي سرچینو ساتنې او پراختیا ته اړتیا لري تر څو وکړای شي د پراختیا بهیر د هغه پر بنسټ عیار او همغږی کړي. د دې بهیر د اړینو مسئلو له ډلې څخه د سوداګرۍ، ټرانزیټ، صنعت، لاسي صنایعو، داخلي تولیداتو او په علمي او تخصصي شتمنۍ باندې سمبال انساني ځواک او شته پرمختیایي سرچینې دي چې د کرنیزو محصولاتو او نورو اقتصادي بل القوه پوټنشیلونو د ودې او پرمختیا لپاره لاره هواروي.

ښکاره خبره ده، په هره اندازه چې ښه پلان جوړونه وشي او ښه لاربښودونه برابر شي نو په هماغه اندازه به د ودې او پراختیا بهیر په منظمه او ښه توګه پر مخ ولاړ شي او ټولنه به د هوساینې او پرمختګ په لوري ولیږدوي.

په داسې حالاتو کې د مالوماتي ټولګې یا ولایتي پروفایل شتون، د بشري ټولنې په بیلابیلو برخو په تیره بیا د پلان جوړونې او پالیسي جوړونې په برخو کې خورا مهم او اړین ګڼل کیږي.

د اقتصاد وزارت ویاړي چې د هیواد په کچه د یو ریښتیني بنسټ د ټاکلو په موخه او د ولایتونو د شته حالاتو په تړاو کره مالوماتو ته د لاسرسۍ په برخه کې اسانتیا برابره کړي او د پلان جوړونکو، څیړونکو، دولتي ادارو، مرسته کونکوو مؤسسو، خیریه بنسټونو، زده کوونکو او لیکوالانو لپاره ولایتي پرمختیایي او اقتصادي معلوماتي ټولګه(پروفایل) جوړ کړي. دغه پروفایل د تخنیکي کمیټې له خوا چې مرکزي او ولایتي مسلکي کارکوونکو په کې ګډون درلود او د دولتي ادارو، نادولتي مؤسساتو، ځوانانو، د پوهنتونونو د ښوونکو، غوره کسانو، پوهانو، مدني ټولنې او نورو اړونده مرکزي او ولایتي نهادونو په مرسته او همکارۍ جوړ شوی او د افغانستان د خلکو خدمت ته وړاندې کیږي.

یاد پروفایل تر ډیره بریده پر عامه هوساینې او د اقتصادي او ټولنیز حالت پر څرنګوالي، تاریخي قدامت، د پرمختیایي سکټورونو د حالت پر ارزونې، زیربنا او نورو مهمو پرمختیایي مسایلو باندې تمرکز لري او په ټولیز ډول سره د ولایتونو اقتصادي او ټولنیز لیرلید لکه اقتصادي او ټولنیز ظرفیتونه، د اقتصادي ودې او پرمختیا په وړاندې ننګونې، د اقتصادي هوساینې او اقتصادي حالت د ښه والي په برخه کې شته فرصتونه مطالعه کوي او ارزوي.

ولایتي پرمختیایي او اقتصادي مالوماتي ټولګه(پروفایل) مرسته کوي تر څو بودیجوي نهادونه، د پرمختیایي پلان جوړونې بهیر د ولایت د اقتصادي او ټولنیزو اړتیاوو او لومړیتوبونو پر بنسټ تنظیم کړي او د نړیوالې ټولنې مالي مرستې د ولایت له اړتیاوو او لومړیتوبونو سره همغږي کړي تر څو د ولایت په کچه د عامه هوساینې د سمون لپاره لاره هواره شي.

زه له دې فرصت څخه په ګټه اخیستنې د ولایتي پروفایل جوړولو د کمیټې له غړو څخه په ځانګړې توګه مننه کوم او د نورو دولتي ادارو او مدني ټولنې نهادونو د کارکوونکو، کارپوهانو او ټولو هغه کارکوونکو هڅو او زیار ته د قدر په سترګه ګورم چې په دې کار کې ښکیل اوو.

**ډاکټر مصطفی مستور**

**د اقتصاد وزیر**

# مننلیک



خوښ یم چې نن د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا د پلان جوړونې په برخه کې د یو بل ستر ګام شاهد یم. دغه لاسته راوړنه چې د ولایتي پرمختیایي او اقتصادي مالوماتي ټولګې(پروفایل) جوړول دی ، له شکه پرته د ولایتونو په کچه د یو ټولیز لارښود او مالوماتي سرچینې په توګه، د پانګه والو او تمویلونکو نهادونو د جلبولو له لارې د اقتصادي او ټولنیزې ودې او پرمختیا لپاره لاره هواروي.
دغه پروفایل کولای شي د ولایت د ماضي او راتلونکي په هکله یو ریښتینی انځور وړاندې کړي او په اغیزمن ډول سره، د دقیقې پلان جوړونې او پانګونې لپاره لاره هواره کړي. د ولایتونو پروفایل د ولایت د شته پرمختیایي حالت تر څیړنو او ارزونو وروسته له دولتي ادارو، ولایتي شوراګانو، د مدني ټولنې نهادونو، کارپوهانو، ښځو، د پوهنتونونو د ښوونکو سره په مشوره کې جوړ شوی دی. باید اعتراف وکړو چې د یو تخنیکي او مسلکي ټیم په نه شتون کې، د داسې یو پروفایل جوړول ګران او حتی ناشونی وو. له همدې امله، د ولایتي پروفایل جوړولو په موخه یوه تخنیکي کمیټه جوړه شوه چې د طرحې او توحید لوی ریاست د ولایتي چارو تخنیکي کارکوونکو په کې ګډون کړی وو او د سیمه ییزی حکومتوالۍ ( لوګو) پروژې د سلاکارانو په همکارۍ او د طرحې او توحید لوی ریاست تر مشرۍ لاندې تر سره شو. له همدې امله اړینه ګڼم چې د طرحې او توحید لوی ریاست او کمیټې له رئیس ډاکټر میرویس بهیج ، د ولایتونو د اقتصادي فعالیتونو د انسجام له آمر ښاغلي عبدالرحمن کمین، د پلان جوړونې چارو سلاکار ښاغلي سمیع الله ناظمي او د ښاغلی میر عثمان حسن خیل دپکتیکا ولایت داقتصاد درئیس ، څخه په ځانګړې توګه مننه او قدرداني وکړم چې په خپلو هڅو او زیار سره یې د یاد پروفایل د جوړولو لپاره لاره هواره کړه.
همداډول، د ولایتي مسئولینو او کارکوونکو له همیشنۍ همکارۍ څخه چې په دې برخه کې یې زموږ سره همکاری کړې، مننه کوم.
داسند په اته فصلونوکی جوړشوی دی چی دولایت دمعرفی او پیژندنی په شمول دولایت اقتصادی ظرفیتونه ، دخلکو دژوندانه وضعیت، تولنیز اوکلتوری بنسټونه، دولایت پرمختیایی وضعیت، دپانګی اچونی وضعیت، دولایت په کچه پرمختیایی بودجه او لګښت ،دنادولتی موسساتو دفعالیت څرنګوالی ، اقتصادی او تولنیزو مهمه شاخصونه او دافغانستان لپار دبنسټیزو پراختیایی موخو په هکله معلومات را تول شوی دی .
هیله من چې دغه پروفایل به وکړای شي د عامه هوساینې او افغانستان د شریفو خلکو د سوکالۍ په برخه کې ګټوره او اغیزمنه ونډه ولري.

**محمد اسماعیل رحیمي**
**داقتصاد وزارت مسلکي معین**

# د والي پیغام



د ملي ستراتیژیو او تګلارو سیمه ییزه کولو لپاره مهمه ده، چې سیمه ییزې او ولایتي ستراتیژۍ ګانې رامنځته شي، تر څو ملي موخې او برنامې په موثره بڼه پلې شي او د عامه خدمتاتو د عرضې کچه لوړه شي.
پکتیکا د هیواد له سرحدي او سترو ولایتونو څخه ګڼل کیږي، چې لـه کـوزې پښـتونخوا سره ۳٦٥ کیلومتره ګډه پوله او پراخ نفوس لـري او لـه دې سره سره د هیـواد پـه کچـه د نفتو پنځمه لویه حوزه شمیرل کیږي، همدارنګه پکتیکا ولایت د قوي قومي جوړښتونو په اساس ځانګړی نوم او شهرت لري چې زیاتره پریکړې یې په همدې اساس دي، نو یقینا چې د دې ولایت څخه د ارقامو او معلوماتو را ټولول به هم د ملي پروګرامونو پـه تحقق کـــې او هم د ولایـــــتـــــي ستراتیژیو او پلانونو په تهیه کولو کې موثــر واقـــع شـــــي.
خوښ یو، چې په ۱۳۹۷ کال کې مو د دوم ځل لپاره د پکتیکا ولایت ولایتی پروفایل جوړ کړ، په دې سند کې مـو هڅه کړې چې د هغو ارقامو او معلوماتو پر مټ چې د پکتیکا په ولایت شتون لـری د ولایـت د پرمختـګ د یقینـي کولـو لپاره اوږدمهاله موخې او متوقعه پایلې وټاکوچی ترډیره حده خپل هدف ته رسـیدلی یـو ولـی دنویـو او تـازه ارقـامو ،عـدادو او معلوماتو په موخه داقتصادریاست له لوری د دغه نوی پروفایل په مټ په وکولای شـو چـی خپلـو ټاکـل شـویو هـدافو تـه لانږدی شو.
دغه پروفایل، چې دلایت په کچه هراړخیز معلومات په کی شتون لری په کم وخت کې پـه ښـه بڼـه چمتـو شـوی دی.
خوښ یم چې له دې سند سره په پوره همغږۍ د پکتیکا ولایت د پروفایل په جوړولو هم بریالي شو.
دا پروفایل مو هم له ټولو ذیدخله جوانبو (ولایتي شورا، قومي مشران، مخور، دیني علماء، مدني ټولنو او ځوانانو) سره تر پرلپسې ناستو او جلسو وروسته ترتیب کړی.
هیله من یم، چې د دغه سندپه اساس و وزارتونه ملی او بین المللی ټولنی په پکتیکا ولایت کی خپلی برنامی ترتیب او پلی کړي .
د بامنه او پرمختللي افغانستان په هیله

**محمد الیاس وحدت**

**د پکتیکا والي**

# لنډیز

اقتصادي وده او د هیواد په کچه انډولیزه پراختیا د حکومت له اساسی لومړیتوبونو ګڼل کیږی. د یوی واقعی ملي اجنډا په توګه حکومت هڅه کړی څو د نړیوالی ټولنې په مالی او تخنیکی مرسته یادی موخی ته رسیدنه یقینی کړی. د تیری یوی نیمی لسیزی هڅو وروسته که څه هم په ډیری برخو د پرمختګونه تر سترګو کیږی اما لا هم ډیر څه ته اړتیا لیدل کیږی.

دا چی متوازن پرمختګ د واضحو تګلارو او مشخصو پالیسیو شتون لپاره اړین بلل کیږی او د تیرو څو کلونو تجاربو ښودلی چی پدی برخه کی د دقیقو احصائیوی ارقامو او کره معلوماتو نشتون په ملی کچه جدی ستونزه وه، په ځانګړي ډول د ولسوالیو او لری پرتو سیمو. اقتصاد وزارت د وظیفوي مسؤولیت له مخی تل هڅه کړی څو د مختلفو مراجعو ارقام جمعآوری او د پراختیائي ستراتیژیو په جوړولو کی ورڅخه ګټه پورته کړی. بی له شکه دقیقه احصائیه سربیره نه یواځی دا چی د سرچینو د بیځایه مصرف مخنیوی کوی بلکه د اقتصادی او پراختیائي برنامو د موثریت لامل ګرځی او همداراز متوازن پرمختګ یقینی کوي. د ارقامو او معلوماتو اهمیت ته په کتنه، پدی وروستیو کی اقتصاد وزارت ولایتی څانګو ته د ولایتی پروفایلونو جوړولو لارښوونه کړیده. ولایتی پروفایلونه به د سکتور په کچه تحلیلی ارقام او معلومات ولری څو پر مټ یی پالیسی سازی اداری د معلوماتی بستو (ډیټا بانک) په حیث د هغی څخه د پراختیائي پلانونو او برنامو په جوړولو کی کار واخلی.

د ننګرهار ولایت پروفایل د یوی مشورتی پروسی له لاری د ټولو ذیدخلو خواو سره په ګډه همغږۍ د سکتوری ادارو د ارقامو او معلوماتو په اساس جوړ شویدی. هڅه شویده څو د معتبرو دولتی اسنادو او مراجعو څخه دقیق او کره معلومات راجمع، تحلیل او په پروفایل کی ځای پر ځای شویدی. د هر سکتور تیر حالت ته لنډه کتنه شوی او فعلی وضعیت یی په ډیر ښه ډول تشریح شویدی. کرهنه او د کلیو پراختیا، پوهنه، کلتور، رسنی او سپورت سکتور، عامی روغتیا او تغذی، اقتصاد او خصوصي سکتور، د بنسټونو او طبعی زیرمو او ټولنیز خوندیتوب سکتورونه د عمومی جغرافیائي موقعیت او دیموګرافیک معلوماتو سربیره په دغه سند کی په کلی ډول څیړل شویدی. تمه ده د ننګرهار ولایت اړونده اداری به د یاد پروفایل له معلوماتو څخه د اقتصادی او پراختیائی ستراتیژیو، برنامو او پروژو جوړولو په برخه کی ګټه واخلی.

## میتودولوژي(د جوړولو طریقه):

د ولایت پروفایل د یوې منظمې او څرنیزې طریقې پر بنسټ، د ولایت د شته حالاتو په هکله مالوماتو راټولولو په موخه، د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، ملي لومړیتوبونو پروګرام او افغانستان د دوامداره پرمختیا پروګرام موخو او شاخصونو ته په کتو، ترتیب شوی دی.

د پروفایل جوړولو لپاره، لومړی د اقتصاد وزارت د طرحې او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا، د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو کاري ټیمونو ته د پروفایل جوړولو او ارقامو غونډولو لارښود ورکړل شو تر څو ټاکلو شاخصونو ته په کتو، د ولایتونو په کچه ټول شته ارقام راټول شي او د هغوی په رڼا کې د ولایتونو پروفایلونه جوړ شي. تر هغه وروسته، د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو کاري ټیمونو، په ولایتونو کې د مېشتو سکټوري ریاستونو په همکاري اړین مالومات د ولایت په کچه له بیلابیلو باوري څېړنیزو مراجعو او سرچینو لکه د احصائیې ریاست او نورو دولتي نهادونو، خصوصي سکټور، داخلي او بهرني نادولتي مؤسسو، مدني ټولنې له نهادونو او نورو باوري مراجعو څخه د یوې پوښتنپاڼې له لارې راټول کړل او د ولایتي پروفایل په نامه یې یو واحد سند جوړ کړ.

پر دې سربېره، د ارقامو راټولولو او مالوماتو تر لاسه کولو په برخه کې، له ذیدخله اړخونو او پوهانو سره د ډله ییز کار او مرکو له طریقو څخه هم کار واخیستل شو. همداډول، د دې سند جوړولو په کار کې د باوري ملي او نړیوالو سرچینو او مأخذونو لکه د افغانستان د خلکو د حالت سروې، د ملي لومړیتوبونو پروګرام لنډیز، د ولایتونو د مالي مسئلو او بودیجې په اړه د مالیې وزارت ولایتي پروفایل، په ولایتونو کې اقتصادي طرحې او شته بل القوه ظرفیتونو، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، د اقتصادي او ټولنیزو شاخصونو ټولګې او د افغانستان د دوامداره پرمختیا له موخو څخه هم کار اخیستل شوی دی.

په پای کې باید ووایو چې یاد سند، د طرحې او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا په دقیقه توګه کتل شوی او مطالعه شوی او له مخکې ټاکل شویو شاخصونو او معیارونو پر بنسټ، د څېړکو او مندرجو ارقامو تر پرتله ییزې بیاکتنې وروسته چاپ ته سپارل شوی دی. دغه سند د یو ریښتیني بنسټ په توګه، د شته حالاتو ارزونه په سمه توګه وړاندې کوي او د ولایت د پرمختیایي پلان جوړونې د بهیر لپاره هم اسانتیا برابروي. همداډول، یاد سند پانګه وال او پرمختیایي همکاران هڅوي تر څو د پانګونې او دوامداري پرمختیا د سمون په برخه کې رغنده او اغیزمنه ونډه واخلي.

## د دغه سند پیژندنه

پروفایل په هره برخه او هرسکتور کې د یوه ولایت د موجوده اقتصادي او اجتماعی وضعیت د څرګندونی هنداره ده چه له مخی یی د ولایت موجوده فرصتونه او راتلونکې لپاره اړتیاوی او نیازمندی بیانیږی او دهغی د حل لپاره یی د وخت شرایطو ته په کتو تدابیر سنجول کیږی. له دی کبله دا پروفایل ددی ولایت د اړونده اداراتو په همکاری ترتیب شوی چه په هر سکتور کې د موجوده فرصتونه او نیازمندی ښودل شویدی ، چه البته دا نیازمندۍ ددی ولایت په کالنیو او ستراتیژیکو پلانونو کې هم په سکتور وار ډول په ګوته شوی او لوړو مقاماتو ته د منظوری او پلی کیدا لپاره استول شويدي. پاتی دی نه وي چه یاد پروفایل د اقتصاد وزارت لوړ مقام د رهنمود سره سم ترتیب شو، مخکی یادونه وشوه چه دا پروفایل ددی ولایت اړونده سکتورونوپه همکاری ترتیب شو خو په تاسف باید ووایو چه پدی برخه کې د روعتیا ، کرهنې او مالداری ریاست او امنیت سکتور مسولینو د بار بار غوښتنو باوجود هم ونه کړای شوه چه موږ ته معلمومات ارایه کړی او ناچار مو د تیرو کالونو ارایه شویو ارقامو څخه په استفاده ترتیب کړ امید دی چه د منلو وړ مو وګرځي

# لومړی څپرکی

## دپکتیکا ولایت لنډه پيژندنه

د دپکتیکا دتسمیې وجه: پکتیکا د ګران هیواد سهیل ختیځ ته پروت ولایت دی چې میشتو وګړو یې د تاریخ په اوږدوکې د هیواد په جوړښت او دفاع کې ټاکوونکې ونډه لرلې ده.
جغرافیایی موقعیت: د پکتیکا ولایت شمال اوشمال لویدیځ ته غزني، د سهیل لویدیځ په یوه څنډه کې یې د زابل ولایت او همدارنګه بلوچستان ایالت موقعیت لري، سهیل اوسهیل ختیځ ته له شمالي اوسهیلي وزیرستان سره اوږده پوله لري او شمال ختیځ ته یې د پکتیا او خوست ولایتونه پراته دي.
نومړی ولایت د ډیورند فرضي کرښې سره ۳٦۰ کیلومتره اوږده پوله لري اومساحت یې ۱۹۵۱۵٫۹ کیلومتره مربع دی.
پکتیکا ولایت د جغرافیایي موقعیت له پلوه دعرض البلد ۳۱٫۵۹ او طول البلد په ٦۹٫۵٤ درجوکې موقعیت لري.
د پکتیکا ولایت د اقلیم له اړخه په اوړي کې تود او د تودوخي درجه یې د سانتي ګرید تر۳۵ درجو پورې رسیږي اوپه ژمي کې یې هوا سړه وي چې د یخنۍ درجه یې بیا ترمنفی ۲۰ درجو د سانتي ګرید پورې هم رسیږي.
د پکتیکا ولایت د هیواد له دویمه درجه ولایتونو څخه ګڼل کیږي.

## اداري ویش

پکتیکا ولایت د اداري ویش له اړخه د مرکزسربېره ۱۸ ولسوالۍ لري چې نومونه یې په لاندي ډول دي:

۱. یوسف خیل ولسوالي
۲. زرغون ښار ولسوالي
۳. متاخان ولسوالي
٤. یحی خیل ولسوالي
۵. جانی خیل ولسوالي
٦. ګومل ولسوالي
۷. سروبي ولسوالي
۸. ارګون ولسوالي
۹. زیړوک ولسوالي
۱۰. نکه ولسوالي
۱۱. ډیله ولسوالي
۱۲. خوشامند ولسوالي
۱۳. وازه خوا ولسوالي
۱٤. تروي ولسوالي
۱۵. سرحوزه ولسوالي
۱٦. ورممی ولسوالي
۱۷. برمل ولسوالي

خروټي، ځدراڼ، وزیر، اندړ، سلیمانخېل او تاجک یې مشهورقومونه دي، د کلیوشمیریې تقریباَ ۲۳۷۰ دی اود مرکز په ګډون یې هره ولسوالۍ قومي شورا لري.

| ګڼه | د ځمکې ډول | اړونده ولسوالۍ | زراعتي ساحې |
|---|---|---|---|
| ۱ | هموارې ځمکې | مرکز ښرنه، متاخان، یوسف خېل، یحیی خېل، زرغون ښار، جاني خېل، ډیله خوشامند، وازه خوا او تروې ولسوالی | کرنیزې ځمکې او پراخې دښتې لري |
| ۲ | نیمه غرنی | اورګون، برمل، سروبي، ورممی | ځنګلي سیمې |
| ۳ | غرنی | ګیان، زیروک، نکه، چاربران، ګومل | ځنګلي سیمې |

## د پکتیکا ولایت د ځمکی حالت او سرچینې

### طبعي منابع:

#### طبعي منابع:

د پکتیکا په ولایت کی چې (کرومیایت، مرمر ډبره، د ډبرو سکاره او نفت) معدنونه تثبیت شوي دي ولې تردې مهاله پدې برخه کې هیڅ کوم کار ندی ترسره شوی.

**۱- دګټواز دګازو او نفتو حوزه:**

دکټواز دګازو او نفتو حوزه، یوه مشتره نقطه د یحیی خیل، زرغون شهر، جانی خیل او خوشامند ولسوالیو ترمینځ ده دچې دمرکز شرنی جنوبی لورته موقیعت لری. ددی حوزی مساحت ٤٠ زره کیلومتر مربع او داحجارو رسوبی ضخامت یې ٦ متره ته رسیږی.

په ۱۳۷۴ میلادی کال کی دکټواز دنفتو او ګازوحوزی قرارداد له فرانسوی توتال کمپنی سره د دملی نفتو د اداری له لوری ترسره شوی وچې دقرارداد له مخی د توتال کمپنی مسولیت درلود چې د دوه میلونه امریکالی ډالرو په بدل کی جیولوجیکی څیړنی ، اکتشاف او تشخص تر دوه نیموکالونو پوری بشپړه کړی ولی یاده کمپنی د یوشمیر لومړنیو تحقیقاتو نه ورسته دنامعلومو دلایلو په بنا لاس په سره شوه چې دمعادن وزارت ته یې دری لکه ډالر وسپارل .

**۲- دګومل نفت:**

دګوملی نفت د امریکایی جیولوجیستانو له لور د (دریبو خوندو) په منطقه کی تثبت شوی دی او دا اټکل یی کوی دی چې په یاده منطقه کی دنفتو پریمانه ذخایر شتون لری ،ولی تردی مهاله ورباندی کوم عملی کارنه نه دی ترسره شوی .

**۳-اوبه :** پکتیکا ولایت په زیاته اندازه اوبه نلري او کومې چې لری تر اوسه پورې ورڅخه موثره توګه ګټه ندی پورته شوی او په مختلفو ساحو لکه شرنه ،سروضه ، ارګون ، سروبی او ګومل ولسوالیوکی د زخیروي بندونو د جوړول امکانات شته، لوی زخیروی بندونه لکه دپلتو بید ،زامی بنداو ګوملی بند چې دزیاتی زخیر وړتیالری.

**۴ځنګلونه:** دپکتیکا ولایت اکثره برخی په طبعی مثمرو اوغیر مثمروونو، بوټو اوګیاوو پوښل شوی دی چه نوموړی ولایت ته یې یوه طبعی ښکلا وربښلی ، د اهلی ، وحشی حیواناتو او مرغانو لپاره یې یو لازم اومناسب بستر جوړ کړی ، دسیلابونو د راتګ مخنیوی کوی او د دی ولایت اونورمملکت داوسیدونکو لپاره دسون او تعمیراتی لرګیو برابرول اوهم درنګارنګ میوولکه جلغوزی ،شنیې اوداسی نورحاصلات پکی پیداکیږي. دپکتیکاولایت ښیرازه ځنګلونه دجلغوزی، نشتر ،شنی ،ارچې ، بلوت ،بشته اوداسی نوروونو څخه تشکیل شوی دی همدارنګه هغه بوټی کوم چه په دوا

اونورو کارونو کی دارزښـــت وړدی لکه ځیره ،قوری ، خوژولی ، خمزوری ، پنبی ، رواشي اوداســی نور پـــکی پـــیداکیږي اوهغه وحـــــشی حیوانـــات چه دپکتـــــیکا ولایـت په ځنـــــګلونو کی اوسیږی لــــــکه هوسی،لیوان،ســحرایچرګان ، زاڼی ،زرکــی ، سویي ، سیسی اوداسی نور . دپکتیکا ولایــت ځنـــــګلونه اوپه هغه پوری اړونده بوټــی اوحیوانات هم دنورافغانستان په شان ددریو لسیزو ناخــوالو اوجنګونو ښـخه په امن نه دی پاتی ددنګو نـــښترو په نازکـــــــــــــــو ملاو دظـــالمانو دتـــبرونووارونه زغملی اوددیرو مــــــــلاویي ورماتی کړی دی بی قــــانونه شــــــــــکاریانو دتولوځــــنګلی ژوودژوندمحیط په خپلوبی قانونه استـــــــفادوله منځه وړی .
خوخوشبختانه لاتراوسه دغیرتی قومونواوډیروقبیلو یي دحفاظت لپاره دهمـت ملاتړلی دهغوی حفاظت کوی دلوړو غرونو په سریي هم دعزت اوهمت نښتر جګی غاړی نیولی اوخپل ژونـــــد ته ادامه ورکوی اګر چه دوامداره وچکالی هم ددی ناورینونو یوه برخه جوړوی اوډیر بد اثـــــرات یي په دی برخه کـــی واردکړی خوبیا هم که لازم تصمیمونه اومناسب اقدامات وشی ددی قیمتی اوارزښــــــــتناکه نعمت دساتنی اوبیرته راژوندی کولو لپاره به موخه کړی وی اوکه خدای مه کړه بی پروا پاته شو نو نه جبرانیدونکی خـــــساری به ددی ملک موجوده او اینده نسلونوته ورواوړی ددی لپاره چه کومی لاری چاری بایدپه کارواچول شی ترڅوددی طـــبعی ښکلا، نعمت اومنابعو ساتنه وشی.

| شماره | موقعیت | بندونه | دګټه اخستونکوفامیلونو تعداد | کـلی | دخړوبیدوساحه په هکتار |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مرکز | پلتو | ۳۰۰۰ | تورمخی | ۹۰۰۰ |
| ۲ | ارګون | زامه | ٤٨٠٠ | زامه | ٥٠٠٠ |
| ۳ | ګومل | ماماپورګوملی | ۳۷۰۰ | کومل | ۲۳۰۰ |
| ۴ | مرکز | پارک بند | ۳۲۰۰ | پارک | ٢٦٥٠ |
| ۵ | سروضه | سلطانی داوبوبند | ۸۰۰ | سلطانی | ۱۵۰۰ |
| ٦ | خیرکوټ | پاینده خیل | ۱۸۵۰ | | ۲۸٦۰ |
| ۷ | ارګون | چانه عمبروان | ٥٦٠ | چانه خواعمبروان | ۳۰۰۰ |
| ۸ | سروضه | بنده کی | ۲۰۰۰ | سروضه | ۱۵۰۰ |
| ۹ | ګومل | ژمنتوی بند | ۲٤۰۰ | ژوره | ۳۲۰۰ |
| ۱۰ | چاربران | سپینه لیګڼ | ۲۰۰۰ | سپینه | ۲۱۰۰ |
| ۱۱ | یوسف خیل | پارک | ٤٠٠٠ | برات خیل | ۳٦۰۰ |

## د پکتیکا ولایت سکتوري جوړښت




## د پکتیکا ولایت قومی جوړښت

پکتیکا ولایت یو ځانګړی او قوی قومي جوړښت لري، پکتیکاوالو خپل قومي جوړښت په تاریخي لحاظ او بیا تر ننه په کم او زیات تغیر سره ساتلی دی. څرنګه چې قومي جوړښتونه زمونږ د ټولنې د پایښت او ټینګښت بنسټونه دي ، نو پدې اساس سره زمونږ میړنیو ولسونو د پښتونوالی دغه چوکاټ ټینګ ساتلی او پاللی. د پکتیکا اکثریت اوسیدونکي پښتانه دي، په پښتو خبرې کوي او د دې ترڅنګ ډېر لږ شمېر تاجیک هم په پکتیکا ولایت کې اوسیږي، چې دوی هم ځانونه کلک افغانان او د دې خاورې اصیل بچیان بولي. دوی ځانته کلک  پکتیکاوال وایي او د پکتیکا دنورقومونو په شان هروخت په غم او ښادیو کې یو ځای برخه اخلي.

**دپکتیکا قومونه:**

په پکتیکا ولایت کې لاندې لوی قومونه او کوچنۍ قبیلې مېشتې دي:

- ✓ سلېمانخېل
- ✓ خروټې
- ✓ علي خېل
- ✓ ځدراڼ
- ✓ وزیر
- ✓ اندړ
- ✓ اورگوني
- ✓ سلېمانځی
- ✓ دېگان

په پکتیکاکې لوې قبیلې لمړی سلېمانخېل اوبیاخروټې دي چې سلېمانخېل یې ډیری په کټوازکې اوخروټې قوم یې په سرروضه، سروبی، اومنه، چهاربران، گومل، برمل، شکین او اورگون ولسوالي کې استوگن دي. اورگوني قوم یې یوازې په اورگون کې دخروټو او ځدراڼو سره یوځای مېشت دي. ځدراڼ یې په گیان، زېروک، نکه او اورگون کې ژوندکوي. علي خېل يې په مرکزښرنه او یوسف خېلوکې. اندړ یې په مرکزاو متاخان کې او همداشان دېگان یاتاجک قوم یې یوازې په مرکز، او وزیر یې یوازې په برمل او شکین کې اباد دي. اوهمدارنگه کوچیان یې په بېلابېلوسیموکې ژوندکوي.

**وجه تسمیه:**

دهرودوت په تاریخ کې ، پکتیکا دکلیمې، پکت او پکتیانو په اړه داسې استدلال شوی دی چې، دآریائیانو هغه قبیله چې، دمهاجرت پرمهال دارمنیستان په سیمه کې میشت شوه خپله قبیله یی دپکتیس ـ پکتویس او دهغې خاورې چې، دوی پکې میشت وو او ژوند یی کاوه، هغه یی دپکتیکا په نوم پیژانده.

دپکتیکا ولایت، دافغانیستان دنورو لرغونوولایتونو په څیر،یولرغونی ولایت دی چې، ډیرې لرغوني سیمې لري او که څېړنې پکې په ښه توگه تر سره شي، نوپه دغه ولایت کې به دتیرودورو دخلکوکلتور،ثقافت او تهزیب راڅرگندې شي.

**تاریخی آبدات (ځایونه)**

په پکتیکا کې ډېرتاریخي ځایونه شتون لري، چې له دې جملې څخه دپکتیکا ښار ختیځ ته پطنه غونډۍ یادولی شو چې دغه غونډۍ داسلام نه وړاندې د زمردوخت تاریخ لري او د پخوانیو خلکو له قوله ویل کېږي چې په دې غونډۍ دپطنې په نامه یوې مشهورې مېرمنې قبیله اباده وه، او دحضرت علی (رض) په راتگ سره له دې ځایه څخه داسلام خورېدل پیل شول. دې ته ورته دپکتیکا ولایت په نوروسیموکې هم تاریخي ځایونه شتون لري، چې دگومل ولسوالۍ هم ډېره مشهوره ده اودخروټو دقوم له پیدایښت سره تړاو لري ځکه چې گومل دټولو خروټو (مور) ده اوله همدې ولسوالۍ څخه دخروټو د نسل شجره راپیل شوېده. دسیمې یولیکوال وایي،چې دگومل په اړه دسلطان محمود غزنوي په وخت کې دفوځ د یوه افسر په سر یوې مېرمنې دگومل په اړه دا ټپه هغه وخت ووېله چې خاوندیې دهندوستان دفتح کولو لپاره تللی ؤ او دغه افسر خالو نومېده.

که دخالولښکرې راغلې زه به گومل ته دخپل یاردیدن ته ځمه

دپکتیکا ولایت هم ،زموږ دگران او لرغوني هیوادافغانیستان له ولایتونونه یو لرغوني ولایت دی چي، ډیري لرغوني سیمې يې له اسلام نه دمخه اووروسته دورو پوري تړاو لري. لرغوني پکتیکا دافغانیستان په سهیل ختځ کي موقیعت لرې چي، پخوا نوموړی ولایت په لویې پکتیا پوري تړلی وو. اوس مهال ، دپکتیکا ولایت یو خپلواکه واحددي چي، دسهیل ختیځې سیمې څلورم ولایت تشکلوي.

دپکتیکا ولایت شمال خواته دپکتیا او غزني ولایتونه ، سهیل ختیځ خواته یی دپښتونیستان اړوند سیمې (دتوچي حوزه ، میرانشاه اووڼه) اولودیځ ته یی دغزني اوزابل ولایتونه پراته دي اومرکز یې دښرنې یا (شرنې) ښار دي

پوهان او تاریخ لیکونکي دپکتیکا کلیمه دآریائیانو له هغو قبیلو څخه دیوې قبیلې په نوم پوري تړلي بولي، کوم چي ۲۵۰۰ کاله مخکې فله زیږدیزه دآمو سیند له اخوا غاړې نه باختر خاورې ته او بیادخوپیړیو له تیریدو وروسته، یاني ۲۰۰۰کاله مخکی له زیږدیزه، دهندوکوش سهیلي سیموته او بالآخره ځیني قبیلي یی دسیند پنجاب ،هند اوایران ته مهاجرې شوې. له هغو قبیلوڅخه چي، پرته موتري یادونه وکړه ، هغه هم دپکت او پکتیانو قبیله وه،کومه چي ، هغه مهال په ننې پکتیا او پکتیکا کي میشت شول او دخپل ژوند او ژوندانه مختلیفي چارې يې، په همدې سیمه کي پیل کړي او پرمخ یی بیولې.

اوس مهال په پکتیکا ولایت کي همدیر ی لرغوني سیمې چې، له اسلامي دوري څخه دمخه او وروسته پوري تړاو لري، شته دي چي ، دوروستیو دریو لسیزو په جنگ جګړو کې ددغه ولایت لرغوني سیمې له پامه لودلي او کیندني او سپړني پکي نه دي تر سره شوي .نوموړې سیمي دروانو ناامنیو له امله ، هم تر اوسه پوري ددغه ولایت داصلاعاتو اوفرهنگ ریاست ته په بشپړه توګه څرکندي نه دي او تر اوسه پوري له دغه اداري سره په بشپړه ډول ثبت او راجستر شوي نه دي.

هغه معلومات چې، ددنوموړي ولایت داطلاعاتو او فرهنگ ریاست، په کابل کي دلرغون پیژندني دریاست او همدارنگه دنورو علمی ـ څیړنیزو ارگانونو نه تر لاسه کړي، دهغه لرغونو سیمو په اړه دي چې، نوموړي سیمې دسیمهییزو خلکو او لرغون پوهانو له خوا څرکندي شوي او لاتر اوسه پکې کیندني ندي شوي چې، په کوم تاریخ، دوره، عصراو زماني پوري تړاو لري، دهغوئ نه په لاندي ډول یادونه کوم.

**۱ـ زرغون ښار:** دغه لرغوني سیمه دکتواز دجاني خیلو دکلي په لس کلو متری کي، دختییځ طولالبلد په ٦٨درجو، ۲۵دقیقواو۱۷ثانیو او دشمالي عرض البلد په ۳۲درجو، ۵۱دقیقو او ٦ثانیو کې واقع دی چې، نوموړې سیمه پخوا دلویې پکتیا په ولایت پوري اړه اړونده سیمه وچې، دوخت په تېردو او په وروستیو دریو لسیزو کې دغه سیمه دپکتیکا ولایت پورې چې، په سهیل ختیځ کي یو نوي واحد وو، اړونده شوه.

**۲ـ دوه چینه :** دوه چینه داداري تشکلاتو له نظره ، دپکتیکا ولایت دوړمې ولسوالۍ پورې اړونده سیمه ده چې، یوشمېرلرغوني سیمې لري . له نوموړو سیمو نه هم زه په لاندي ډول یادونه کوم.

**۳ـ دخزانې غونډۍ:** (خزانه غونډۍ ) دغه سیمه دوړمۍولسوالۍ په پنځه کیلو متری کې پرته ده چې، دوړمۍ ولسوالۍ سهیل ختیځه سیمه تشکلوي . دغه سیمه دخپل سرو کسانو له خوا په ناقانونه توگه کیندل شوې ده او ډیر لرغوني آثار يې غلا کړای شوي او بیا له هیواد څخه بهر په بازارونو کې په ډیره کمه بیه خرڅ کړای شوي دي. له دغې سیمي نه چې، کومې دکودرو ټوټې لاس ته راغلي دي ، هغه لرغون پوهني له نظره ، په اسلامي دورې پورې تړاو لري.

**۴ـ ریزن غونډۍ:** دغه لرغوني سیمه دوړمۍ ولسوالۍ اړوند ه سیمه ده او دنوموړي ولسوالۍ په ختیځه برخه کې پرته ده ۴۰«۴۰ مربع متره ځمکه يې نیولې ده . دکودرو له هغو ټوټو نه چې، له دغې سیمې څخه تر لاسه ته راغلي ، داسې څرکندیږي چې ، نوموړې سیمه هم په ا سلامې دورې پورې اړونده ده.

**۵ـ سفینه غونډۍ:** دغه لرغوني سیمه دریزن غونډۍ په ۵ کیلو مترۍ کې پرته ده او ۱۵۰متره مربع ځمکه یې نیولې ده . هغه آثار چې، له نوموړې غونډۍ څخه لاس ته راغلي ، عبارت دي له هغو خښتونه نه چې، پلنوالی یې ۷ سانتي متروته رسیږي او دکودرو دلوښو ټوټیې په اسلامي دور پورېاړونده دي او په یو ځانګړي هنري سبک سره ښکلې کړی شوي دي .

**٦ـ بنوچي کلی:** دغه لرغوني سیمه دورمی ولسوالی ۳۵ کیلو مترۍ کې پرته ده شمال ته یې دکرل سرک او سهیل او ختیځ ته یې سراکوټ پروت دی. دغې لرغوني سیمې ۲ـ۲ کیلو متره مربع ځمکه یې نیولې ده په دغه سیمه کې په لوړه کچه نا قانونه کیندني شوي دي.

۷ـ ددوه چینې: دبازار په لویدیځ کې یو لړ نوري لرغوني سیمې هم شته دیچې، په نومړو سیمو کې هم ډیرې ناقانونه کیندني شوي دي.

**۸ـ دسخا سیمه:** دغه لرغوني سیمه داورګون سهیل خواته چې، دپکتیکا ولایت پورې اړونده ولسوالی ده په ۱۰ کیلو مترۍ کې پرته ده دغه سیمه په ۴۹درجو ۳۲دقیقو شمالي عرض البلد او ۷درجو او ٦۹ دقیقو ختیځ طول البلد کې موقیعت لري . ددغې سیمې دکودرو مطالعه په ۱۹۸۰ زیږدیز کال کې د( ګردن اولیونیت)له خوا تر سره شوه ددوئ دمطالعې نه دغه نتیجه منځ ته راغله چې، دسخا لرغوني سیمه دهندوشاهي او ترکوـ شاهي دوروپورې چې ، له اتمې نه تر لسمې پېړیوپورې رسیږی تړاو لري.





**۹ـ دپتني غونډۍ:** دپتني غونډۍ دپکتیکا ولایت له هغو لرغونو سیمو نه ده چې ، ددغه ولایت مرکز یانې دښرنې (شرنې) ښارکې پرته ده او همدا اوس مهال ، دملي اوردو یوه پوسته پکې پرته ده .

**۱۰ -ـ دپلتو پل:** دپلتو پل یو دلرغونو پلونو حخه ده چې و له ډیرو پخوانیو پلونو څخه۹ شمیرل کیږي او دپکتیکا ولایت په مرکز ، دښرنې په ښار کې موقیعت لري . نوموړی پل هم له لرغونو سیمو نه کڼل شوی ده.

**۱۱ـ جمجمې دکلي لرغونی غر:** دغه غر دوازیخوا (وازیخوا) ولسوالی دجمجمې په کلي ګې موقیعت لري . په نوموړې غره کې کیندل شوي عکسونه او انځورونه لیدل کیږي چې، په دغه سیمه کې کیدای شي تاریخي او لرغوني آثاروموندل شي .که ددغه غره تصویرونه دلرغون پوهانو له خوا وځیړل شي نو کیدای شي چې ، ډیر هغه څه راڅرګند شي چې ، ددغې سیمې دتاریخ په راڅوندي کولو کې باارزښته وي.

همدا راز دخیر کوټ (زرغون ښار ) ولسوالی دسیګاني په کلي کې بیل بیلې تاریخي او لرغوني سیمې شته دي چې ، اوس مهال دهمدې سیمې دمیشتو وګروکرهنیزې ځمکې دي .په دغو ځمکو کې دکرهنې او کار پرمهال دځمکې دخاندانو له خوا ډیر زیات شمیر لرغوني آثار لاس ته راغلي چې ، دسیمې دخلکو په وینا ، له همدې ځمکو نه پخواني او تاریخي لوښي دي .

همدا شان ، دپکتيکا ولايت ديوسف خيلو په ولسوالۍ کې ، دخلکو دنا قانونه کيندنو له لارې تاريخې آثار موندلي دي چې ، بيا وروسته يې له هيواد څخه بهر ته ليږدولي دي .

### د هشت رخ تاريخي كلا



**۱۱ـ جمجمې دکلي لرغونی غر:** دغه غر دوازيخوا (وازيخوا) ولسوالۍ دجمجمې په کلي ګې موقيعت لري . په نوموړې غره کې کيندل شوي عکسونه او انځورونه ليدل کيږي چې، په دغه سيمه کې کيدای شي تاريخي او لرغوني آثاروموندل شي .که ددغه غره تصويرونه دلرغون پوهانو له خوا وڅيړل شي نو کيدای شي چې ، ډير هغه څه راڅرګند شي چې ، ددغې سيمې دتاريخ په راڅوندي کولو کې باارزښته وي.

همدا راز دخير کوټ (زرغون ښار ) ولسوالۍ دسيګاني په کلي کې بيل بيلي تاريخي او لرغونې سيمې شته دي چې ، اوس مهال دهمدې سيمې دميشتو وګړوکرهنيزې ځمکې دي .په دغو ځمکو کې دکرهنې او کار پرمهال دځمکې دخاندانو له خوا ډير زيات شمير لرغونې آثار لاس ته راغلي چې ، دسيمې دخلکو په وينا ، له همدې ځمکو نه پخواني او تاريخي لوښي دي .

همدا شان ، دپکتيکا ولايت ديوسف خيلو په ولسوالۍ کې ، دخلکو دنا قانونه کيندنو له لارې تاريخې آثار موندلي دي چې ، بيا وروسته يې له هيواد څخه بهر ته ليږدولي دي .

### د هشت رخ تاريخي كلا



پکتيکا دهيواد يو له هغه تاريخي ولايتونو څخه دی چې د هيڅ ډول تاريخي سپړنې پکې نه دي ترسره شوي، د امکان تربريده دځينو تاريخي آثارو او آبدو څخه څارنه شوې او امنيتي ستونزې يې پروړاندې لوی خنډ دی. د ورممی ولسوالۍ

ځخه راپورونه رارسیدلي چې ناقانونه سپړنې کیږي امنیتي ارګانونو ته یې په اړه خبر ورکړل شوي مګر امنیتي مشکلات یې لوی خنډ دی.

## مشهورځایونه او زیارتونه

په پکتیکا کې زیات مشهور زیارتونه اوځایونه شتون لري چې په لاندې ډول دي:

- اویس قرني بابا زیارت
- باباجي صاحب زیارت
- حیات بابا زیارت
- دیوانه بابا زیارت
- غني ابا زیارت چې په ګومل والسوالی کې واقع دی
- د عبدالقدوس آغا صاحب مبارک زیارت چې دهمدې ولایت د وازه خوا ولسوالي دبرج په کلي کښې شتون لري
- کاکامبارک زیارت
- زاهدبابا او جبارنیکه زیارتونه
- سیدجلال بخاري (رح) زیارت
- میلال بابا زیارت چې په زرغون شهر والسوالی بکخیلو کی ده
- او یو شمېرنور مشهورځایونه شته

په پکتیکا ولایت کې دا مهال د اطلاعات او کلتور ریاست او یوشمیر ښوونځي کتابتونونه لري، همدارنګه ترڅنګ یې د یو شمیرفرهنګي کړیوله لوري عامه کتابتونونه هم پرانیستل شوي چې خلګ تري ګټه پورته کوي خوپه هغه کچه ندي ځومره چې لازمه او اړینه ده.

## کتابخانې:

په پکتیکا ښار او ولسوالیو کې دځینو فرهنګي کړیو له لوري وړې کتابخانې پرانیستل شوي دي، خو هغه ډول چې لازمه ده استفاده تري نه کیږي. په پکتیکا کې دا مهال د اطلاعات اوکلتور ریاست له عامه کتابتون، دپښتون غږکتابخانه ، د غازي ادبي عامه کتابتون، د ښوونځیو اولیسو کتابخانو سربېره او یوشمېر نورو وړو کتابتونونو ځخه دمطالعې مینه وال استفاده کوي.

په پکتیکا ولایت کې د پکتیکا مدني ټولنه، د پکتیکا د خپلواکو ژورنالستانو ټولنه، د پکتیکا د ځوانانو فرهنګي ټولنه، دارګون د ځوانانو فرهنګي ټولنه، د ځوانانو عالي شورا، د پکتیکا د دوکاندارانو اتحادیه، د ښرنې د قومونو د یووالي عالي شورا، غاټول ټولنه، د شکین د ځوانانو ټولنه، د متاخان د ځوانانو ټولنه او پکتیکا ادبي بهیرهم فعالیت کوي چې وخت ناوخته ادبي اوټولنیزي غونډې جوړوي اومشاعري په لاره اچوي.

## نفوس (Population)

دوګرو شمېر یې د تقریبي احصایې له مخې (۱،۰۳٦،٥٥۱) تنه ته رسیږي.

د CAAC موسسې د سروې له مخې د پکتیکا ولایت نفوس (۱۰۳٦٥٥۱) تنه ښودل شوی دی چې اوس مهال دپکتیکا ولایت دعامی روغتیا ریاست دهمکارو موسسو په مرسته صحي خدمات ورته وړاندي کوي. او د واکسیناسیون دګروپونو

دسروې له مخې دپکتیکا نفوس شاوخوا (۸۷۰۰۰۰) کسان دي، ددې تر څنګ په پکتیکا کې دکوچې قومونو پنځه ویشت زرو په شاوخواکې کورنۍ داوړي په موسم کې استوګنه کوي.

## کولتور

په پکتیکا کې هم د نوي حکومت په راتلو سره کولتوري فعالیتونه پراخ شوي، رسنۍ فعالې شوي او کولتوري ټولنې هم ورسره رامنځته شوې دي.

په پکتیکا کې دا مهال د اطلاعات او کولتور ریاست او یوشمېر ښوونځیو کې هم کتابتونونه لري ،خو تر څنګ یې د یوشمېر فرهنګي کړیو له لوري هم عامه کتابتونونه پرانیستل شوي، چې خلک ترې ګټه پورته کوي؛ خو په هغه کچه نه دي چې لازمه ده.

په یاد ولایت کې د پکتیکا مدني ټولنه، د پکتیکا د خپلواکو ژورنالېستانو ټولنه، د پکتیکا د ځوانانو فرهنګي ټولنه، د اورګون د ځوانانو فرهنګي ټولنه، د ځوانانو عالي شورا، د پکتیکا د دوکاندارانو اتحادیه، د ښرنې د قومونو یووالي عالي شورا، غاټول ټولنه او پکتیکا ادبي بهیر هم فعالیت کوي، چې وخت نا وخته ادبي او ټولنیزې غونډې جوړوي او مشاعرې کوي.

## مشاهیر

ازاد خان سلیمانخیل، سردار فتح خان، شاشی کامرانی، جنرال انګور خان فرقه مشر- جنرال دلباز خان، تورنجنرال باجانخان، جنرال میرانخان، جنرال اختی خان، جنرال شیرمحمد خان، صوبیدار رمضان خان، جنرال شاه برم خان، نایب سالار موسی خان، غونډ مشر عبدالله خان، نعمت برګټ، غونډ مشر- اصل خان، ګیلوټ آکا، جنرال یار محمد میرانی، سرور خان فرقه مشر، کیپټان فضل خان، خلیفه ګلاب شاه، ملک عبدالعلی سلطانی، وکیل محمد اسلم مشهور د ختی مداسلم، اسپ سوار توپ آکا، حاجی اصغر خان جبارخیل، شادی خان پاروخیل، حاجی پهلوان، جنرال عبدالحکیم خان کټوازی، وکیل محمد اسلم د تحصیلدار، وزیر فیض محمد خان، خیال محمد خان کټوازی، حاجی جمک آکا، وکیل رزیم خان ځدراڼ، ملک شیرخان، وکیل حاجی قطب خان، حاجی محمد یعقوب ځپونی، حاجی نیازمحمد یحی خیل، استاد عبدالقادر خان، ملک آغا محمد، باچاخان سلیمانخیل، شهید والی انجنیر محمد عمر سلیمانخیل، شهید مولوي ارسلان رحماني.

## اوسنی

وزیر امیرزی سنګین، ډاکټرامیر محمد منصوري، سلیمان لایق، محمد حلیم فدایي، محمد آصف ننګ، تکړه وزن بردار محمد الله کټوازی، ډاکټر نظام الدین کټوازی، عبدالحکیم مجاهد، ډاکټر غیرت بهیر، رازمحمد فدایی، غرغښته سلیمانخیل، والی ارسلا جمال، والی محمد اقبال عزیزی، وکیل نادرخان کټوازی، مولوی عبدالرحیم، دوکتور عزیز حکیمی، محمد قیوم کټوازی، فتح تارخیل، وکیل محمود سلیمانخیل، وکیل سرور خان، وکیل وزیر محمد کټوازی، ډاکټر فیض محمدځلاند، حبیب الله شرنوال، استاد خوارمل،

ډېرزیات دی....

## رسنۍ:

دحامدکرزي د نوي  حکومت په راتلو سره په دغه ولایت کې هم د نورو ولایتونو په څېر یوشمېر خپلواکو دولتي رسنیو فعالیت پیل کړی دی.

دا مهال په دې ولایت کې یوه دولتي او څلور خصوصي راډیوګانې فعالیت کوي. دولتي یې پکتیکا ملي راډیو او خصوصي یې ټولنه ایف ایم، پښتون غږ، پکتین غږ او مېلمه راډیو نومېږي.
پر راډیوګانو سربېره یوشمېر چاپي رسنۍ هم په کې فعالیت کوي، لکه پکتیکا مجله، فکري رغون، ښرنې جریده، ټولنه مجله، غاټول مجله او مېلمه مجله.

## صنعت:

د پکتیکا مسګران او پښان ( اهنګران ) د بزګرۍ، ترکاڼۍ او نورو چارو وسایل او لوښي لکه بېل، کلنګ، تېشه، رنده، مارتول، جبل، دیګونه او داسې نور څېزونه جوړوي، چې لا یې هم ارزښت پر خپل ځای او ګرم بازار لري.
د دې ترخنګ په دې ولایت کې ښځینه ګنډونکې هم په کار اخته دي او خپلې ورځنۍ کورنۍ اړتیاوې له همدې لارې پوره کوي.
د مسګرۍ او اهنګرۍ تر څنګ په کې نجاري، ټغر او لیمڅي جوړول هم خورا دود دي.

## کرنه:

په پکتیکا کې که څه هم چې دښتې ډېرې دي او حکومت یې خړوبونې ته پام نه دی کړی؛ خو بیا هم ٦٥ سلنه وګړي یې په بزګرۍ اخته دي. مشهور کرنیز پیدا وار یې غنم، جوار، اوربشې، مې او لوبیا دي.
پکتیکا د جلغوزیو او بادامو تر څنګ، انګور، مڼې، او زردالو هم لري. جلغوزي یې په سروبي، اومنې، ګیان، ګومل، زېروک، نکه، چهارباران او سر روضه کې موجود دي. انګور په مرکز یوسف خېل، خېرکوټ او متاخان کې په زیاته اندازه شتون لري. مڼې او زردالو یې نږدې په ټولو سیمو کې موجودې دي.
ددغه ولایت ډېرې کروندګر اوبزګران اوس دخپلوځمکو دخړوبولو لپاره داوبوایستلو له برمو(ماشینونو) ګټه اخلي او وروستیو وچکالیو د دې ولایت د مرکز او ټولو ولسوالیو ډېرې کاریزونه وچ کړي، چې په ډېره کمه اندازه کاریزونه یې اوس مهال بهېږي. له بزګرۍ سره سره یې خلک په مالدارۍ هم اخته دي.

## لوبې:

په پکتیکا کې خلک له دودیزو لوبو سربېره له نورو عصري لوبو لکه فوټبال، والیبال، باکسټبال او کرکټ هم کوي.
په دودیزو لوبو کې یې، نېزه وهل، خوسی، چندکۍ، ببړۍ، مردکي، غېږه نیول، کوله شتره، پټ پټونی، چکه پرې او کرم بوټ شامل دي.
پکتیکا د فوټبال، والیبال، او باسکټبال لپاره لوبغالي مناسب لوبغالی هم لري

# دوهم څپرکی

## د پکتیکا ولایت د انکشافی سکتورونو موجوده وضعیت :

### ۱- د روغتیا او خوړو سکتور اوسنی اقتصاد وضعیت:

دهیواد دنافذه قوانینو او ملي پراختیایي استراتیژي ترسیوري لاندې ټولو پکتیکاوالو ته ښې روغتیا زمینه برابرول،د مرکز او ولسوالیو وګړو ته په انډولیزه او عادلانه توګه د(BPHS) او IPHS) له لارې د باکیفیته یوشان روغتیایي خدماتو وړاندې کول.

دوقایې او ساري نورو ډول ډول امراضو دکنټرول په برخه کې دعامه پوهاوي دسطحې اوظرفیت لوړول،دمور اوماشوم د مړینې او سوی تغذي کموالی،دپلان له مخې په منظمه بڼه دروغتیایي مرکزونو جوړول،په وخت او زمان واکسین رسول، دعامې روغتیا وزارت دپالیسي او استراتیژي پلي کول او څارنه ترڅنګ دروغتیایي فعالیتونو همغږي کول اود میاشتنیو او ورځنیو کړنو تجزیه او تحلیل اړونده مراجعوته یې وړاندې کول یو له هغه اهدافو څخه دي چې د شرایطو پربنا دپکتیکا د عامې روغتیا ریاست د راتلونکو کلونو په اوږدو کې دپکتیکاولایت ولس ته د هر اړخیزه روغتیایي اسانتیاوې برابرلو ته ژمن دی .

د پکتیکا ولایت د عامي روغتیا ریاست د موقت دولت په پیل کی خپل روغتیایي خدمات له ډیری ټیټې کچې څخه شروع کړیدي چې په هغه وخت کی د ټول ولایت په سطحه یوازی د ګوتو په شمیر روغتیایي مرکزونو شتون درلود او ټول روغتیایي مرکزونو کې روغتیایي کارکونکي پوره نه وو او حتی داسی روغتیایي مرکزونو هم شتون درلود چې یوازی یو د ټولنی نرس به پکې شتون درلود او بس، په هغه وخت کې د خلکو لاسرسی روغتیایي خدماتو ته له ۱۵-۲۰ فیصدو پورې وو اوس مهال له نیکه مرغه روغتیایي خدماتو ته د خلکو لاس رسی له ۷۵٪ نه لوړ دی اوس مهال مونږ په ټول ولایت کی ٤۹ روغتیایي مرکزونه، ګرځنده ټیمونو او د خاصو ناروغیو روغتونونه (معتادینو روغتون) شتون لري (یو ولایتی روغتون، ۲ دولسوالی روغتونو نه، ۱ هغه بشپړ روغتیایي مرکز چې جراح او انستیزی لوګ لري، ٦ بشپړ روغتیایي مرکزونه، ۱۷ اساسی روغتیایي مرکزونه چې لابراتوار هم لري، ۹ فرعي روغتیایي مرکزونه، ۱۰ ګرځنده ټیمونه، یو د محبس روغتیایي مرکز، یو د تروما مرکز او یو د معتادینو روغتون) شتون لری.

د ۱۳۹۷ کال په اوږدو کې د عامي روغتیا سکتور اړوند (۹) لویې او تعمیراتی پروژی چې ټول لګښت یې (۱٤۹۰۲۱۸۲٥) افغانی دی تر کار لاندی دی چې دوه پروژې یې تکمیل او ګټې اخیستنې ته سپارل شویدی، د نورو کار په نورمال شکل جریان لري چې تقریبا زیاتره کارونه یې پر مخ تللي دي او په راتلونکي کال کی به انشاء الله بشپړ شي چې پدې سره به د پکتیکا میشتو وګړو یوه اندازه ستونزې حل شوي وي.

### ۲- د پوهنې، رسنیو او فرهنګ اقتصادی او ټولنیز وضعیت:

د پکتیکا والو لپاره د لومړنیو او لوړو زده کړو زمینه برابرول، د سواد زده کړې پروګرامونه منظم کول، د ټولو زده کونکو، محصلینو او ښوونکو شکایتونو ته لاس رسی، ټولو مامورینو ته په وخت سره معاشات ورکول، د تعلیمي کال په پیل کې ټولو زده کوونکو ته د نویو کتابونو او نورو اړینو توکو رسول، په منظم ډول په مرکز او ولسوالیو کې د ښونځیو د ودانیو جوړول د پوهنې وزارت د پالیسي تطبیق اوڅارنه کول، د مسلکی ښوونکو په شمیرکې زیاتوالی دغه راز په تکنالوژۍ او نورو بېلابېلو برخو کې د ظرفیت لوړول اوهمدارنګه د اسلامي تعلیماتو کچه لوړول، چاپي، غږیز، تصویري او الیکترونیکي

رسنیو (رادیو، تلویزیون مطبوعات او انترنیت) ته د خلکولاس رسی، په ټولنه کې د خپلو کلتوري ارزښتونو ساتنه اوپه یاده برخه کې د خلکو د عامه پوهې لوړول، د بهرني کلتوري يرغل مخنیوی او د افغاني کلتور پیاوړي کول، د هیواد د ملي او کلتوري ګټو د ساتنې او ارزښت په موخه د سیاست، تکنالوژۍ او د نړۍ د پرمختګونو په برخه کې ځوانانو ته روزنه ورکول، په کلتوري ټولنوکې د دوی منظم کول او عامه پوهه لوړول، کتابتونونو جوړول، افغاني شعر، هنر، تیاتر او سینمایي چارو پیاوړي کول، د تاریخي آبداتو سپړنه او ساتنه کول او لدې لارې د دولت عوایدو لوړول، د پکتیکا والو لپاره د ورزش میدانونو او سپورټي توکو ته د لاس رسي زمینه برابرول.

د پکتیکا ولایت د پوهنې اړونده په پنځه ګونو برنامو کې ټول (۳،۵۹۸) تنه ښوونکي، چې (۵۱) تنه یې ښځینه دي او له دې ډلې (۳،۲۴۰) تنه ښوونکي په عمومي زده کړو کې، (۲۱۲) تنه ښوونکي په اسلامي زده کړو کې، (۱۶) تنه ښوونکي په تخنیکي زده کړو کې، (۳۶) تنه ښوونکي د ښوونې او روزنې په مرکزونو کې، (۱۲۰) تنه ښوونکي د لیک لوست زده کړو په برنامه کې په تدریس بوخت دي او (۲۹۳) اداري کار کوونکي چې ټول نارینه دي په دندو بوخت دي. په لومړنۍ یا اپتدایه دوره کې د زده کوونکو او ښوونکو تناسب (۶۳) دی او په تیرو پنځو کلنو کې (۷۹٬۵) سلنه هلکان او (۲۰٬۵) سلنه انجونې ښوونځیو ته جذب شوي دي.

په پکتیکا ولایت کې ټول (۱۲۶،۸۰۰) تنه هلکان او انجونې په تیرو پنځو کلنو کې ښوونځیو ته جذب شوي دي چې له دې ډلې (۱۰۰،۸۸۸) تنه هلکان او (۲۵،۹۱۲) تنه یې انجونې دي تر اوسه پورې (۸۱) سلنه هلکان او (۱۹) سلنه انجونې زده کړو ته لاس رسی لري، په دې ولایت کې (۳۸۰) رسمي ښوونیز مرکزونه شتون لري.

په پکتیکا ولایت کې ټول (۳۴۴) بابه عمومي زده کړو ښوونځي چې (۲۲۲) بابه یې لومړني ښوونځي، (۵۳) بابه منځنۍ ښوونځي، (۶۸) بابه لیسې دي.

د ۱۳۹۲ څخه را پدیخوا تر ۱۳۹۶ کال پورې د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون (Global Partnership for Education) په مالي مرسته په ۳ ولسوالیو کې یوسف خیل، زرغون ښار او ارګون کې د ۵۸ بابه ښوونځیو لپاره د انګړ دیوالونه، تشنابونه او د پاکو اوبو څاګانو پروژې پلې شویدي.

پکتیکا پوهنتون په ۱۳۹۱ کال کې جوړ شو او اوس مهال (۱۳۹۶) تحصیلي کال کې د (۲) پوهنځیو په درلودلو سره د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې د کیمیا، بیولوژي، ریاضي، فزیک، اسلامي ثقافت، انګلسي اوپښتو ژبو، او همدا راز د کرهنې په پوهنځي کې د هارټیکلچر او حیواني علومو څانګې فعالې دي، چې په یادو ۹ څانګو کې د ۳۴ کادري استادانو په هڅو او همکارۍ سره (۱،۵۴۹) تنه محصلین په تحصیل بوخت دي.

یاد پوهنتون تردي ګړۍ په دوو دوروکې (۲۶۲) محصلین ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي او د دې ترڅنګ د ۴۰ تنو اداري کارمندانو او اجیرانو په مټ یې اداري چارې پرمخ رواني دي.

د دې ولایت په پوهنتون کې (۳۴) ښوونکي په تدریس بوخت دي چی ټول یی نارینه دي.

په ۱۳۹۶ کال کې د پوهنتون د دوو تعمیراتي پروژو د جوړولو کار جریان لري.

د زراعت پوهنځي تدریسي بلاک د (۸۶۹،۸۳۰) امریکایي ډالرپه لګښت دهند هیواد په مرسته جوړیږي.

د لیلیې بلاک چې د وزارت مقام لخوایې د (۵۰۰۰۰۰) امریکایي ډالرو په لګښت ترون شوی یوه اندازه کارونه یې ترسره شوي دي.

د پوهنتون اړونده دوه پروژې (تدریسی او اداري ودانۍ) چې د جوړولو چارې یې په ۱۳۹۲ کال کی پیل شوي دي ولې تر دې مهاله نه دي بشپړه شوي، اوس مهال د قرار دادي له لوري توقف دي.

په ټوله کې د پوهنې سکتور د ۱۳۹۷ کال په اوږدو کې په مرکز او اړوندو ولسوالیو کې د (۲۲) پروژو د جوړولو چارو جریان درلوده چې د دې سکتور له لویو لاسته راوړنو څخه شمیرل کیږي ولې په یاده برخه کې اړتیاوې او غوښتنې په زیاته کچه شتون لري چې دولت یې باید په خپلو لومړیتوبونو کې راولي.

## ۳- د بنسټیزو چارو او طبیعي سرچینو سکتور د اوسني وضعیت تحلیل

په هیواد کې د ستراتیژیک ملي پراختیایي پروګرام او قوانینو تر چترلاندې د خلکو د خوښې سره سم د پکتیکا د سړکونو جوړول او ترمیم، یوشان سیمه ایزه کلیوالي پراختیا او د بیوزلۍ له منځه وړل، د ښارو ځمکو خړوبول، د بندونو جوړول، وګړوته د ځمکني اوهوایي ترانسپورتي آسانتاوو را منځته کول، یوشان مخابراتي او معلوماتي خدمتونه وړاندې کول، د ښاري پراختیایي پلانونوپه پلي کولو سره د ښاري ژوند د کچې لوړول او د ښاري نظام رامنځ ته کول، د مخدره توکو د قاچاق رواجولو مخنیوی او په اضطراري حالاتو کې خلکوته د مرستې لاس ورکول، د غزېدلو لارو په جوړیدو او د کلیو بیاجوړونې او پراختیا د پروګرامونو په ترسره کولوسره د بې کارۍ له منځه وړل، د دوی د غوښتنې اړوند کلیوالي ژوند اسانتیاوې برابرول، د سیمې اقتصادي ورتیا لوړول او د پاکو اوبو رسول، د مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژۍ او انټرنیټ څخه د دوی برخمن کول، د هوایي ډګر جوړول، د دولت د عوایدو لوړول، په مخدره توکو د روږدو کسانو درملنه کول، په خلکو کې د ښاري نظافت ساتنې کلتور رواجول، د ښاري ماسټر پلانونو تطبیق او همداشان په انډولیز ډول د شرایطو ته په پام سره خلکو ته د بریښنا برابرولو ترڅنګ د ځمکې لاندې طبیعي زیرمو منظم ایستل هغه څه دي چې د زیربنا سکتور یې د راتلونکو کلونو په اوږدوکې د پکتیکا ولس ته د یادو کارونو په کولو ژمن دی.

د پکتیکا ولایت په ټوله کې (۱،۰۴۲) کیلو متره سړکونه لري چې لدې جملې څخه یې یوازې (۱۶۳)کیلومتره په پاخه ډول سره جوړشوي دي نور پاته یې په کمه اندازه جغل اندازي شوي دي او زیاتره یې خامه او په خراب حالت کې دي چې بازار ته د کرهنیزو محصولاتو د لېږد پر وړاندې لوی خنډ ګڼل کیږي.

په پکتیکا ولایت کې درې مهمې سوداګریزې لارې (بندرونه) شتون لري لکه قمرالدین بندر، لوړه بندر او انګوراډه چې په پاخه او اساسي ډول سره جوړول یې لویه اړتیا ده.

د ښرنې د انګور اډې (۵۰) کلیومتره سړک په جوړیدو سره چې اوس مهال یې د جوړولو چارې جریان لري، د ګاونډي هیواد پاکستان سره به د دې ولایت راکړه ورکړه او سوداګرۍ باندې مثبته اغېزه وکړي چې هم به اسانه او هم به ارزانه پریوزي اوهم به د دولت په عوایدو کې په پراخه پیمانه زیاتوالی راشي، چې په پایله کې به د دې ولایت په اقتصادي وضعیت کې بشپړ مثبت بدلون راشي.

### په پکتیکا ولایت کې لاندې پاخه سړکونه شتون لري:

- د مرکز ښرنې څخه تر زرمت ولسوالۍ پورې (د پکتیا سرحد پورې) ۳۷ کیلو متره پوخ سړک
- د مرکز ښرنې څخه تر بندې سردې پورې (د غزنې ولایت سرحد پورې) ۲۳ کیلو متره پوخ سړک
- د مرکز ښرنې څخه تر زرغون ښار ولسوالۍ پورې ۴۸ کیلومتره پوخ سړک
- د مرکز شرنې څخه تر سر روضې ولسوالۍ پورې ۲۶ کیلومتره پوخ سړک
- د مرکز ښرنې څخه تر انګور اډې پورې ۵۰ کیلومتره سړک چې د جوړولو چارې یې اوس مهال جریان لري

د بریښنا د تولید لپاره په پکتیکا ولایت کې ډیرې زیاتې سرشاره طبیعي سرچینې شتون لري لکه د پلتو بند او د مارزکو بند چې هم د ولایت په نږدې فاصله کې موقیعت لري او هم ډیرې کرهنیزې ځمکې ورباندې خړوبیدای شي، په ډیر کم لګښت سره جوړیدای شي او د اوبو د ذخیرې لپاره په ډیره لوړه کچه ظرفیت لري چې ترنیمایي زیاتې پکتیکا ته یې هر

یو د بریښنا د تولید ظرفیت لري ولې تر دې مهاله ورته کوم کار ندی ترسره شوی، د خلکو دغوښتنې اوهر اړخیزې ګټې په نظرکې نیولو سره دولت باید له یادو بندونو څخه ژر تر ژره یو یې ورغوي چې د دې ولایت په اقتصادي وضعیت د بریښنا نه شتون هم ډیر بد اثر اچولی دی.

په پکتیکا ولایت کی هیڅ کومه وارداتي بریښنا شتون نه لری او ټول وګړي یي له بریښنا څخه محروم دی.

په ډیره کمه اندازه خلک یې له سولر او سوداګریزې ماشینی بریښنا څخه استفاده کوي او د بریښنا لپاره هیڅ کوم بند نه دی رغول شوی.

د ولسوالیوڅخه بې یوازې په ۱۲ ولسوالیو کې د مرکز په ګډون مخابراتی پوښښ نیمګړی فعالیت لری.

د پکتیکا په ولایت کی چې (کرومیایت، مرمر ډبره، د ډبرو سکاره او نفت) معدنونه تثبیت شوي دي ولې تردې مهاله پدې برخه کې هیڅ کوم کار ندی ترسره شوی.

په پکتیکا ولایت کې د څښلو پاکو اوبو ته د خلکولاسرسی په کمه اندازه ده چې زیاتره خلک بې د څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري، په دې وروستیو کې د کلیو پراختیا وزارت له لوری یو شمیر لاسی پمپونه او د اوبو شبکې جوړې شوې دي.

## ٤- کرهڼې ، کلیو او پراختیا سکتور د اوسني وضعیت تحلیل:

پکتیکا ولایت په پراخه پیمانه کرنیزی ځمکې او مناسب اقلیم په درلودلوسره غوره کرنیز محصولات لري چې عبارت دي له: غنم، جوار، وربشې، میوه جات انګور، منې،زردالو،کچالو،رومي بانجان،چلغوزي اوداسی نور..

غنم په ټولو سیمو کی کرل کیږی . دمیوه جاتو باغونه په مرکزشرنه،کټواز،متاخان،ارګون،سروبي،ګومل او برمل ولسوالیو کی ښه اومثبته نتیجه ورکوي.

کچالو په مرکزښرنه ، ارګون،سروبي،اودکټواز په سیمو کې په زړه پوري حاصلات لاسته راوړي همدارنګه هغه حاصل چې ښه اواقتصادي ګټه لاسته راوړي عبارت له جلغوزو څخه ده چې دغه حاصل په ارګون، سروبي،ګومل،برمل،نکه، ګیان زیروک،سروضه،اومنه او اورمۍ ولسوالیو کې غوره اولوړحاصلات لاسته راوړي.

په غرنیو او نیمه غرنیو سیموکی یي بادام اوجلغوزي له عمده کرنیزومحصولاتو څخه شمیرل کیږی.

دپراخو دښتو او غرنیو سیمو په درلودلو سره یي په زیاته اندازه وګړي په مالداري بوخت دي چې ځانګړی اقتصادی ارزښت لري اوس مهال دغه ولایت(٦٨٦٨٦٥) هکتاره آبي ځمکې ،(٩٠٠٠) هکتاره للمي ځمکی، (١١٧٣٨٨٦) کتاره علفچر،(٢٧٤٥) هکتاره باغداري ځمکي او(٣٠٥٦٤٠) هکتاره ځمکه یي طبعی ځنګلونو پوښلي دي چې زیاته اندازه د اوبو کمښت پکې احساسیږی.

دبزګرانو اتحادیي (کوپراتیفونه ) جوړول ، دسبزیجاتو و حبوباتو او غله دانو د نویو ورایټیګانو رواجول ، د زراعتی ماشین الاتو میکانیزی جوړول،دبوټو او نیالګیو د ناروغیو د مخنیو ي لپاره د کیمیاوي دواګانو وراندي کول ، بزګرانو ته دابیاری ، دباغونو په عصری ډول جوړول ،دمالداری د ودې او انکشاف په منظور هڅې دساری اونورو ناروغیو د مخنیوي لپاره هڅې اوپه ولسوالیو کې دحیوانی میخانیکی طریقو رهنمایي کول ،د مالداری د ودې او انکشاف ، او په ولسوالیو کی دحیوانی کلنیکونو جوړول ، مالدرانو ته دمالونو دښې تربیې په اړه د ترنینګونو جوړول، د مالونو د ساري ناروغیو د مخنیوي لپاره د واکسینونو تطبیق کول ،د مثمیرو او غیرمثمیرو نیالګیو قوریي جوړول ، د شاتو مچیو روزل او تربیه او بزګرانو ته د شاتو مچیو د ساتنې او ښه پلان لپاره ترنینګ ورکول ،د بزګرانو لپاره د سبزیجاتو ، باغونو، غله جاتو ،

نمایشي قطعات جوړول اوداسي نور په کرکیله پوري اړونده چاري دي چه د کرهنی ریاست یي تولنی ته پرمخ بیايي او د پکتیکا ولایت د کرهنی په اقتصادی اوټولنیز وضعیت کي یي د تیر په نسبت بشپړه بدلون رامینځ ته کړی دی.

**باغداری(Horticulture):**

ددی ولایت د خلکو د اقتصادی ژوند یوه مهمه برخه تشکیلوی.

باغ او باغداری د کلونو راهیسی په پکتیکا ولایت کی په عنعنوی ډول رواج لری مهمی ونی چه په باغ او باغـــداري کی کرل کیږی عبارت دی له بادام ، زردالو، انار،انګور،مڼی او شفتالو دی د پکتیکا ولایت د تخـــمینی راپورنو لــــه مخی تقریبا ( ۲۷۵٤) هکتاره مختلف باغونه لری د برابر او مـــناسب اقلیم له لـــرلو سره سره چه پکتیکا یـي د بـاغ او باغـداری په عرصــه کی لر ی او د حاصل ورکولو لوړ ظرفیت لری.

**ځنګلات(Forests)**

دپکتیکا ولایت اکثره برخي په طبعی مثمرو اوغیر مثمروونو، بوټو اوګیاوو پوښل شوی دی چه نوموړی ولایـت ته یي یـوه طبعی ښکلا وربښلی ، د اهلی ، وحشی حیوانـاتو او مرغـانو لپاره یي یـو لازم اومناســـب بستر جــــوړ کـړی ، دسیلابونو د راتګ مخنیوی کوی او د دی ولایت اونورمملکت داوســـیدونکو لپاره دسون او تعـمیراتـــی لـــــرګیو برابـرول اوهـم درنګارنـګ میوولکه جلغوزی ،شنیي اوداسـی نورحاصـلات پکـی پیـداکیږي. دپکتیــکاولایت ښــیرازه ځــنګلونه دجلغوزی، نشتر ،شنی ،ارچې ، بلوت ،بشته اوداسی نوروونو څخه تشکیل شـوی دی هــمدارنګه هغه بـوټی کوم چه په دوا اونورو کارونو کی دارزښـــت وړدی لکه ځیره ،قوری ، خوژولی ، خمزوری ، پـښی ، رواښی اوداســی نـور پــــکی پــــیداکیږي اوهغـه وحـــــشی حیوانــــات چه دپکتــــیکا ولایــت پـه ځنــــــګلونو کی اوسیږی لـــــــکه هوسی،لیوان،سحرایچرګان ، زانې ،زرکــی ، سویي ، سیسی اوداسی نور . دپکتیکا ولایـــت ځنـــــګلونه اوپه هغه پوری اړونده بوټــی اوحیوانات هم دنورافغانستان په شان ددریو لسیزو ناخـــوالو اوجنګونو څـخه پـه امن نـه دی پاتی ددنګو نـــښترو په نازکـــــــــو ملاو دظــــالمانو دتــــبرونوواورونه زغملـی اودېـرو مــــــلاوېي ورماتی کړی دی بی قـــانونه شـــــــــکاریانو دېولوځــــنګلی ژوودژوندمحیط په خپلوبی قانونه استـــــــــفادوله منځه وړی .

خوخوشبختانه لاتراوسه دغیرتی قومونواوډیروقبیلو یي دحفاظت لپاره دهمــت ملاتړلی دهغـوی حفاظت کـوی دلوړو غرونو په سریي هم دعزت اوهمت نښتر جګی غاړی نیولی اوخپل ژونـــــد ته ادامه ورکوی اګر چه دوامداره وچکالی هم ددی ناورینونو یوه برخه جوړوی اوډیر بد اثـــــرات یي پـه دی برخه کـــی واردکړی خوبیا هـم کـه لازم تصمیمونه اومناسب اقدامات وشی ددی قیمتی اوارزښــــتناکه نعمت دساتنی اوبیرته راژوندی کولو لپاره به موځه کړی وی اوکه خدای مه کړه بی پروا پاته شو نو نه جبرانیدونکی خــــساری به ددی ملک موجوده اواینده نسلونوته ورواوړی ددی لپاره چه کومی لاری چاری بایدپه کارواچول شی ترڅوددی طـــبعی ښکلا، نعمت اومنابعو ساتنه وشی .

**غذايي مصؤنیت(Food Security):**

غذايي مصؤ نیت چه دانسان په ژوند کی یوحیاتی اهمیت لری هغه داچه هر انسان ته بایـد زمینـه مساعده شـی ترڅـو کافی فزیکی اواقتصادی لاس رسی غذا ته چه انرژی ولری مغذی اوصـحی وی پیداکړی. ټول افــــــراددجامعی باید غذايي مصؤنیت ولری دپکتیکا ولایت چه دپاملرنی ورمنابع لـری خومتاسـفانه پکارنـه دی اچول شـوی اوداچــــه کــوم عوامل په غذايي مصؤنیت باندی بد اثرات لری اوڅـــرنګه کولای شو په نومـــــــوړی ولایت کــــــی غـذايي مصؤنیت رامـــنځ ته کړو.

**دحیواناتو انکشاف(Improvement of live stock):**

دحیواناتو روزنه دپکتیکا په ولایت کی ددی په اساس ښه رونق موندلی چه پراخه څر ځایـونه هـمواری دښــــتی لـری اوغرونه ئی په رنګارنګ بوټو اوونوپوښلی دی اوهمدارنګه تیه زاری ساحی چه د کوچنیو او غـــټو مالـونو لپاره په زړه پوری څرځایونه لری چه تقریبا ٪۵۰ وګړی د پکتیکا ولایت د مالداری له لاری دخپل ژوند مـصارف پـــوره کوی سره لـه دی چه په نوموړی ولایت کی ځنی مالدار د کوچیانو د تګ راتګ لاره هم پـه هـمدی ولایـــت کی ده او د یـو شـمیرکوچیانو پسرلنی تاتوبی هم ګڼل کیږي دا چي پکتیکا د مالـــداری له کبله مـــناسب ځایونه لـــــری لکه څړ ځایونه اومناسبه اب هوا لری نولازم ګڼل کیږی هغه فکتورونه چه د مالدارو د ستونزو په لمنځه وړلو کـــــی کمک کـوی مالـداران باید وهځول شی تر څود دی ولایت مالداری نه تنهـا چـه خـو د کفاشـی بلکـی صـادراتی بڼه هـم غـوره کـړی او مــــالداری دبیلابیلو هدفونو لپاره لکه د لبنیاتو ، وړیو ،پوستکو د تولید په منظور او همدارنـــــګه د بار وړلـو او ســپرلی لپاره او هـم د ژوند څخه د خوند اخستلو لپاره رنګارنګ مـــرغان روزی.

**دطبعی منابعو تنظیمول(Natural source arrangement):**

ثابته او معلومه خبره ده چه د زراعت سکتور د پکتیکا ولایت د اقتصادشمزی او اساس تشـکیل کـړی او زراعتـی طـبعی منابع لکه ځنګلونه ، د اوبو منابع ، د خاوری حاصل ورکولو ،څړ ځایونه ، د ژوو ژوند کوم چه دتیـرو جنګونـو او وچـــکالیو په واسطه ډیری زیـانمن او حتـی د نـابودی سره مخامخ دی طبعـی ځنګلونـه کـوم چـه د ایکوسیـــــــــستم یـو همکار ،کــمکی او حیاتی ضامن ګڼل کیږي په بی رحمانه ډول قطعه ،عامه ځمکی، فارمونه او څرځایونـه دشخصـی ګټـو لپـاره استعمالیږي .

او یاهم د نه پاملرنې له امله د طبعی امراضو او افاتو په اثر خراب شوی هغه دښـــتی او غــــرونه چـه د زرګونـو کلـــنو مبارزی او ایکولوژیکی مرحلو په طی کولو سره دطبعی بوټو په واسطه پوښلی دی په تدریجی ډول دسـون د مــــوادو پـه خاطر په جمعی ډول تخریب او د سپیرو بیابانونو د زیاتیدو سبب ګرځیدلی .

د اوبو منابع د وچکالیو، بی ځایه ژورو څاګانوکیندولو په وجه ښکته تللی چه د کاریزو او چینو د وچیدو سبب ګرځیـدلی دخاوری حاصل خیزی دمختلفوعواملو په وجه کمه شوی چي لا هم دوام لری .

سربیره پر دې د طبعی منابعو دکیفیت دکــــــــــموالی اوکم حاصل په موخه ځوک په دی برخه کی پانګه اچونه نـه کوی داچه د دی ولایت زیاتره نفوس په طـــبعی منابعو ولاړ او متکی دی او زیاتره ترلـوی تهدیـد لانـدی دی نـو لازم او ضـــروری ګڼل کیږي چه دولت اوعام وګړی ددی غنی او با ارزښته نعمتونو او منابعو څخه په مناسبه طریقو استـــــفاده او لازم ساتنه وکړی څکه چه همدا منابع دی چي انسانان د دوی په موجودیت کـی ژونـدکولای شـی پـه هرانـدازه چـه مـــنابع لمنځه ځی د ژوند امکانات هم کمیږي او حتئ ژوند ناممکن دی ددی لپاره چه ایمانـی ، وطنـی وجیــــــبه او وظـــــیفه مو ادا کړی وی او د نوموړو منابعو څخه په ښه توګه ساتنه کړی وی .

**ابــــــیاری(Irrigation):**

د پکتیکا ولایت زیاتره ځمکی للمی او یا هم په کاریزونو اوبه کیږی او یوه برخه یي هم په سربندونو او ویـالو ابــــــیاری کیږی.داچي ابیاری د زراعت لپاره یو حیاتی برخه بلل کیږی بناً د هغه تنظیم او لا زمه استفاده هم یو ضروری او حتمی کار دي دولت مسؤلیت لری چي ددی لپاره لا زمی لاری چاری او مؤثر تدابیر ونیسـی او د اســتـفاده کونـــــکو تـه بـې دګټي اخیستني په موخه ورکړي او له سرچینو څخه یي په مناسبه او لازمه طریقه استــــفاده وشـی چـي دا هغـه وخت امکان لــــــــری چي دواړه خواوی(دولت او استفاده کونکی) یو د بل سره هماهنګ کوشش وکـړی ترڅـو ددی دکمـو

منابعو څخه اعظـــمی استفاده وشی .دا چې د نورو زراعتی منابعو په شکل ابیــــاری او داوبو سیستمونه د تیرو دریو لسیزو نا ارامی وضعیت او څــــــوکلنی وچکالی په واسطه زیات متضرر اوپه اکثرو منطقـــــــو کی د نـابودی سره مـــــــخامخ دی نولازمی توجه او کار ته ضرورت دی ترڅو په دی برخه کی دخلکواو بزگرانو ستونزی حل شی . د هغوســـره باید هراړخیزه مرستی وشی ترڅو وکولای شو ددی منابعو څخه لازمه او مناسبه استفاده وشی .

## دتحقیق،ترویج او مارکیټ انکشاف:

معلومه او ثابته خبره ده چه پکتیکا یو وروسته پاتی او د تیرو حکومتونو د توجه څخه لری پاتی ولایت دی، د خلکوعلمی سطحه نسبت نورو ولایتوته ډیره ښکته ده .کلی او بانډې یو د بل څخه ډیری لری پرتی دی اوهر څوک په عنـعنوی ډول زراعتی او د مالداری فعالیتونه سرته رسوی او په موجوده امکانـاتو د دوی لپاره ددی ضـــــــروری عواملـــو او عناصرو تهیه او رسول هم ناممکن دی.

نو دا اړینه بریښی چه د هر یوه په اړه هغه لازم تدابــیر او لاری چاری وسنجول شی ترڅو وکولای شو د زراعتــــی محصولاتو کچه لوړه نوی ، عصری امـکانات او لاری چاری په خلکوکی ترویج او دتحقـیقاتو د لاری مناسـب نسلونه او ورایټی ګانی رواج او د وګړو وړ وګرځوو او دا زمینه مساعده کړو ترڅو زراعت منحیث د یو علم ،صنعت،او اقتصاد په بنا د خلکو په منځ کی مطـــرح کړ نه داسی چه زراعــت یوازی په عنعنوی ډول دوام وکړی.داچه باید زراعـــتی عملیات او تولیدات د مارکیټ لپاره او د هغه په بنا تر سره شی.

د نوی تکنالوژی،عصری زراعتی ماشینری په علمی او عصری اســاس ولاړی زراعتی لاری چاری د نویو نسلونو او ورایټی ګانو ترویج او توسعه یوازی په نظری ډول ګټوره نه ده بلـــکه پـه عملی توګه بزګرانـو او مالـدارانو تـه د نومـوړو څیزونـو ورښودل او هغویته تریــــننګ کول یولازمی کار بلل کیږی چې دا امر د حـــیوانی اونباتی تحقـیقاتی فارمونو تـه اړتیا لری چې باید په هره ولسوالی کی تاسیس تر څو د زراعت کارمـــندان او بزګـران وکولای شـی تجروبوی او نـوی لاری چاری زده او عملی کړی لکه نمونوی قوریې،د چرګانوفارمونه د مختلفو حـبوباتو او سبزیجاتو د تخـم تکثیـر او تحقیقـاتو فارمونه ترڅو وکــولای شی د ښه کیفیت لرونکی زراعتی محصولات تولیدکړی چه په داخــلی او خــــارجی مارکیټونو کی د رقابت توانمندی ولری .

همدارنګه هغه محصولاتو ته چه فعلا تولیدیږی د ښـه مارکــــــــیټ د پیداکولو لاری چاری برابری کــــــړو لکه جلغوزی،بادام،منې،زردالو،اناراوحــیوانی محصولات چه دمارکیـټ د نـه شـتون لـه املـه خراب او د بزګرانـو د مایوسـی سـبب ګرځی د یادونی وړده چه دپکتیکا ولایت زیاتره زراعتی محصولات لکه جلغوزی،بادام جهانی شهرت لـری مګـر د نه توجه له وجی دهغو ټولی ګټی همسایه هیوادونه تر لاسه کوی او د نړی نورو مملکتونو ته د دوی په نامه صادریږی.

## د بکر او بایرو ځمکو د آبادیدو زمینه برابرول:

داچه د پکتیکا ولایت پراخی دښتی او د کرلو لپاره مساعدی خـاوری لـری او پـه زیـاترو منـاطقو کـی تـر ځمکـه لانـدی اوبوسطحه (Water table) ډیر نږدی دی او خلک کولای شی د واټر پمپ په واسته د آبیاری اوبه تهیه کړای شـی ترڅـو خپلی کروندی پری اوبه کړی او دخپلو فامیلونو لپاره غذایی مواد تهیه او د کار زمینه مساعده کړی بر علاوه له دی څخه د مارکیټ لپاره مختلف زراعتی تولیدات تهیه او د قنا عت وړ عاید تر لاسه کـړی او د مملکـت پـه اقتصـادی وده او ترقـی کی د پام وړ همکاری کولای شی.اوهم د هغه پټی بی کاری درووند بار کوم چه زمونږ د جامعی په اوږو بـار دی ترمکنـه حده کم کړی.

نوضروری ګڼل کیږي ترڅو هغه مځکې کومې چه بعضی خلکوآبادی کړې او دولتی دی او نوری یي لاتراوسه شاړې پاتی دی (بکراوبایر(موات)) خلکو ته توضع کړو ترڅوخلک په زړه پوری توګه او په ښه اخلاص سره وربانـدی کـار او سرمایه ګذاری وکړی. ټول ذیدخل ارګانونه د هیواد ریس جمهور د فرمان سره سم د شاړو ځمکـو د قـانون مطـابق د ملکیت د شرعی او قانونی اسناد تهیه او د بی ځمکو بزګرانو، مهاجرینو، کوچیانو اومستحقو خلکوتـه ورکـړل شـی ترڅـو دعمـودی ودی سره سره د زراعت تولیدات افقی وده هم وکړی. شاړی ځمکی د کیفیت او کمیت له نظره د کچواز ټولی ولسوالی د شرنی او متاخان په شمول او ترځمکی لاندی اوبو د موجودیت له کبله د ډیر ارزش وړ دی.

**خلص جدول**

| شمیره | موضوع | اندازه | واحداندازه ګیری | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | دکشت وړابی ځمکې | ٦٨٦٨٦٥ | هیکتاره | |
| ۲ | دکشت وړللمی ځمکې | ۹۰۰۰ | هیکتاره | |
| ۳ | سړې خونې | ٦ | بابه | |
| ٤ | ګرین هوس | ۱ | ۰ | دکرهنی ریاست مربط |
| ٥ | حیوانی فارم | ۰ | ۰ | |
| ٦ | زراعتی فارم | ۱ | فارم | |
| ۷ | د غله جاتو ،سبزی جاتو ،حبوباتواو میوه جاتو ارزش | ۲٦۳۸۷٦ | ټنه | |
| ارزش محصولات حیوانی | | | | |
| ۹ | غواګانی | ٥۲۰۰۰۰ | فرد | |
| ۱۰ | پسونه او وزی | ۱۹۰۰۰۰ | فرد | |
| ۱۱ | اسپ | ٤۷۰ | راس | |
| ۱۲ | چرګان | ۱۲۲۰۰۰۰ | قطعه | |
| ۱۳ | فیل مرغ | ۱۱۰۰۰۰ | قطعه | |
| تولیدات حیوانی | | | | |
| ١٤ | غوښه | ٥٥٨ | ټن | |
| ١٥ | شیدی | ١٤٨٥٠٠ | ټن | |
| ١٦ | هګی | ١٤٥٠٠٠ | دانی | |
| ١٧ | پسه وړی | ١٢٥ | ټن | |
| ١٨ | بزی وړی | ٨٠ | ټن | |
| ١٩ | لوی پوستکي | ٢٢٥٠ | جلد | |
| ٢٠ | واړه پوستکی | ٣٦٠٠ | جلد | |

## دکليو بيا رغوني او پراختيا وزارت ملی پروګرامونه.

د کليو د بيا رغوني او پراختيا وزارت د خپلو موخو د تحقق لپاره د ملـی پيوسـتون، کليـوالی لارو جوړولـو، اوبـو رسـولو او چاپيريال ساتنې، سيمه ييز رشد او پراختيا، د کليوالی صنايعو پراختيا، ولسي تـړون او پـر زيـانمنني بانـدي د څـارنې او

ټولنیزمصونیت د ملی پروګرامونو له لاری خپلو فعالیتونو ته د ټول پکتیکا په کلیو کې پراختیا ورکوي. د پکتیکا ولایت کلیوبیارغونې او پراختیا ریاست تر فعالیت لاندی د ملي پیوستون حفظ او مراقبت ،کلیوالی لاروجوړولو، اوبو رسولو روغتیا ساتنې، ساحوي انسجام او اولسې ترون ملي پروګرامونه کار کوي ، تردی مهاله په (۲۱) ولسوالیو کی دولسوالیو پراختیایی شوراګانی جوړی شوي دي ، (۳۰) سلنه خلک یی د دبیلا بیلو برشنا ګانو څخه په تیربیا د لمریزې بشناخخه ګټه اخلي . د ۱۳۹۷ کال په اوږدو کې د دي ریاست له لوری په (۱۹) مختلفو پروژو کار روان ؤ چی زیاتره یی تکمیل شوي دي. په پکتیکاولایت کې خصوصي سکتور د نورو ولایتونو په څیر په پراخه پیمانه وده نده کړې، سرله دې چې پکتیکا ولایت یو سرحدي ولایت دی او د پاکستان سره اوږده ګډه پوله لري، مهمې ترانزیټي لارې بې (انګور اډه، لواړه اوقمردین ) دي چې په زیاته پیمانه سوداګري په کې شتون لري چې ښرنې تر انګور اډې د ترانزیټي سړک جوړولو چارې تر یوه اندازې په تیر کال کې ترسره شوې دي او په پاته برخه یې کار روان دی چې د پکتیکا ولایت په سوداګری کې بې مبثت بدلون رامینځ ته کړی ده، او پاته دوه لارې په ډیرخراب حالت کې دي، د جوړېدو لپاره یې هیڅ کار نه دی شوی که چېرې پاته لارې په اساسي توګه ورغول شي راکړه ورکړه به قانوني شي چې په دې سره به د سوداګرو لپاره لا اسانتیاوې رامینځ ته شي او د دولت په عایداتوکې به زیاتوالی راشي.

په پکتیکا ولایت کې د خصوصي سکتور اړوند د سوداګرۍ او صنایع خونې دفتر په ۱۳۹٦ کال کې په فعالیت پیل وکړ ولې یوشمیر دویمي اداري واحدونه یې فعالیت نلري کوم چې د خصوصي سکتور په وده او پراختیا کې رغنده رول لوبولای شي لکه: د جوازونو مدیریت چې د یادو ادارو د نه شتون له کبله د سوداګرۍ او پانګه والۍ ثبت او راجستر نه دی ترسره شوی او په نا منظم شکل سره پاتې دي.

په تیرو کلونوکې د اقتصادي حاکمیت اوخصوصي سکتورپه چوکاټ کې د پام وړ پروژې نه دي پلې شوې په داسي حال کې چې د دې سکتور له لوري پنځه کلن پلان ته په زیاته اندازه پروژې وړاندې شوې دي.

په پکتیکا ولایت کې په خصوصي سکتورکې په ډیره کمه اندازه پانګه اچونه شوې ده چې په نشت حساب ده او دقیقه اندازه یې هم معلومه نه ده، یوازې یوه اندازه پانګه اچونه د روغتیا اورسنیو په برخه کې شوې ده په نورو سکتورونوکې لکه د پوهنې، کرهنې او داسې نور هیڅ کومه پانګونه نه ده شوې په د ې ولایت کې صنعتي پارک شتون نلري، د فابرکاتو په برخه کې هیڅ کومه پانګونه نه ده شوې.

د پکتیکا ولایت صادرات عمدتاً (وڅکې، مڼې، انګور، جلغوزې او بادام) دي، د پسونو وړی، دغویانو پوستوکي چې د بازار موندنې په برخه کې بې کوم کار نه دی ترسره شوی او په اقتصادي وضعیت یې خورا بده اغیزه کړې ده، مرکزي دولت هم په دې برخه کې کوم کار نه دی ترسره کړی.

په پکتیکا په ولایت کې ۱۵ برنامې، د نا دولتي ملي او نړیوالې مؤسسې په مختلفو سکتورونو کې فعالیت لري چې دا شمیر د نورو ولایتونو په کچه ډیر کم دی، ډیری مؤسسات په پکتیکا ولایت کې سیمه ایز دفترهم نه لري او یوازې یو نفر استازی یې کړنې په مخ بیایي په ټوله کې په پکتیکا ولایت کې د نادولتي مؤسسو فعالیت کم رنګه دی دا په داسې حال کې ده چې پکتیکا ولایت کې نا دولتي مؤسساتو ته د کارکولو زمینه په بشپړه توګه مساعده ده. په پکتیکا ولایت کې ٪ ۲۵ خلک د فقر د کرښې لاندې ژوند کوي او (۱۵) سلنه خلک له لوږې څخه ځوریږي، په یاد ولایت کې زیاته کاري ځواک شتون لري ولې په کافي اندازه کاري فرصتونه شتون لري.

دجنسیت په بنسټ (۱٬۹۹) سلنه ښځې بوختیا لري.

د تولیداتو په برخه کې اوس مهال پنځه وړې فابریکې فعالیت لري چې ټوله پانګه اچونه یې (۷۵) میلونه افغانو ته رسیږي.
د لاسي صنایعو د تولید ارزښت معلوم نه دی ځکه چې په بازار کې نه بلکې په کلیو کې خرڅیږي.
خصوصي سکتور وده نه ده کړې، صنعتي پا رکونه نه دي جوړ شوي، د ګمرکاتو د ودانیو او وسایلو کمښت احساسیږي ولي بیاهم په دې ورستیوکې د ګمرک او انحصاراتو عواید (۱٤۰) میلونه ته رسیدلي دي چې د پام وړزیاتوالی په کې راغلی دی.
یوه اندازه سوداګري په غیرقانوني (قاچاقي) توګه ترسره کیږي او په بندرونوکې دسوداګریزو ګدامونو جوړولو ته توجه نه ده شوې.
لکه څرنګه چې پکتیکا زیاتې طبعي سرچېنې لري خو د راویستلو (استخراج) لپاره یې تردې مهاله هیڅ کوم ګام نه دی پورته شوی .

## ۵- دخصوصي سکتور اوسنی اقتصاد وضعیت:

د آزاد بازار اقتصاد پر بنسټ د یو داسې اقتصاد رامنځته کول، چې ټول پکتیکاوال وکولای شي په اغیزمنه توګه د نشیي توکو په تولید او قاچاق له لاس پورې کولو او نورو جنایي فعالیتونو پرته پکې ګډون وکړي.
د خصوصي سکتور لپاره د مساعدې فضا رامنځته کول اړین دي همدارنګه خلک باید و پوهول شي ترڅو په خپلو شتمنیو مالیات ورکړي چې له مخې به یې د دولت په عوایدو کې لوړوالی راشي او عمومي پانګې اچونې ته زمینه برابره شي ترڅوپه راتلونکې کې په خپلو پښو ودریږي او دومره اقتصادي وړتیا پیدا کړو چې د بهرنیانو له مرستې پرته خپل پرمختیایي پروګرامونه عملي کړای شو، په ځانګړې توګه باید خصوصي سکتور ته کار وشي ترڅو خلکوته کار پیدا او بې وزلي ورکه شي ترڅوټول پکتیکاوال وکولای شي چې هوسا او بسیا ژوند وکړي.
د پکتیکا د اقتصاد ریاست غواړي چې پیاوړی اقتصاد رامنځته او غیر قانوني اقتصاد له منځه یوسي، په ځانګړې توګه په هغو برخو زیات تمرکز وشي چې د اوسني او راتلونکي د حاصلاتو په لوړولو کې مهمه ونډه اخلي، لکه بریښنا، داوبو لګولو نظام، پوهنه، روغتیا، اړین پرمختیایي مهارتونه او داسې نور، د دې سره سره به د کلیو او پراختیا، کرهڼې او مالداری، کلیوالي صنایع، د دولتي شتمنیو، د کانونو او صنایع، د ترانزیت د تنظیم په ګډون دچټکې اقتصادي ودې لپاره د نورو برخو ملاتړ هم وشي ترڅو مونږ په راتلونکو پنځوکلونو کې د نړیوالې ټولنې په سیاسي او اقتصادي مرسته په هره برخه کې دپام وړ پرمختګونه ولرو.
په پکتیکاولایت کې خصوصي سکتور د نورو ولایتونو په څیر په پراخه پیمانه وده نده کړې، سرله دې چې پکتیکا ولایت یو سرحدي ولایت دی او د پاکستان سره اوږده ګډه پوله لري، مهمې ترانزیتي لارې یې (انګور اډه، لواړه اوقمردین ) دي چې په زیاته پیمانه سوداګري په کې شتون لري چې ښرنې تر انګور اډې د ترانزیتي سړک جوړولو چارې تر یوه اندازې په تیر کال کې ترسره شوې دي او په پاته برخه یې کار روان دی چې د پکتیکا ولایت په سوداګرۍ کې بې مبثت بدلون رامینځ ته کړی ده، او پاته دوه لارې په ډېرخراب حالت کې دي، د جوړېدو لپاره یې هیڅ کار نه دی شوی که چېرې پاته لارې په اساسي توګه ورغول شي راکړه ورکړه به قانوني شي چې په دې سره به د سوداګرو لپاره لا اسانتیاوې رامینځ ته شي او د دولت په عایداتوکې به زیاتوالی راشي.
په پکتیکا ولایت کې د خصوصي سکتور اړوند د سوداګرۍ او صنایع خونې دفتر په تیر کال کې په فعالیت پیل وکړ ولې یوشمیر دویمي اداري واحدونه یې فعالیت نلري کوم چې د خصوصي سکتور په وده او پراختیا کې رغنده رول لوبولای

شي لکه: د جوازونو مدیریت چې د یادو ادارو د نه شتون له کبله د سوداګرۍ او پانګه والۍ ثبت او راجستر نه دی ترسره شوی او په نا منظم شکل سره پاتې دي.

په تیرو کلونوکې د اقتصادي حاکمیت اوخصوصي سکتورپه چوکاټ کې د پام وړ پروژې نه دي پلې شوې په داسې حال کې چې د دې سکتور له لوري پنځه کلن پلان ته په زیاته اندازه پروژې وړاندې شوې دي.

په پکتیکا ولایت کې په خصوصي سکتورکې په ډیره کمه اندازه پانګه اچونه شوې ده چې په نشت حساب ده او دقیقه اندازه یې هم معلومه نه ده، یوازې یوه اندازه پانګه اچونه د روغتیا اورسنیو په برخه کې شوې ده په نورو سکتورونوکې لکه د پوهنې، کرهنې او داسې نور هیڅ کومه پانګونه نه ده شوې.

په دې ولایت کې صنعتي پارک شتون نلري، د فابرکاتو په برخه کې هیڅ کومه پانګونه نه ده شوې.

د پکتیکا ولایت صادرات عمدتاً (وښکې، منې، انګور، جلغوزي او بادام) دي، د پسونو وړی، دغویانو پوستوکي چې د بازار موندنې په برخه کې یې کوم کار نه دی ترسره شوی او په اقتصادي وضعیت یې خورا بده اغیزه کړې ده، مرکزي دولت هم په دې برخه کې کوم کار نه دی ترسره کړی.

د پکتیکا په ولایت کې ۱۵ برنامې، نا دولتي ملي نړیوالې مؤسسې په مختلفو سکتورونو کې فعالیت لري چې دا شمیر د نورو ولایتونو په کچه ډیر کم دی، ډیری مؤسسات په پکتیکا ولایت کې سیمه ایز دفترهم نه لري او یوازې یو نفر استازی یې کړنې په مخ بیایي په ټوله کې په پکتیکا ولایت کې د نادولتي مؤسسو فعالیت کم رنګه دی دا په داسې حال کې ده چې پکتیکا ولایت کې نا دولتي مؤسساتو ته د کارکولو زمینه په بشپړه توګه مساعده ده.

په پکتیکا ولایت کې ٪ ۲۵ خلک د فقر د کرښې لاندې ژوند کوي او (۱۵) سلنه خلک له لوږې ځخه ځوریږي.

زیاته کاري ځواک شتون لري ولې په کافي اندازه کاري فرصتونه شتون لري.

دجنسیت په بنسټ (۱٬۹۹) سلنه ښځې بوختیا لري.

د تولیداتو په برخه کې اوس مهال پنځه وړې فابریکې فعالیت لري چې ټوله پانګه اچونه یې (۷۵) میلونه افغانو ته رسیږي.

د لاسي صنایعو د تولید ارزښت معلوم نه دی ځکه چې په بازار کې نه بلکې په کلیو کې خرڅیږي.

خصوصي سکتور وده نه ده کړې، صنعتي پا رکونه نه دي جوړ شوي، د ګمرکاتو د ودانیو او وسایلو کمښت احساسیږي ولې بیاهم په دې ورستیوکې د ګمرک او انحصاراتو عواید (۱٤۰) میلونه ته رسیدلي دي چې د پام وړزیاتوالی په کې راغلی دی.

یوه اندازه سوداګري په غیرقانوني (قاچاقي) توګه ترسره کیږي او په بندرونوکې دسوداګریزو ګدامونو جوړولو ته توجه نه ده شوې.

لکه څرنګه چې پکتیکا زیاتې طبعي سرچینې لري خو د راویستلو (استخراج) لپاره یې تردې مهاله هیڅ کوم ګام نه دی پورته شوی .

## ٦- دتولنیز خوندیتوب سکتور د اوسني وضعیت تحلیل

په پکتیکا ولایت کې (۲۵) سلنه خلک دفقر دکچې لاندې ژوند کوي ، (۱۰) کورنیو سرپرستي ښځې کوی.

د کډوالو او بیا راستنیدونکو لپاره ښارګوټی نه د جوړشوی ، په داسې حال کی چې په دې ولایت کې دکډوالو شمیر (۷۹۰) کورنۍ دي .دکار دقوی په اړه تر دي مهالوه کوم دقیق ارقام نه دی ثبت شوي .

دچاپیر ساتنې په اړه دمهالویش سره سم خلکو ته عامه پوهاوی ورکول کیږي ولې یادې اداري ته تر اوسه کومه انکشافی بودجه په نظر کی نه ده نیول شوي ترڅو چی داړتیا سره سم خدمات وړاندې کړي.

دجنسیت په اساس (۱٬۹۹) سلنه چی ښځی په دې ولایت کې په کار بوختي دي .

د طبعي او غیر طبعي پیښو د زیانمنو لپاره فعاله اداره شتون لری چی د اړتیا سره سم خلکو ته په وخت خدمات وړاندې کوي ولې ډیر کم امکانات په اختیار کې ورکړل شوی دي چی بسنه نه کوي .

هغه ماشومان چې زړونه یې سوري وي یا هم اورتوپیدي ناروغیو اخته ماشومان مرکز ته دعلاج لپاره معرفي شوي دي.

د ناوړه دودونو له منځه وړل او د قومونو تر منځ یووالي په موخه دعامه پوهاوی په اړه سمنارونه او ورکشاپونه دائر شوی دي .

شهیدانو او معلولینو ته په خپل وخت سره حقوق ورکول شوي دي ټول حسابونه یی د بانک له لاری ترسره کیږي .

بې روزګاره وګړو ته دکار زمینه برابرول په موخه حرفوی زده کړو کورسونه دائر شوی دي.

د شهیدان او معلولین ثبت شوي او د پیسو د ورکړې پروسه بانکي شوي ده .

د ماشومانو د روزنتون وضعیت د پخواپه نسبت ښه شوی دی .

د جوازونو ویش زیات شوي او د حرفوي زده کړو کورسونه په ښه توګه دایر شوي.

د قومونو ، ځوانانو او مشرانو تر منځ ناستې زیاتي شوي دي.

هغه ماشومان چې د زړه د سوري ناروغي لري مرکز ته مغرفي کیږي د طبعي او غیر طبعي پیښو ځپلو لپاره مرستې زیاتي شوي دي.

مهاجرینو سره مرستي زیاتي شوي دي اوپه خپل وخت سره توزیع شوی دی .

د ښځو دتاو تریخوالي په برخه کې عامه پوهاوي زیات شوي دی اوپه اکثرو ولسوالیوکی ورکشاپونه اوسیمنارونه دائرشوی دی .

دحرفوی زده کړو پروژه په اورګون ولسوالی کی په ښه ډول ترسره شوی دی .

دکوچیانوستونزی ترډیره حده بررسی شوی دی او د حل لاری چاری ورته لټول شوی ده .

دولایت په سطحه دقومونوسره غونډې زیاتی شوی دی اوستونزی دجرګی له لوری حل شوی دی .

دښځوپه وړاندی دتاوتریخوالی پیښې بررسی شوی دی .

## ۷- د حکومتدارۍ، د قانون واکمنۍ او بشرې حقوقو د سکتور د اوسني وضعیت تحلیل

د قانون واکمني، د ټولنیزعدالت تامین، د ملکي او دولتي شتمنیو یا ملکیتونو ساتنه او دفاع کول، د دیني اومذهبي ارزښتونو ساتنه او پیاوړتیا، د خلکو د حقوقو تامین، د قانون له تطبیق څخه څار کول، کار اهل کار ته سپارل، د مدني، سوداګریزو او کورنیو موضوعاتو څېړل اوحل کول، په حقوقي برخه کې د محاکمو د فیصلو تطبیق کول، د قانون څخه د سر غړونکو ماشومانو ساتنه او روزل، پکتیکاوالو ته د خپلو حقونو د پوهې د سطحې د لوړوالي په برخه کې روزنیز پروګرامونه پلي کول، پکتیکاوالو ته د دین، مذهب اوهیواد په ګټه تبلیغ کول، د حجاجو لپاره هر اړخیزه آسانتیا برابرول، د وقفي ځمکو پیدا کول، د مسجدونو جوړول، د ملا امامانو او مؤذنانو، خادمانو او متولیانو تعینول، د زیارتونو د ګمبدې جوړول، د حقوقي زده کړو په برخه کې خلکو ته روزنه ورکول، په مرکز او ولسوالیو کې د قضایي ادارو فعالول، جزایي او حقوقي مسایلوته لاس رسی، د قاضیانو د امنیت ساتل، په قاضیانو باندې د خلکو باور زیاتول، د قاضیانو د ظرفیت لوړول، مدافع وکیلانو لپاره زمینه برابرول، د اداري فساد، د مخدره توکو قاچاق او جرمونو مخنیوی، د اداري چارو څخه

ځارنه کول، د جرمونو سالمه څېړنه، په ټولو ولسوالیو کې د ځارنوالۍ د ادارو فعالول، د مشکوکو کسانو په نښه کول، د عامه پوهاوي له لارې نارينه اوښځينه وګړو ته د دې زمينه برابرول ترڅوپه محاکموکې خلک د خپلو حقوقو غوښتنه او دفاع وکړې.

د حکومتدارۍ، د قانون واکمنۍ او بشري حقوقو سکتور د پخوا په نسبت په ټولنېزه او اقتصادي برخه کې بشپړ بدلون کړی دی، د دې سکتور د ټولو ادارو په کړنو کې چټکوالی د دې سبب شوی دی چې د ټولنې سره يې اړيکې زياتې او قانون په ښه توګه پلی شي، د مرکز په شمول يې په اکثره ولسواليوکی تشکيل پوره شوی دی، په ولسواليو کې زياتره مسلکي ولسوالان په دندو ګمارل شوي دي.

په اقتصادي برخه کې هم د حکومتدارۍ، د قانون واکمنۍ اوبشر حقوقو سکتور د پام وړلاسته راوړنې لري چې په ۱۳۹۷ ملي کال کی يې شپږ پروژې تر کار لاندې وې چې په (مرکز ښرنه کې د مېلمستون ودانۍ ده چې د (۱۳،۱۹۵،۷۵۰) افغانيو په مالي لګښت سره بشپړه شوې ده، د ولايت مقام اداري ودانۍ د (۱۳٦٤۷۸۲٤) افغانيوپه مالی لګښت چې په مرکزکې کارونه يې بشپړه شوی دی ګټې اخستنې ته سپارل شی ده ،په مرکز ښرنه کې د جومات جوړولو پروژه چې د (٦٢،٥٠۷) امريکايي ډالرو په لګښت يې کارونه ٪ ۱۰۰ بشپړ شوي دي، په اورګون ولسوالي کې د جامع جومات ترميم ۳٦۰،۰۰۰ امريکايي ډالر په لګښت سره چې کارونه يې ٪۹۰ بشپړه شوي دي، په زرغون ښار او يحيی خيلو ولسواليو کې د جوماتونو جوړولو پروژو کارونه جريان لری په مرکز شرنه کی د(٤۲ميلونه افغانيو په لګښت د جومات جوړولو پروژه چې کارونه يې جريان لری .

## ۸ - د امنيت سکتور د اوسني وضعيت تحليل:

په امنيت سکتور کې د تيرو کلونو په نسبت په اقتصادي او ټولنېز وضعيت کې په پراخه پيمانه بدلون رامنځته شوی دی، په ټولنېزه برخه کې امنيتي ځواکونه د ولس سره نږدې شوي دي، د خلکو ملاتړ يې ترلاسه کړی دی، د پکتيکا ولس د امنيتي ځواکونو سره څنګ په څنګ ولاړ دی، د پخوا په نسبت د دې ولايت د امنيتي ځواکونو ډيره برخه له ځايي خلکو چوره شوې او په دې ورستيوکې په امنيت کې بشپړ بدلون رامنځته شوی دی او لا هم د ښه والي په لورروان دی.

په اقتصادي برخه کې يې څه ناڅه بدلون کړی دی، يوه ډيره کمه اندازه پروژې په دې سکتورکې پلي شوي دي، ولې په هغه کچه پروژې ندي پلي شوي کومې چې د پکتيکا ولايت د امنيت سکتور لپاره اړينې وې او همدارنګه په تير پنځه کلن پلان کې چې کومې پروژې ځای په ځای شوي وې لومړيتوب يې درلوده خو پلي نشوي دا په داسي حال کې ده چې د امنيت سکتوريو شمير پروژې نيمه کاره پاته دي او په اړه يې ترډې مهاله کوم ګام نه دی پورته شوی.

په پکتيکا ولايت کې د ملي اوردو يوه لبوا په زرغون ښار کې، څلور سرحدي کنډکونه په ارګون، برمل، شکين، ګومل، وازې خوا، تروې او ورممی په ولسواليو کې ځای په ځای دي، يو د عامه نظم کنډک د دې ولايت په مرکز کې شتون لري.

همدارنګه ۲،۷۷۰ ملي پوليس، ۲،۱۱۷ سيمه ايز پوليس چې ټولټال ٤۸۸۷ تنه کيږي د خلکو د امنيت ساتلو لپاره په دندو بوخت دي په تيرو څلورو کلونو کې په پکتيکا ولايت کې د جلب او جذب قوماندانۍ ۹٥۷ تنه ملي اردو سربازان سوق کړي دي ۸٥ تنه نظامي ملي اکاډمي ته ۳٥ تنه حربي ښوونځي ته ٦۷ تنه بريد ملی ته ۷٦ تنه د تاسيساتو امريت ته ٤۹ تنه افسري کورس ته سوق کړي چې ټول يې ۱،۱٤٤ تنه کيږي.

د ډیرى ولسواليو د امنيه قومندانيو او د ملي امنيت مديريتونو ودانۍ تر دې مهاله نه دي جوړشوي، د امنيت سکتور د ۱۳۹۶ کال په پراختيايي بودجه کې هيڅ کومه پروژه نه وه منظوره شوې او همدارنګه د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره هم د کومې پروژې وړانديز نلري.

# دریم څپرکی

## دپکتیا ولایت انکشافی بودجه ود ۱۳۹۷ کال انکشافی لگشت :

### معارف:

وزارت معارف در راستای تلاش رسیدن به دیدگاه این اداره که عبارت از انکشاف سرمایه بشری مطابق به اصول و اساسات دین مقدس اسلام، احترام به ارزش های ملی و حقوق بشر از طریق فراهم آوری زمینه دسترسی مساویانه همه اتباع کشور به تعلیم و تربیه با کیفیت میباشد، دراین ولایت بتعداد ٤١٦ مکاتب تعلیمات عمومی، ۳ دارالمعلمین، ٦ مکاتب تخنیکی، ۲۷ مدارس دینی، فعالیت داشته ، مجموعا بتعداد ١٦١٬٦٩٤ شاگرد که از آنجمله ١٣١٬٩٧٧ ذکور و ٢٩٬٧١٧ آن از طبقه اناث میباشند، در این مکاتب مشغول فراگیری دانش هستند. جدول ذیل معلومات مختصر در مورد وضعیت معارف در ولایت پکتیکا را بیان میکند.

| تشریحات عمومی بخش معارف | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کتگوری | مکاتب عمومی | دارالمعلمین | مدارس | مکاتب خصوصی | انستیتوت ها | مکاتب تخنیکی | تعداد شاگردان | | |
| | | | | | | | ذکور | اناث | مجموع |
| تعداد | ٤١٦ | ۳ | ۲۷ | - | - | ٦ | ١٣١٬٩٧٧ | ٢٩٬٧١٧ | ١٦١٬٦٩٤ |

### بودجه معارف :

وزارت معارف سالانه بودجه قابل ملاحظه در هر دو بخش عادی و انکشافی دریافت میکند و قسمیکه در شکل دیده میشود مقدار زیاد آن در بخش بودجه عادی بمصرف میرسد و دلیل عمده آن عبارت است از موجودیت تشکیل بزرگ در وزارت معارف و مصارف عادی برای تعداد زیاد مکاتب که در سرتاسر کشور موجود است میباشد. جزئیات بودجه معارف ولایت پکتیکا در شکل ذیل انعکاس داده شده.






به تعداد ۱۳ پروژه هایکه در این ولایت از طریق وزارت معارف درسال ۱۳۹۷ تطبیق گردیده ذیلآ بیان میگردد.

| پروژه های انکشافی ۱۳۹۷ | |
|---|---|
| پروژه | بودجه |
| اعمار، بازسازی و تجهیز مکاتب مسلکی و حرفوی | ٦٬۸۲۷٬٥۷۹ |
| اعمار و تجهیز مکاتب تعلیمات عمومی | ۱۲٬٦۹٦٬۱۷۸ |
| انکشاف زیربنای تعلیم و تربیه | ۳۱٬۹۹۷٬۸۹۲ |
| مدیریت و ارتقای ظرفیت | ۳۹٦٬۰۰۰ |
| تعلیمات عمومی ( بشمول EQUIP) | ۱۸٬٤٤۱٬۱٥۰ |
| سواد آموزی و تعلیمات غیر رسمی | ۹۱٦٬۳٤۹ |
| پروژه های انکشافی ۱۱ ولایت سرحدی شمال وغرب | ۱۲٬۹٦۰٬۰۰۰ |
| ٥ پروژه های ساختمانی جدید ولایت پکتیکا | ۱٤٬۷۰۹٬۳۱۰ |
| انکشاف و تقویت برنامه های سواد آموزی | ٤۲٬۰۰۰ |
| وجوه غیر مشروط ولایات | ۱٥٬۹۸۸٬۸۲٥ |
| استخدام معلیمین  اناث در روستا ها | ٤٬٥۲۰٬٦۷۱ |
| تکمیل پروژه های باقیمانده مکاتب نا تکمیل EQUIP | ٤۸٬۹۳۳ |
| اعمار مکاتب برای تیز هوشان در هفت شهر بزرگ | ۳٬۸٤۹٬۳۸۱ |
| مجموع | ۱۲۳٬۳۹٤٬۲٦۸ |

## زراعت:

ولایت پکتیکا از دشت های وسیع تشکیل شده و در حدود ٦٥ در صد مردم این ولایت مصروف زراعت میباشند. بدلیل مساعد بودن وضعیت آب و هوا و همچنان زمین های حاصل خیز در این ولایت انواع و اقسام نباتات و همچنان زمینه زیست و رشد حیوانات مختلف النوع مساعد است.

ولایت پکتیکا دارای جنگلات جلغوزه نیز میباشد. جلغوزه در ولسوالی های سروبی، اومنی، گیان، گومل، زیروک، چهارباران و سرروضه وجود دارد. جدول محصولات زراعتی و بخش مالداری ولایت پکتیکا درجدول ذیل بیان گردیده است.

پکتیکا دارای ۱٤۹٬۱٤۸ هکتار زمین های آبی و ۹٬٦٤٤ هکتار زمین للمی میباشد

### بودجه زراعت:

قسمیکه در شکل دیده میشود بودجه انکشافی زراعت ولایت پکتیکا به مراتب بیشتر از بودجه عادی این اداره میباشد که بیان گر سرمایه گزاری های بیشتر روی زراعت در این ولایت میباشد.







به تعداد ۱۱ پروژه های انکشافی که در ولایت پکتیکا درسال ۱۳۹۷ تطبیق گردیده ذیلا بیان میگردد.

پروژه های انکشافی ۱۳۹۷ زراعت

| پروژه | بودجه |
|---|---|
| ساختمان و تجهیز دفتر ترویج در ولایات و ولسوالی ها | ۱٬۰۵۵٬۳۰۰ |
| تهیه و توزیع &;تخمهای بذری و کود کیمیاوی | ۹٬۷۲۶٬۶۰۰ |
| برنامه ملی انکشاف مالداری و صحت حیوانی | ۸۴۶٬۴۱۱ |
| برنامه ملی باغداری و مالداری (NHLP) | ۲۸٬۶۳۱٬۹۳۵ |
| مبارزه علیه آفات و امراض نباتی | ۲۱۹٬۶۰۰ |
| انکشاف زراعت در ولسوالی های سرحدی (Border Project) | ۶۳۷٬۴۴۴ |
| توسعه کشت پخته و زعفران | ۷۷۶٬۰۰۰ |
| احیا و اعمار;ذخایر استراتیژیک گندم | ۴٬۹۴۸٬۴۶۰ |
| برنامه ملی تنظیم منابع طبیعی به اشتراک جامعه | ۹۵۷٬۶۰۲ |
| پروژه آبیاری و ذخایر آب | ۷٬۶۴۲٬۳۹۱ |
| ایجاد باغچه های خانگی و مصونیت غذائی | ۳٬۴۰۹٬۰۰۰ |
| مجموع | ۵۸٬۸۵۰٬۷۴۳ |

## تحصیلات عالی:

در ولایت پکتیکا صرف یک پوهنتون دولتی بنام پوهنتون پکتیکا فعال میباشد و موسسات/پوهنتونهای خصوصی فعالیت ندارند. پوهنتون پکتیکا دارای ۱٬۷۴۲ محصل میباشد که همه آن ازطبقه ذکور و توسط ۳۱ استاد ازطبقه ذکور تدریس میگردد.

| تحصیلات عالی | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کتگوری | پوهنتون | تعداد پوهنځی ها | تعداد استاد | تعداد محصلین |
| تعداد | پکتیکا | - | ۳۱ | ۱٬۷٤۲ |

**بودجه تحصیلات عالی:**

مجموعا بودجه که وزارت تحصیلات عالی برای ولایت پکتیکا تخصیص داده بالغ میشود به ٥٤ میلیون افغانی که توضیحات بیشتر در مورد آن در گراف ذیل انعکاس داده شده است.







بتعداد ۱ پروژه انکشافی که از جانب وزارت تحصیلات عالی در این ولایت در سال ۱۳۹٦ تطبیق گردیده است قرارذیل میباشد.

| پروژه های انکشافی ۱۳۹۷ | |
|---|---|
| پروژه | بودجه |
| اعمار پوهنځی انجنیری موسسه تحصیلات عالی پکتیکا | ۱۸٬۹٤۷٬۷۷٤ |
| مجموع | ۱۸٬۹٤۷٬۷۷٤ |

**صحت عامه:**

درولایت پکتیکا به تعداد ۱ شفاخانه دولتی ۱۳ مراکز صحی خصوصی ۱۰ مراکز صحی ۲۷ مراکز مکمل صحی و ۲٤٦ پوسته صحی وجود داردکه درجدول ذیل نیز تشریح گردیده است.

| تشریحات بخش صحت عامه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| کتگوری | شفاخانه دولتی | مراکز صحی خصوصی | مراکز صحی | مراکز مکمل صحی | پوسته صحی |
| تعداد | ۱ | ۱۳ | ۱۰ | ۲۷ | ۲٤٦ |

**بودجه صحت عامه:**

بودجه که برای عرضه خدمات صحی در ولایت پکتیکا درسال ۱۳۹۷ از جانب وزارت صحت عامه در نظر گرفته شده در گراف ذیل نشان داده شده.







به تعداد ۹ پروژه های انکشافی که از جانب وزارت صحت عامه در این ولایت درسال ۱۳۹۷ تطبیق گردیده است ذیلا بیان میگردد.

| پروژه های انکشافی ۱۳۹۷ | | |
|---|---|---|
| پروژه | بودجه | فیصدی مصرف |
| برنامه ملی معافیت کتلوی | ٤٦٥٬٢٠٠ | ۸۸٪ |
| مراقبت های صحی کوچی ها | ۱٬۰٤۱٬۹۸۰ | ٦۳٪ |
| تاسیس مراکزتداوی معتادین در ولایات کشور | ٦٬۱۹۰٬۱۸۱ | ٦۰٪ |
| اعمار ۱۱ باب BHC و ۲ باب CHC در ولایات سرحدی کشور | ٦۸٬۳٤۰ | ۰٪ |
| اعمار وبازسازی شفاخانه ها وکلینیک ها در ولایات وخریداری تجهیزات طبی | ٥۰٬٥۰۲٬۰۰۰ | ۳۹٪ |
| اعمار تعمیر تجهیزکلینیک ولسوالی جانی خیل | ۲٬٤۰۳٬۹۰۰ | ۰٪ |
| تقویت نظام صحی در مرحله عبور | ۱۰۹٬۰٦٥٬٦۹۱ | ۷٤٪ |
| اعمار وبازسازی تاسیسات صحی درولایات از وجوه غیرمشروط | ۱٤٬۷٤۰٬۰۰۰ | ۰٪ |
| پروژه صحتمندی | ۹۲٬۰۱٦٬۹۲۱ | ۰٪ |
| مجموع | ۳۳٥٬٥۸۳٬۳۱٦ | ٤۳٪ |

## انرژی و آب :

فراهم نمودن منابع تولید برق و وارد نمودن برق از منابع خارجی از ولایت پکتیکا فعالیت ها جریان دارد از آنجمله کار بالای بند گومل و انتقال حدود KV۲۲۰ برق به این ولایت نیز درحال جریان میباشد همچنان روی تحکیم سواحل دریا ها در این ولایت و اعمار بندهای کوچک کار جریان دارد.

## بودجه انرژی و آب :

سهم عمده بودجه ولایت پکتیکا در بخش انکشافی میباشدو چنین پنداشته میشود که وزارت انرژی و آب تصمیم توسعه ساحه فعالیت خویش را در این ولایت دارد. بودجه وزارت انرژی و آب برای ولایت پکتیکا در سال ۱۳۹۷ درگراف ذیل بیان میگردد.







یک پروژه انکشافی که در سال ۱۳۹۷ در بخش انرژی وآب در این ولایت تطبیق گردیده است ذیلاً بیان میگردد.

| پروژه های انکشافی ۱۳۹۷ | |
|---|---|
| پروژه | بودجه |
| تحکیم سواحل دریا ها | ٦٬٢٧٧٬٤٥٠,٠٠ |
| مجموع | ٦٬٢٧٧٬٤٥٠,٠٠ |

## فواید عامه:

طبق معمول دربخش فواید عامه نظر به لزوم دید دو نوع سرک اعمارگردیده است که عبارتند از سرکهای قیرریزی شده و سرکهای جغل اندازی شده میباشد. سرکهای ولایت پکتیکا ۱٬۱۱۰ کیلومتر میباشد که از آن جمله ۸۵۱ کیلومتر جغلی و ۲۵۹ کیلومتر اسفالتی است. که درگراف ذیل نیز بیان گردیده است.

| تشریحات بخش فواید عامه | | | |
|---|---|---|---|
| کتگوری | سرک های اسفالتی | سرک های جغل اندازی شده | مجموعه عمومی |
| تعداد | کیلومتر۸۵۱ | کیلومتر۲۵۹ | کیلومتر۱٬۱۱۰ |

## بودجه فواید عامه:

بودجه فواید عامه در ولایت پکتیکا مجموعآ به ۹۱۲ میلیون افغانی بالغ میشود که جزئیات آن در شکل ذیل نشان داده شده بالغ میگردد.







به تعداد ۳ پروژه های موجود انکشافی که از جانب وزارت فواید عامه در ولایت پکتیکا درسال ۱۳۹۷ تطبیق گردیده قراردیل میباشد.

| پروژه های انکشافی ۱۳۹۷ | | |
|---|---|---|
| پروژه | بودجه | فیصدی مصرف |
| برنامه ملي سرک های روستایی ( وزارت فوایدعامه ) | ٦٧٧٤٥٢٦٣ | ٦٠٪ |
| ساختمان سرک انگور اده الی شرنه بطول ۵۰ کیلو متر | ٨٣٣٬٥١٩٬٩٨٥ | ٧٧٪ |
| دیزاین و ساختمان سرک ولسوالی ارگون الی ولسوالی گیان ولایت پکتیکا | ٦٬٤٠٠٬٠٠٠ | ٠٪ |
| مجموع | ٩٠٧٬٦٦٥٬٢٤٨ | ٧٥٪ |

## لست پروژه های انکشافی ولایت پکتیکا

| لست پروژه های انکشافی | | | |
|---|---|---|---|
| اداره | پروژه | بودجه | مصرف |
| وزارت حج ، ارشاد و اوقاف | ترمیم مسجد جامع در ولسوالی ارگون ولایت پکتیکا | ٦٬٨٣٤٬٠٠٠ | - |
| وزارت حج ، ارشاد و اوقاف | اعمار مساجد - پروژه های ولایتی | ٦٬٥٤٦٬٤٩٧ | ١٬٠٦٦٬٨٦٢ |
| وزارت معارف | اعمار، بازسازی و تجهیز مکاتب مسلکی و حرفوی | ٦٬٨٢٧٬٥٧٩ | ٣٬٨٢٧٬٥٧٩ |
| وزارت معارف | اعمار و تجهیز مکاتب تعلیمات عمومی | ١٢٬٦٩٦٬١٧٨ | ٦٬١٦٧٬٣٩٨ |
| وزارت معارف | انکشاف زیربنای تعلیم و تربیه | ٣١٬٩٩٧٬٨٩٢ | ٥٬٤٧٧٬٥١٤ |
| وزارت معارف | مدیریت و ارتقای ظرفیت | ٣٩٦٬٠٠٠ | - |

| | | | |
|---|---|---|---|
| وزارت معارف | تعلیمات عمومی ( بشمول EQUIP) | ۱۸٬٤٤۱٬۱٥۰ | ۱۸٬٤٤۱٬۱٥۰ |
| وزارت معارف | سواد آموزی و تعلیمات غیر رسمی | ۹۱٦٬۳٤۹ | ۸۲۱٬۰٤٥ |
| وزارت معارف | پروژه های انکشافی ۱۱ ولایت سرحدی شمال وغرب | ۱۲٬۹٦۰٬۰۰۰ | ٦٬٤۸۰٬۰۰۰ |
| وزارت معارف | ٥ پروژه های ساختمانی جدید ولایت پکتیکا | ۱٤٬۷۰۹٬۳۱۰ | ۹٬٦۹۸٬۲۲۹ |
| وزارت معارف | انکشاف و تقویت برنامه های سواد آموزی | ٤۲٬۰۰۰ | ٤۲٬۰۰۰ |
| وزارت معارف | وجوه غیر مشروط ولایات | ۱٥٬۹۸۸٬۸۲٥ | - |
| وزارت معارف | استخدام معلیمین  اناث در روستا ها | ٤٬٥۲۰٬٦۷۱ | ۳٬۰٤۷٬۹۰۸ |
| وزارت معارف | تکمیل پروژه های باقیمانده مکاتب نا تکمیل EQUIP | ٤۸٬۹۳۳ | - |
| وزارت معارف | اعمار مکاتب برای تیز هوشان در هفت شهر بزرگ | ۳٬۸٤۹٬۳۸۱ | - |
| وزارت تحصیلات عالی | اعمار پوهنځی انجنیری موسسه تحصیلات عالی پکتیکا | ۱۸٬۹٤۷٬۷۷٤ | ۸٬٤۱٤٬۰۳۱ |
| وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان | حمایت از فعالیت های حقوقی،  پلان گذاری و ادغام مجدد | ۱۳٤٬٦۳۰ | ۹۱٬٥۷٥ |
| وزارت اقتصاد | تقویت سیستم پلان گذاری، نظارت وارزیابی | ۱۲۰٬۰۰۰ | ۱۲۰٬۰۰۰ |
| وزارت اقتصاد | مدیریت پروژه های کوچک سرحدی | ٤۲٥٬۰٤۰ | - |
| وزارت صحت عامه | برنامه ملی معافیت کتلوی | ٤٦٥٬۲۰۰ | ٤۰۹٬۲۰۰ |
| وزارت صحت عامه | مراقبت های صحی کوچی ها | ۱٬۰٤۱٬۹۸۰ | ٦٥۷٬۹۸۰ |
| وزارت صحت عامه | تاسیس مراکزتداوی معتادین در ولایات کشور | ٦٬۱۹۰٬۱۸۱ | ۳٬۷٤۳٬۸۸۲ |
| وزارت صحت عامه | اعمار ۱۱ باب BHC و ۲ باب CHC در ولایات سرحدی کشور | ٦۸٬۳٤۰ | - |
| وزارت صحت عامه | اعمار وبازسازی شفاخانه ها وکلینیک ها در ولایات وخریداری تجهیزات طبی | ٥۰٬٥۰۲٬۰۰۰ | ۱۹٬٥۰۱٬۰۰۰ |
| وزارت صحت عامه | اعمار تعمیر تجهیزکلینیک ولسوالی جانی خیل | ۲٬٤۰۳٬۹۰۰ | - |
| وزارت صحت عامه | تقویت نظام صحی در مرحله عبور | ۱۰۹٬۰٦٥٬٦۹۱ | ۸۰٬۷۱٦٬٦٥۳ |
| وزارت صحت عامه | پروژه های انکشافی ۱۱ ولایت سرحدی شمال وغرب | ۱۷٬۲۰۰٬۰۱٦ | ٥٬۱٦۰٬۰۰۲ |
| وزارت صحت عامه | تقویه سیستم صحی (روندسوم) | ٥٬۲۷٥٬٥٤٤ | ۲٬۹۹٤٬٥٦۲ |
| وزارت صحت عامه | فعال نمودن شفاخانه های خیرکوت وگردیز | ۳٦٬٦۱۳٬٥٤۳ | ۳۱٬۱۱۳٬۲۱۱ |
| وزارت صحت عامه | اعمار وبازسازی تاسیسات صحی درولایات از وجوه غیرمشروط | ۱٤٬۷٤۰٬۰۰۰ | - |
| وزارت صحت عامه | پروژه صحتمندی | ۹۲٬۰۱٦٬۹۲۱ | - |
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | ساختمان و تجهیز دفتر ترویج در ولایات و ولسوالی ها | ۱٬۰٥٥٬۳۰۰ | - |

| | | | |
|---|---|---|---|
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | تهیه و توزیع  تخمهای بذری و کود کیمیاوی | ۹٬۷۲۶٬۶۰۰ | ٤٬۲۳٦٬٦۰۰ |
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | برنامه ملی انکشاف مالداری و صحت حیوانی | ۸٤٦٬٤۱۱ | ۸٤٦٬٤۰۸ |
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | برنامه ملی باغداری و مالداری (NHLP) | ۲۸٬٦۳۱٬۹۳٥ | ۱٤٬۲۳۰٬۰۰۰ |
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | مبارزه علیه آفات و امراض نباتی | ۲۱۹٬٦۰۰ | ۲۱۹٬٦۰۰ |
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | انکشاف زراعت در ولسوالی های سرحدی (Project Border) | ٦۳۷٬٤٤٤ | ٦۳۷٬٤٤٤ |
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | توسعه کشت پخته و زعفران | ۷۷٦٬۰۰۰ | ۱۰٬۰۰۰ |
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | احیا و اعمار  ذخایر استراتیژیک گندم | ٤٬۹٤۸٬٤٦۰ | - |
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | برنامه ملی تنظیم منابع طبیعی به اشتراک جامعه | ۹٥۷٬٦۰۲ | ۹٥۷٬٦۰۲ |
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | پروژه آبیاری و ذخایر آب | ۷٬٦٤۲٬۳۹۱ | ۷٬٦٤۲٬۳۹۱ |
| وزارت زراعت آبیاری و مالداری | ایجاد باغچه های خانگی و مصونیت غذائی | ۳٬٤۰۹٬۰۰۰ | ۱۲۰٬۰۰۰ |
| وزارت انرژی و آب | تحکیم سواحل دریا ها | ٦٬۲۷۷٬٤٥۰ | - |
| وزارت فواید عامه | برنامه ملي سرک های روستایی ( وزارت فوایدعامه ( | ٦۷٬۷٤٥٬۲٦۳ | ٤۰٬٤۸۲٬٦۹۹ |
| وزارت فواید عامه | ساختمان سرک انگور اده الی شرنه بطول ٥۰ کیلو متر | ۸۳۳٬٥۱۹٬۹۸٥ | ٦٤۲٬۸۰۰٬٦۷٦ |
| وزارت فواید عامه | دیزاین و ساختمان سرک ولسوالی ارگون الی لسوالی گیان ولایت پکتیکا | ٦٬٤۰۰٬۰۰۰ | - |
| وزارت احیاء و انکشاف دهات | برنامه ملی سرکهای روستایی (NRAP) /برنامه ملي دسترسي به دهات (ARAP) | ۲۳٬۳٦۷٬٤۲۳ | - |
| وزارت احیاء و انکشاف دهات | برنامه ملي تهیه آب درروستاها و آموزش حفظ الصحه محیطي | ۲٬٤٦۲٬٤۷۷ | ٤٤۰٬۲۸۰ |
| وزارت احیاء و انکشاف دهات | پروژه هاي کوچک انکشافي در سرحدات( وزارت احیآ و انکشاف دهات) | ٤٬٦۰۹٬٦۷۰ | ۳٬۹۸۱٬۲٤۹ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| وزارت احیاء و انکشاف دهات | شبکه های آبرسانی ،تحکیم کاری و حفر چاه آب آشامیدنی - پروژه های ولایتی ضمیمه بودجه سال ۱۳۹٦ | ۱٬۳۷۱٬۱۲٤ | - |
| وزارت احیاء و انکشاف دهات | وجوه غیر مشروط به ولایات (انکشاف دهات) | ۱۲٬٤٦۸٬۰۰۰ | - |
| وزارت احیاء و انکشاف دهات | احیای مجدد کاریزها وجلوگیری از سیلاب ها | ٦٬۱٦۷٬٦۸٥ | ٤٬٤۲۳٬۱۹۲ |
| وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین | برنامه انکشاف مهارتها | ۸٬۱٦۳٬۳۲٤ | ۸٬۱٦۳٬۳۲٤ |
| وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین | پروژه ریفورم تقاعد و مصؤنیت اجتماعی | ٤۹٦٬۸٤۸ | ٤۹٦٬۸٤۸ |
| وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین | پروژه  الکترونیکی سازی و ریفورم وزارت | ٥۳۱٬٦٥۲ | - |
| وزارت مبارزه علیه مواد مخدر | تقدیر ازاجراات خوب(GPI) | ۹٬٥۳۰٬٦۹۲ | ٤٬۳۳۲٬۱۳۳ |
| وزارت مبارزه علیه مواد مخدر | کنفرانس پنج جانبه وآگاهی عامه از اضرار مواد مخدر ، تشریح وباز نگری پالیسی ها در سطح کشور | ۷۰٬۰۰۰ | ۷۰٬۰۰۰ |
| وزارت امور شهرسازی | اعمار تعمیر ولسوالی خوشامند ولایت پکتیکا | ٦٬۷۹۸٬۳٤۸ | ٦٬۷۹۸٬۳٤۸ |
| وزارت امور شهرسازی | برنامه ساختمان های عامه دولتی | ۷۰۰٬۰۰۰ | ۷۰۰٬۰۰۰ |
| وزارت عدلیه | اعمار تعمیر مراکز اصلاح و تربیت اطفال | ۲٤٬۰۰۰٬۰۰۰ | ۸٬۱۷۳٬٦۷۷ |
| اداره مستقل ارگانهای محلی | پروژه شاروالی ها ی افغانستان | ۱۹٬۹۳٦٬٦۲۷ | ۱٦٬٦۳۲٬۳۳٥ |
| اداره ملی حفاظت محیط زیست | ظرفیت سازی ملی تعلیمات آموزش و آگاهی محیط زیستی | ۳۰٬۰۰۰ | - |
| کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی | حمایه از خدمات ملکی افغانستان | ۳٦۰٬۰۰۰ | ۱۸۰٬۰۰۰ |
| اداره مرکزی احصائیه | اعمار تعمیر اداره مرکزی احصائیه در مرکز و ولایات | ٦٬۹۲۳٬۳۲۹ | ٦٬۲۳۰٬۹۹٦ |
| مجموع | | ۱٬٥۹۲٬۷٦٦٬۱٦٥ | ۹۸۰٬۷۹۷٬٥۸۳ |

# څلورم څپرکی

## د نادولتی موسساتو کړنې

- په پکتکا ولایت کی ټول (۱۳) نادولتی موسسات فعالیت لری چی (٦) یی داخلی او (۷ ) موسسات خارجی دی .
- په پکتیکا ولایت کی ( ۱۱) یی په مرکز او ولسوالیو کی فعالیت لری او (۲) موسسات یی په یوازی په ولسوالیو کی فعالیت لری .

په پکتیکا ولایت په سطحه په روان ۲۰۱۸ ملادی کال کې ټول (۱۳) موسسات فعالیت کوی چی له دی جملې څخه یی (٦) موسسات یی ملي او (۷) یی نړیوال موسسات دی چی د یادو موسسات IMC, ORCD, AREA,SI,RI, OHPM (ACTED UNICEF, WHO, WFP,DCA,HNLP, DCA AADA موسسات دی .

- ➢ ORCD موسسه چی د کلیوپراختیا او بیا رغوني ریاست ، مهاجرینو او بیارستندونکو چارو ریاست او کرهنې او مالداری ریاست سره فعالیت کوی .
- ➢ یاده موسسه په نظارتي فورمو کي منظمه همکاري کوی ولي یادي موسسی خپل شپږمیاشتني او کلني راپور اقتصاد ریاست ته رالیږی خو په خپل وخت سره بې نه رالیږي او هم په هغهو ساحو کی چی امنیت وي کومه توزیع چي کوي د اقتصاد ریاست په جریان کي نه اچوي او د موسساتو دهماهنگی غونډو کی منظم ګډون کوي.
- ➢ IMC موسسه د عامی روغتیا ریاست سره همکار موسسه ده چی کاری ساحه یې مرکزي شفخانه تمویل کول دي. یاده موسسه د نظارت په وخت کي د اقتصاد ریاست سره خپله همکاری کوی ولي عمده مشکل یې داده شپږمیاشتني او کلني راپورونه یی په وخت او زمان داقتصاد ریاست ته ندي سپارلي او هم یي د۱۳۹٦ کال د قوس په میاشت کي د موسساتو د هماهنگی په غونډه کی ګډون نه وکړي.
- ➢ UNICEF موسسه دعامی روغتیا ریاست سره د واکسین په برخه کی کار کوي. ولی داقتصاد ریاست سره په هیڅ برخه کی همکاري نده کړی او د موسساتو دهماهنگی غونډو کی هیڅ ګډون نده کړي
- ➢ WHO موسسه د عامی روعتیا ریاست سره د واکسین په برخه کی فعالیت کوی کاری ساحه یې پکتیکا ولایت په سطحه ده.ولی داقتصاد ریاست سره نه دنظارت په برخه کي همکاري کړي ده او نه یې هم کوم راپور اقتصاد ریاست ته راکړي ده او د موسساتو دهماهنگی غونډو کی هیڅ ګډون نده کړي.
- ➢ WFP موسسه اوس مهال کومه خاص پروژه نه لرئ. مخکي خپل معلومات او راپورونه داقتصاد ریاست ته رالیږل ولی روان کال کی په پکتیکا ولایت کي دفتر شتون نلری نو په دی اساس یی داقتصا ریاست له کړنو څخه خبر نلری او نه یی هم کوم راپور داقتصاد ریاست ته رالیږلي ده او د موسساتو دهماهنگی غونډو کی هم منظم ګډون نده کړي
- ➢ SCAموسسه د پوهني ریاست سره د محالي ښوونځیو تمویل کوي او هم یی شوونکو ته معاش ورکوی کاري ساحه یې د یوسف خیل، یحیاخیل، جانیخیل ، سروضه ، متاخان او مرکزشرنه کی فعالیت کوي. په پکتیکا ولایت کی دفتر نلری، شپږ میاشتني او کلني راپورنه یی رالیږلی خو په خپل وخت او زمان یی ندی رالیږلي او

هم یی له کړنو څخه د اقتصاد ریاست لخوا نظارت نده شوي چی یوازنی دلیلونه یی داده چی یادی موسسي دفتر په پکتیکا ولایت کي نلری او هم داقتصاد ریاست په جریان کي نده اچولي او د موسساتو دهماهنگی غونډو کی هم منظم ګډون نده کړي.

- AREA موسسه د پوهنی ریاست او عامی روعتیا ریاست سره د یونسیف پروژو څخه په مختلفو ولسوالیو کي نظارت کوی. نظارتي فورمي ورڅخه ډکي شوی دی خو یاده موسسه شپږمیاشتني او کلنۍ راپورنه داقتصاد ریاست ته رالیږلی دی خو په خپل وخت او زمان یی ندی رالیږلي

# د نادولتی موسساتو جدول

| No | NGOs Name<br>د موسسی مخفف او نوم | Category<br>کتگوری | Sector of Activity<br>د فعالیت ډول | Office Address<br>په پکتیکا کی ددفترپته | Contact Person<br>دمسول نوم | Contact No<br>داړیکی شمیره | Email<br>برشنالیک |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | IMC | International | دعامي روغتیا ریاست | حاجی غفور مارکیت | ډاکتر چنار گل | ٠٧٧٨٣١٦٦٠ | gsedizi@internitionalmedicalgorp.org |
| ٢ | UNICEF | International | دعامي روغتیا ریاست | د عامی روغتیا ریاست | قاضی عبدالولی | ٠٧٦٥٩٠٨٦٨٦ | Qsaleqi٤@gmail.com |
| ٣ | WHO | International | دعامي روغتیا ریاست | د عامی روغتیا ریاست | ډاکتر عظیم | ٠٧٩٧٠٥٦٠٤٦ | Mohazim٩٩@gmail.com |
| ٤ | WFP | International | د خپلو پروژو نظارت | اجمل مارکیت | بریالی | ٠٧٧٩٢٩٧١٥٠ | Taibka٢٠٠٠@gmail.com |
| ٥ | SCA | International | د پوهني ریاست | نلری | سلطان محمد | ٠٧٩٢٧٩١٤٧٣ | Sultan.mohammad@gmial.org.af |
| ٦ | ORCD | National | کلیوپراختیا،مهاجرینواو کرهني ریاستونه | شاروالی مارکیت | عبدالخالق | ٠٧٢٩٨٠٢٩٣٠ | Abdulkhaliq.munsif@gmail.com |
| ٧ | AREA | National | کلیوپراختیا،عامی روغتیا اوپوهني ریاستونه | ډاکتر عبدالکبیر مارکیت | محمد عادل | ٠٧٧٠٣٣٦٧٠٤ | mansoor@area-af.or |
| ٨ | OHASA | National | د خوراکی او غیر خوراکي مواد له توزیع څخه نظارت | اورگون ولسوالی | محمدعثمان | ٠٧٦٤٥١٣٤٥٢<br>٠٧٠٢٠٠٧٧٤٨ | usman.o.hasa@gmail.com |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٩ | OHPM | National | دعامي روغتيا رياست | حاجی عبدالعزیز مارکیټ | ډاکتر نظام الدین | ۰۷۹۹۲۹۷۱۵۸ | Ohpm.pm.pkt@gmail.com |
| ۱۰ | AADA | National | دعامي روغتيا رياست | عامی روغتیا ریاست | بی بی روگل | ۰۷۸۷۸۸۳۰۳۵ | Rogulwardek۲٤@gmail.com |
| ۱۱ | NHLP | International | کرهنې رياست | کرهنې ریاست | محمد ریاض | ۰۷۷۵۲۲۹۹۸۱ | m.riaz.afzalwal@gmail.com |
| ۱۲ | ORD | national | کلیوپراخيا رياست | صحت عامی سره | عبدالله | ۰۷۷۸۲۱۷۳٤۱ ۰۷۷۷۸۵۹۵۳۲ | Abdullaghafri@gmail.com |
| ۱۳ | RI | International | کلیوپراختیا،مهاجرينو او عامی روغتيا رياستونه | حاجی هاشم مارکیټ | انور شاه | ۰۷۷۹۹۹۵۷۵۳ | Anwar.sadat@ri.org |

# پنځم څپرکی

## دپکتیکا ولایت انکشافی طرحه :

پکتیکا ولایت یو له ورسته پاته او کم پرمختللی ولایت دی او د زیات مساحت او نفوس په اندازه ورته د اړتیا سره سمه پاملرنه نه ده شوی چی د ورسته پاته کیدلو علت یی هم دمرکزی دولت له لوری ورته کمه توجه ده
دا چی د پکتیکا ولایت د کرنی لپاره وړ او پراخه ځمکی، پراخه دښتی ، میوه لرونکی باغونه، بیساری ځنګونه او طبیعی زیرمی لری. نو اړینه ده چی د ثبات او ودی لپاره ورته د ملی ستراتیژیو او تګلارو پراساس سیمه ییزی او ولایتی ستراتیژیګانو او طرحی رامنځته شی. تر څو ملی موخی او برنامی په موثره بڼه پلی شی او د عامه خدمتونو د وړاندی کولو کچه لوړه شی.
پکتیکا ولایت په پراخه پیمانه کرنیزی ځمکی او مناسب اقلیم په درلودلوسره دپکتیکا ولایت غوره کرنیز محصولات لری چې عبارت دی له: غنم، جوار، وربشی . میوه جات انګور، منې،زردالو،کچالو،رومی بانجان،چلغوزی اوداسی نور..
غنم په ټولوسیموکی کرل کیږی . دمیوه جاتو باغونه په مرکزشرنه،کتواز،متاخان،ارګون،سروبی،ګومل او برمل ولسوالیو کی ښه اومثبته نتیجه ورکوی چی د جلغوزیو دپروسیس لپاره مخکی طرح جوړه شوی ده او په دوهمه درجه کی چی په پکتیکا ولایت لوړ تولیدی ارزښت لری ددی طرح په پلی کولو سره به اقتصادی وضعیت کی بدلون رامینځ ته شی.
په پکتیکا ولایت کی زیات وګړی په کرهنه بوخت دی او له دی لاری خپلی ورځنۍ اړتیاوی پوره کوی نو په دی برخه کی کارو کول دپکتیکا ولایت دپرمختګ یوازنی لاره ده .
پکتیکا ولایت د پاکستان هیواد سره لوی ګډه پولی په درلودلو سره دکرنیزو محصولاتو لپاره دصادراتو لپاره ډیری اسانتیاوی لری نو په دی اساس کرهڼه ددی ولایت په اقتصادی رخه کی رغنده رول لوبولی شی .
پکتیکا د هیواد له سرحدی او سترو ولایتونو څخه ګڼل کیږی، چی د ډیورنډ فرضی کرښی په اوږدو کی فبایلی سیمی ، پکتیا، خوست، غزنی او زابل ولایتونو سره ګډه پوله ،پراخ مساحت او ګڼ نفوس لری له دی سره سره پکتیکا ولایت د هیواد په کچه د نفتو پنځمه لویه خوزه شمیرل کیږی او همدارنګه پکتیکا ولایت د قومی جوړښتونو په اساس ځانګړی نوم او شهرت لری چی زیاتره پریکړی د قومونو ترمنځ شخړی یی د همدی لاری حل کیږی. پکتیکا د مهمو ټولنیزو او فرهنګی شخصیتونو ټاټوبی دی چی هیواد ته یی ګڼ شمیر کلتوری ،ټولنیزی او ادبی خدمتونه ترسره کړی دی.
پکتیکا ولایت د هیواد د غرنیزو ولایتونو او تاریخی سیمو څخه ده . چی طبیعی زیرمی ، قمیتی ډبری، اوبه او ځنګلونه د دغه ولایت په اقتصادی پیاوړتیا کی ځانګړی رول لری دا چی له یادو زیرمو اغیزناکه او موثره ګټه پورته کړی شی اړتیا ده چی د اوسنی وضعیت د تخلیل پر بنسټ یو تولنیز او ګټوره طرحه ترتیب او پلی شی.
په تیرو پنځو کلونو کی دپکتیکا ولایت دکرهنی په وضیعت کی یوه اندازه بدلو رامینځ ته شوی چی دمحصولاتو په تولید کی یی زیاتوالی رامینځ ته کړی ده په تیرو کلونو کی د دولت او همکارو موسساتو دهڅو او کوښښونو سره سم دبزګرانو دپوهی کچه لوړول ،داصلاح شویو تخمونو او نویو وراینټی ګانو رواجول ، دافاتو او امراضو په وړاندی دمبارزی لاربښونی دمحصولاتو په کمیت اوکیفیت کی مثبت بدلون رامینځ ته کړی ده .
په تیرو پنځو کالونو کی په پکتیکا ولایت کی دوه کرهنیز ګدامو ،۱۲ حیوانی کلنیکونه ،واړه بندونه ،سربندونه ،کانالونه او دکرهنی په برخه یوشمیر نوری هغه پروژی دی چی دکرهنی وضعیت یی بدل کړی ده .

ولی پکتیکا ولایت ته په هغه اندازه چی لازیمه وه توجه دکرهنی په برخه کی کمه شوی ځکه چی پکتیکا ولایت سرحدی ولایت دی دلته راکړه ورکړه له گاونډی هیواد سره په اسانه ترسره کیدای شی چی داکړنه دهیواد په ملی اقتصاد کی خورا ښه رول لوبولای شی .

په پکتیکا ولایت کې (۲۵)٪ سلنه خلک د فقر دکرښې لاندی ژوند کوي او (۱۵) سلنه خلک له لوږی څخه ځوریږي.

زیاته دکار قوه شتون لری ولی په هغه اندازه کاری فرصتونه شتون نه لري .

دجنسیت په بنسټ (۱٬۹۹) سلنه ښځی بوختیا لری .

دتولیداتو په برخه کی اوس مهالو پنځه وړي فابریکي فعالیت لری چی ټوله پانگه اچونه یی (۷۵) میلونه افغانی ته رسیږی .

دلاسی صنایعو دتولید ارزش یی معلوم نه ده په بازار کی نه بلکي په کلیو کې خرځیږي.

خصوصي سکتوروده نه ده کړی ، صنعتي پا رکونه نه دي جوړ شوي,دگمرکاتودتعمیراتواووسائیلوکمبود ده.

ولی بیاهم په ورستیوکی دگمرک اوانحصارتو عواید (۱٤۰) میلونه دي چې د پام وړزیاتوالی په کی راغلی دی






| افغانستان | |
|---|---|
| ولایت: | پکتیکا |
| دولایت مرکز : | ښرنه |
| جغرافيايي ځانګړني: | E =٦٩,٥٤°او N=٣١,٥٩° |
| مساحت: | ١٩٥١٥,٩کیلومرتره مربع |
| نفوس: | ١′٠٣٦′٥٥١تنه |
| ژبی : | پښتو او دری |

## د طرحی بنسټیزه موخه:

دمولد افغانستان دستراتیژی سره سم په پکتیکا ولایت کی دمڼو دتولید انکشافی طرحی په پلی کولو سره به وتوانیږو چی خپل داخلی تولیداتو ته وده ورکړو دبیکاری کچه کمه کړو دبرهر نه دراتونکو ورداتو مخنیوی وکړو .
دمڼو دحصلاتو او تولید دزیاتوالی دطرح اصلی او کلی هدف دکرنیزو محصولاتو دکیفیت او کمیت لوړالی ، دهیواد په اقتصاد کی مثبت بدلون ، دنوی باغونو احداث او په ټوله کی دپکتیکا ولایت دبزګرانو ته دمڼو دباغونو په برخه کی مهم او ساسی کار ترسره کول ، دښته ستونزو له میځه وړل ،له طبعی منابعو څخه په سمه توګه استفاده کول دی .
په دی طرح سره به وکولای شو ترخو معلومه کړو چی په پکتیکا ولایت کی د جلغوزو د تولید څخه په دوهمه درجه کی ارزښت لرونکی محصول منه شمیرل کیږی .

# د پکتیکا ولایت کرنیز اقتصادی وضعیت:

پکتیکا ولایت په پراخه پیمانه کرنیزی ځمکی او مناسب اقلیم په درلودلوسره دپکتیکا ولایت غوره کرنیز محصولات لری چې عبارت دی له: غنم، جوار، وربشی . میوه جات انگور، مڼی،زردالو،کچالو،رومی بانجان،چلغوزی اوداسی نور..
غنم په ټولوسیموکی کرل کیږی . دمیوه جاتو باغونه په مرکزشرنه،کټواز،متاخان،ارگون،سروبی،گومل او برمل ولسوالیو کی ښه اومثبته نتیجه ورکوی.
کچالوپه مرکزښرنه ، ارگون،سروبی،اودکټوازپه سیموکی په زړه پوری حاصلات لاسته راوړی همدارنگه هغه حاصل چې ښه اواقتصادی گټه لاسته راوړی عبارت له چلغوزوڅخه ده چې دغه حاصل په ارگون، سروبی،گومل،برمل،نکه، گیان زیړوک،سروضه،اومنه اواوړممی ولسوالیوکی غوره اولوړحاصلات لاسته راوړی.
په غرنیو او نیمه غرنیو سیموکی يي بادام اوچلغوزی له عمده کرنیزومحصولاتو څخه شمیرل کیږی.
دپراخو دښتو او غرنیو سمیو په درلودلو سره يي په زیاته اندازه وکړی په مالداری بوخت دی چې ځانگړی اقتصادی ارزښت لری اوس مهال دغه ولایت(٦٨٦٨٦٥) هکتاره آبی ځمکی ،(٩٠٠٠) هکتاره للمی ځمکی، (١١٧٣٨٨٦) کتاره علفچر،(٢٧٤٥) هکتاره باغداری ځمکی او(٣٠٥٦٤٠) هکتاره ځمکه يي طبعی ځنگلونو پوښلی دی چې زیاته اندازه د اوبو کمښت په کی احساسیږی.
دبزگرانو اتحاديي (کوپراتیفونه ) جوړول ، دسبزیجاتو و حبوباتو او غله دانو د نویو ورایټگانو رواجول ، د زراعتی ماشین الاتو میکانیزی جوړول،دبوټو او نیالگیو د ناروغیو د مخنیو لپاره د کیمیاوی دواگانو وړاندی کول ، بزگرانو ته دابیاری ، دباغونو په عصری ډول جوړول ،دمالداری د ودی او انکشاف په منظور هڅی دساری اونورو ناروغیو د مخنوی لپاره هڅی اوپه ولسوالیو کی دحیوانی میخانیکی طریقو رهنمايي کول ،د مالداری د ودی او انکشاف ، او په ولسوالیو کی دحیوانی کلنیکونو جوړول ، مالدرانو ته دمالونو دښی تربيي په اړه د ترنینگونو جوړول، د مالونو د ساری ناروغیو د مخنیوی لپاره د واکسینونو تطبیق کول ،د مثمیرو او غیرمثمیرو نیالگیو قوريي جوړول ، د شاتو مچبو روزل او تربیه او بزگرانو ته د شاتو مچبو د ساتنی او ښه پلان لپاره ترنینگ ورکول ،د بزگرانو لپاره د سبزیجاتو ، باغونو، غله جاتو ، نمایشی قطعات جوړول اوداسی نور په کرکیله پوری اړونده چاری دی چه د کرهنی ریاست يي تولنی ته پرمخ بیايي او د پکتیکا ولایت د کرهنی په اقتصادی اوټولنیز وضعیت کی يي د تیر په نسبت بشپړه بدلون رامینځ ته کړی دی.
په پکتیکا ولایت کی د (بدیل معایشت، NHLP ) برنامی کارونه ترسره شوی دی چې په دی سره هم بشپړه بدل راغلی ده په کرهنه يی خلکو ته یوه اندازه کارونه لکه دگرین هوسونو ،سړوخونو او باغونو جوړلو پروژی ترسره کړی دی .
په پکتیکا ولایت کې (٢٥)٪ سلنه خلک د فقر دکرښې لاندی ژوند کوي او (١٥) سلنه خلک له لوږی څخه ځوریږي.
زیاته دکار قوه شتون لری ولی په هغه اندازه کاری فرصتونه شتون نه لري .
دجنسیت په بنسټ (١٬٩٩) سلنه ښځی بوختیا لری .
دتولیداتو په برخه کی اوس مهالو پنځه وړي فابریکي فعالیت لری چی تولـه پانگه اچونه يی (٧٥) میلونه افغانی ته رسیږی .
دلاسی صنایعو دتولید ارزش يی معلوم نه ده په بازار کی نه بلکي په کلیو کې خرځیږي.
خصوصي سکتوروده نه ده کړی ، صنعتي پا رکونه نه دي جوړ شوي,دگمرکاتودتعمیراتوواوسائیلوکمبود ده.
ولی بیاهم په ورستیوکی دگمرک اوانحصارتو عواید (١٢٠) میلونه دي چې د پام وړزیاتوالی په کی راغلی دی

## باغداری(Horticulture)

ددی ولایت د خلکو د اقتصادی ژوند یوه مهمه برخه تشکیلوی .
باغ او باغداری د کلونو راهیسی په پکتیکا ولایت کی په عنعنوی ډول رواج لری مهمی ونی چه په باغ او باغـــداري کـی کرل کیږی عبارت دی له بادام ، زردالو، انار،انګور،مڼې او شـفتالو دی د پکتیکا ولایت د تخـــمینی راپورنو لـــه مخی تقریبا ( ۲۷۵٤) هکتاره مختلف باغونه لری د برابر او مـــناسب اقلیم له لـــرلو سره سره چه پکتیکا یـي د بـاغ او باغـداری په عرصـــه کی لر ی او د حاصل ورکولو لوړ ظرفیت لری.

### ځنګلات(Forests)

دپکتیکا ولایت اکثره برخي په طبعی مثمرو اوغیر مثمروونو، بوټو اوګیاوو پوښل شوی دی چه نوموړی ولایـت ته یي یـوه طبعی ښکلا وربښلی ، د اهلـی ، وحشـی حیوانـاتو او مرغـانو لپـاره یـي یـو لازم اومناســـب بستر جــــوړ کـړی ، دسیلابونو د راتګ مخنیوی کوی او د دی ولایت اونورمملکت داوســـیدونکو لپاره دسون او تعـمیراتـــی لــــرګیو برابـرول اوهـم درنګارنګ میوولکه جلغوزی ،شـنيي اوداسـی نورحاصـلات پکـی پیـداکیږي. دپکتیــکاولایت شــیرازه ځـــنګلونه دجلغوزی، نشتر ،شنی ،ارچې ، بلوت ،بشته اوداسی نورونو څخه تشکیل شـوی دی هـــمدارنګه هغه بـوټی کوم چه په دوا اونورو کارونو کی دارزښــــت وړدی لکه ځیره ،قوری ، خوژولی ، خمزوری ، پـښی ، رواشي اوداســی نـور پـــکی پـــیداکیږي اوهغـه وحـــــشی حیوانـــات چه دپکتــــیکا ولایـت پـه ځنـــــګلونو کی اوسیژی لــــــکه هوسی،لیوان،سحرایچرګان ، زاڼې ،زرکـــی ، سوبي ، سیسی اوداسی نور . دپکتیکا ولایــت ځنـــــګلونه اوپه هغه پوری اړونده بوټــی اوحیوانات هم دنورافغانستان په شان دردیو لسیزو ناخــوالو اوجنګونو څـخه پـه امن نـه دی پاتی ددنګو نــبنترو په نازکــــــــو ملاو دظــــالمانو دتـــبرونوواړونه زغملی اودیړرو مــــــلاویي ورماتی کړی دی بی قــــانونه شـــــــکاریانو دېولوځـــــنګلی ژوودژوندمحیط په خپلوبی قانونه استــــــــفادوله منځه وړی .
خوخوشبختانه لاتراوسه دغیرتی قومونواوډیروقبیلو یي دحفاظت لپاره دهمـــت ملاتړلـی دهغـوی حفاظت کـوی دلـوړو غرونو په سریي هم دعزت اوهمت نښتر جګی غاړی نیولی اوخپل ژونــــــد ته ادامه ورکوی اګر چه دوامداره وچکالی هم ددی ناورینونو یوه برخه جوړوی اوډیر بـد اثـــــرات یي پـه دی برخـه کـــی واردکړی خوبیا هـم کـه لازم تصـمیمونه اومناسب اقدامات وشی ددی قیمتی اوارزښـــــــتناکه نعمت دساتنی اوبیرته راژوندی کولو لپاره به موځه کړی وی اوکه خدای مه کړه بی پروا پاته شو نو نه جبرانیدونکی خـــــساری به ددی ملک موجوده اواینده نسلونوته ورواړی ددی لپاره چه کومی لاری چاری بایدپه کارواچول شی ترڅوددی طـــبعی ښکلا، نعمت اومنابعو ساتنه وشی .

### غذايي مصئونیت(Food Security)

غذايي مصؤ نیت چه دانسان په ژوند کی یوحیاتی اهمیت لری هغه داچه هر انسان ته بایـد زمینـه مسـاعده شـی ترڅـو کافی فزیکی اواقتصادی لاس رسی غذا ته چه انرژی ولری مغذی اوصـحی وی پیداکړی. ټول افــــرادددجامعی باید غذايي مصؤنیت ولری دپکتیکا ولایت چه دپاملرنی ورمنابع لـری خومتاسـفانه پکارنـه دی اچول شـوی اوداچـــه کـوم عوامل په غذايي مصؤنیت باندی بد اثرات لری اوڅــرنګه کولای شو په نومـــــوړی ولایت کـــی غـذايي مصؤنیت رامـــنځ ته کړو.

**دحیواناتو انکشاف(Improvement of live stock)**

دحیواناتو روزنه دپکتیکا په ولایت کی ددی په اساس ښه رونق موندلی چه پراخه څړ ځایــونه هـمواری دښـــتی لـری اوغرونه ئی په رنګارنګ بوټو اوونوپوښلی دی اوهمدارنګه تپه زاری ساحی چه د کوچنیو او غـــټو مالـونو لپاره په زړه پوری څړځایونه لری چه تقریبا ٪۵۰ وګړی د پکتیکا ولایت د مالداری له لاری دخپل ژوند مـصارف پـــوره کوی سره لـه دی چه په نوموړی ولایت کی څنی مالدار د کوچیانو د تګ راتګ لاره هم پـه هـمدی ولایـــت کی ده او د یـو شـمیرکوچیانو پسرلنی ټاټوبی هم ګڼل کیږي دا چې پکتیکا د مالـــداری له کبله مـــناسب ځایونه لـــــری لکه څړ ځایونه اومناسبه اب هوا لری نولازم ګڼل کیږی هغه فکتورونه چه د مالدارو د ستونزو په لمنځه وړلو کـــــی کمک کـوی مالـداران باید وهڅول شی تر څود دی ولایت مالداری نه تنهـا چـه خـو د کفاشـی بلکـی صـادراتی ښه هـم غـوره کـړی او مـــالداری دبیلابیلو هدفونو لپاره لکه د لبنیاتو ، وړیو ،پوستکو د تولید په منظور او همدارنــــګه د بار وړلـو او سـپرلی لپاره او هـم د ژوند څخه د خوند اخستلو لپاره رنګارنګ مـــرغان روزی.

دطبعی منابعو تنظیمول*(Natural source arrangement):*

ثابته او معلومه خبره ده چه د زراعت سکتور د پکتیکا ولایت د اقتصادشمزی او اساس تشکیل کـړی او زراعتـی طـبعی منابع لکه ځنګلونه ، د اوبو منابع ، د خاوری حاصل ورکولو ،څړ ځایونه ، د ژوو ژوند کوم چه دتیـرو جنګونـو او وچـــکالیو په واسطه ډیری زیـانمن او حتـی د نـابودی سره مخـامخ دی طبعـی ځنګلونـه کـوم چـه د ایکوسیـــــــــستم یـو همکـار ،کـمکی او حیاتی ضامن ګڼل کیږي په بی رحمانه ډول قطعه ،عامه څمکی، فارمونه او څړځایونـه دشخصـی ګټـو لپـاره استعمالیږي .

او یاهم د نه پاملرنې له امله د طبعی امراضو او افاتو په اثر خراب شوی هغه دښـــتی او غـــــرونه چـه د زرګونـو کلـــنو مبارزی او ایکولوژیکی مرحلو په طی کولو سره دطبعی بوټو په واسطه پوښلی دی په تدریجی ډول دسـون د مـــوادو پـه خاطر په جمعی ډول تخریب او د سپیرو بیابانونو د زیاتیدو سبب ګرځیدلی .

د اوبو منابع د وچکالیو، بی ځایه ژورو څاګانوکیندولو په وجه ښکته تللی چه د کاریزو او چینو د وچیدو سبب ګرځیـدلی دخاوری حاصل خیزی دمختلفوعواملو په وجه کمه شوی چې لا هم دوام لری .

سربیره پر دې د طبعی منابعو دکیفیت دکـــــــــموالی اوکم حاصل په موخه څوک په دی برخه کی پانګه اچونـه نـه کوی داچه د دی ولایت زیاتره نفوس په طـــبعی منابعو ولاړ او متکی دی او زیاتره ترلـوی تهدیـد لانـدی دی نـو لازم او ضـروری ګڼل کیږي چه دولت اوعام وګړی ددی غنی او با ارزښته نعمتونو او منابعو څخه په مناسبه طریقو استــــفاده او لازم ساتنه وکړی څکه چه همدا منابع دی چې انسانان د دوی په موجودیت کـی ژونـدکولای شـی پـه هرانـدازه چـه مـنابع لمنځه ځی د ژوند امکانات هم کمیږي او حتئ ژوند ناممکن دی ددی لپاره چه ایمانـی ، وطنـی وجیــــــبه او وظـــــیفه مو ادا کړی وی او د نوموړو منابعو څخه په ښه توګه ساتنه کړی وی .

**ابــــــیاری(Irrigation)**

د پکتیکا ولایت زیاتره څمکی للمی او یا هم په کاریزونو اوبه کیږی او یوه برخه یې هم په سربندونو او ویـالو ابـــــــیاری کیږی.داچې ابیاری د زراعت لپاره یو حیاتی برخه بلل کیږی بناً د هغه تنظیم او لا زمه استفاده هم یو ضروری او حتمی کار دي دولت مسؤلیت لری چې ددی لپاره لا زمی لاری چاری او مؤثر تدابیر ونیسـی او د اسـتـفاده کونــــکو تـه بـې دګټې اخیستنې په موخه ورکړي او له سرچینو څخه یې په مناسبه او لازمه طریقه استـــفاده وشـی چـې دا هغـه وخت امکان لـــــــری چې دواړه خواوی(دولت او استفاده کونکی) یو د بل سره هماهنګ کوشش وکـړی ترڅـو ددی دکمـو

منابعو ځخه اعظـــمی استفاده وشی .دا چې د نورو زراعتی منابعو په شکل ابیـــاری او داوبو سیستمونه د تیرو دریو لسیزو نا ارامی وضعیت او ځـــــوکلنی وچکالی په واسطه زیات متضرر اوپه اکثرو منطقـــــو کی د نـابودی سره مــــــخامخ دی نولازمی توجه او کار ته ضرورت دی ترڅو په دی برخه کی دخلکواو بزګرانو ستونزی حل شی . د هغوســـره باید هراړخیزه مرستی وشی ترڅو وکولای شو ددی منابعو ځخه لازمه او مناسبه استفاده وشی .

دتحقیق،ترویج او مارکیټ انکشاف:

معلومه او ثابته خبره ده چه پکتیکا یو وروسته پاتی او د تیرو حکومتونو د توجه ځخه لری پاتی ولایت دی، د خلکوعلمی سطحه نسبت نورو ولایتوته ډیره ښکته ده .کلی او بانډې یو د بل ځخه ډیری لری پرتـی دی اوهر ځـوک پـه عنـعنوی ډول زراعتی او د مالداری فعالیتونه سرته رسوی او په موجوده امکانـاتو د دوی لپـاره ددی ضـــــــروری عواملـــــو او عناصرو تهیه او رسول هم ناممکن دی.

نو دا اړینه بریښی چه د هر یوه په اړه هغه لازم تدابـــیر او لاری چـاری وسنجول شـی ترڅـو وکـولای شـو د زراعتـــــی محصولاتو کچه لوړه نوی ، عصری امـکانات او لاری چاری په خلکوکی ترویج او دتحقـــیقاتو د لاری مناســب نسلونه او ورایټی ګانی رواج او د وګړو وړ وګرځوو او دا زمینه مساعده کړو ترڅو زراعت منحیث د یو علم ،صنعت،او اقتصـاد په بنا د خلکو په منځ کی مطـــرح کړ نه داسی چه زراعـــت یوازی په عنعنوی ډول دوام وکړی.داچه باید زراعـــتی عملیـات او تولیدات د مارکیټ لپاره او د هغه په بنا تر سره شی.

د نوی تکنالوژی،عصری زراعتی ماشینری په علمی او عصری اســاس ولاړی زراعتی لاری چاری د نویو نسلونو او ورایټی ګانو ترویج او توسعه یوازی په نظری ډول ګټوره نه ده بلـــکه پـه عملـی توګـه بزګرانـو او مالـدارانو تـه د نومـوړو ځیزونـو وربښودل او هغویته تریــــنګ کول یولازمی کار بلل کیږی چې دا امر د حــــیوانی اونباتی تحقــیقاتی فارمونو تـه اړتیا لری چې باید په هره ولسوالی کی تاسیس تر څو د زراعت کارمـــندان او بزګـران وکـولای شـی تجروبوی او نـوی لاری چاری زده او عملی کړی لکه نمونوی قوریيي،د ځرګانوفارمونه د مختلفو حـبوباتو او سبزیجاتو د تخـم تکثیـر او تحقیقـاتو فارمونه ترڅو وکـــولای شی د ښه کیفیت لرونکی زراعتی محصولات تولیدکړی چه په داخـــلی او خــــــارجی مارکیټونو کی د رقابت توانمندی ولری .

## د بکر او بایرو مځکو د آبادیدو زمینه برابرول

داچه د پکتیکا ولایت پراخی دښتی او د کرلو لپاره مساعدی خـاوری لـری او پـه زیـاترو منـاطقو کـی تـر مځکـه لانـدی اوبوسطحه (Water table) ډیر نږدی دی او خلک کولای شی د واټر پمپ په واسته د آبیاری اوبه تهیه کړای شـی ترڅـو خپلی کروندی پری اوبه کړی او دخپلو فامیلونو لپاره غذایي مواد تهیه او د کار زمینه مساعده کړی بر علاوه له دی ځخه د مارکیټ لپاره مختلف زراعتی تولیدات تهیه او د قنا عت وړ عاید تر لاسه کـړی او د مملکت پـه اقتصـادی وده او ترقـی کی د پام وړ همکاری کولای شی.اوهم د هغه پتې بی کاری دروند بار کوم چه زمونږ د جامعی په اورو بـار دی ترمکنـه حده کم کړی.

نوضروری ګڼل کیږي ترڅو هغه مځکی کومی چه بعضی خلکوآبادی کړی او دولتی دی او نوری یي لاتراوسه شاړی پاتی دی (بکراوبایر(موات)) خلکو ته توضع کړو ترڅوخلک په زړه پوری توګـه او پـه ښـه اخلاص سره وربانـدی کـار او سرمایه ګذاری وکړی. تول ذیدخل ارګانونه د هیواد ریس جمهور د فرمان سره سـم د شـاړو ځمکـو د قـانون مطـابق د ملکیـت د شرعی او قانونی اسناد تهیه او د بی ځمکو بزګرانو، مهاجرینو، کوچیانو اومستحقو خلکوتـه ورکـړل شـی ترڅـو دعمـودی

ودی سره سره د زراعت تولیدات افقی وده هم وکړی. شاړی ځمکی د کیفیت او کمیت له نظره د کټواز ټولی ولسوالی د شرنی او مټاخان په شمول او ترځمکی لاندی اوبو د موجودیت له کبله د ډیر ارزش وړ دی.

په پکتیکا ولایت کې (۲۵)٪ سلنه خلک د فقر دکرښې لاندی ژوند کوي او (۱۵) سلنه خلک له لوږی څخه خوریږي.

زیاته دکار قوه شتون لری ولی په هغه اندازه کاری فرصتونه شتون نه لري.دجنسیت په بنسټ (۱٬۹۹) سلنه ښځی بوختیا لری .

دتولیداتو په برخه کی اوس مهالو پنځه وړي فابریکي فعالیت لری چی ټوله پانګه اچونه یی (۷۵) میلونه افغانی ته رسیږی

خلص جدول

| شمیره | موضوع | اندازه | واحداندازه گیری | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | دکشت وړابی ځمکي | ٦٨٦٨٦٥ | هیکتاره | |
| ۲ | دکشت وړللمی ځمکي | ۹۰۰۰ | هیکتاره | |
| ۳ | سړي خوني | ۰ | ۰ | |
| ٤ | ګرین هوس | ۱ | ۰ | دکرهنی ریاست مربط |
| ٥ | حیوانی فارم | ۰ | ۰ | |
| ٦ | زراعتی فارم | ۰ | ۰ | اوس ترکار لاندی ده |
| ۷ | د غله جاتو ،سبزی جاتو ،حبوباتواو میوه جاتو ارزش | ٢٦٣٨٧٦ | ټنه | |
| ارزش محصولات حیوانی | | | | |
| ۹ | غواګانی | ٥٢٠٠٠٠ | فرد | |
| ۱۰ | پسونه او وزی | ۱۹۰۰۰۰ | فرد | |
| ۱۱ | اسپ | ٤٧٠ | راس | |
| ۱۲ | چرګان | ۱۲۲۰۰۰۰ | قطعه | |
| ۱۳ | فیل مرغ | ۱۱۰۰۰۰ | قطعه | |
| تولیدات حیوانی | | | | |
| ١٤ | غوښه | ٥٥٨ | ټن | |
| ١٥ | شیدی | ١٤٨٥٠٠ | ټن | |
| ١٦ | هګی | ١٤٥٠٠٠ | دانی | |
| ١٧ | پسه وړی | ١٢٥ | ټن | |
| ١٨ | بزی وړی | ٨٠ | ټن | |
| ١٩ | لوی پوستکي | ٢٢٥٠ | جلد | |
| ٢٠ | واړه پوستکی | ٣٦٠٠ | جلد | |

## دمېوباغونو اقتصادی ارزښت:

دپکتیکا ولایت عمومی ټول باغونه دمختلفونوعو یومخلوط ځنګل تشکیلوی چی دجلغوزیو وروسته مېه یو . ارزښتناکه او دلوړکیفیت لرونکي میوه مېه ده چې دنوموړیو سیمودخلګویوعایداتي سرچینه ده دپکتیکا مېې چې عمومي دخرڅلاومرکزیی دشرنه ،جانی خیل ،یحیی خیل ،زرغون شهر ،یوسف خیل او ارګون ولسوالیو بازارونه دي چې له همدی ځایی څخه دداخلی سوداګرو په واسطه دهیواددداخل او دخارجي سوادګرو په واسطه پاکستان او نور هیوادونو ته صادریږي دپکتیکا باغونه دسیمه ایزو خلګوپه اقتصادي چاپیریالي او ټولنیزي پراختیا کي مهم رول لوبولي لکه دوچولرګو څخه دسون موادوپه حیث ګټه پورته کوي. داوبودزیرموتنظیم اودخاوری تخریب څخه مخنیوی شوي.
دپکیکا ولایت دمېو باغونولرونکوولسوالیو څخه هرکال له (۸۷۲۰۰) ټنه څخه تر(۱۰۰۰۰۰)ټنه پوری مېې تولید وی چې په داخلی او خارجی بازارونو کی خرید او فروش لری.

## په ملی عوایدو کی د مېو د صادراتو رول

په افغانستان کی کرنه عموما د ملي عوایدو په زیاتوالي کی عمده رول لري ځکه چې زمونږ زیاته اندازه کرنیز محصولات خارجي هیوادونو ته صادریږي چې له دغی جملی نه یوه مېه ده. دا چې مېه د پکتیکا ولایت یو د عمده باغی محصولاتو له جملي څخه ده چې انتقال یی د افغانستان په داخل کی او هم خارجي هیوادونو لکه پاکستان او د منځنی اسیا هیوادونو ته صادریږي. د مېی د محصولاتو په صادرولو سره خصوصي سکتور پیاوړی کیږي چې ورسره د پروسس مرکزونه، سټورونه او ټرانسپورټی شرکتونه منځ ته راځي. د بشري قوی په جذبولو او د خارجي پانګوالو جذب سره د افغانستان ملي بودیجی ته هر کال په کافي اندازه عواید زیاتیږي. پکیتکا ولایت مېو زیاته برخه پاکستان هیوادته دمرکز او ولسوالی له محلی مارکیټونو څخه صادریږي.

## په فقر او بیکاري کمولو کی دمېو د صادراتو او عایداتو رول

پکتیکا ولایت یو د ناامنه ولایتونو څخه دی چې همدا علت دی چې خصوصي سکتور یی کمزوری دی او هم دولت او خارجي موسسات ورته زیاته پاملرنه د صنعت په برخه کی نه کوي نو یوازینی لاره چې کرهنی ته پاتی ده هغه دمېو په عایداتو باندی اتقاده. په پکتیکا ولایت کی د تعلیم کچی ټیټوالی د وظیفو کمبود او نورو ستونزو خلک اړ کړي و چې د کرهنیزو محصولاتو له لاری خپل عایدات تر لاسه کړي. اوس چې باغدارانو د مېی فایده ولیده او خپل ژوندکی یی دمېو دمحصولاتو له لاری تغیر راغلی نو لیوالتیا یی نوره هم زیاته شوی ده. پکتیکا ولایت کی تقریبا (۹۶۰۰)هکتاره ځمکه کی د مېو باغونه موجوددي چې په زیاته اندازه خلکو ته یی د کار زمینه مساعده کړې ده او په اکثره ځایونو کی په کی د کورنی ټول غړي مصروف وي. دمېو د حاصل ټولولو وخت کی، بسته بندی کول،رفعه حاصیل کول او بارول هغه څه دي چې په پکتیا ولایت کی یی زرګونه خلک مصروف کړي دي او ډیری خلک د همدی لاری خپل عاید لاس ته راوړي چې د ډیرو خلکو په عایداتو کی تغیر راغلی دی او د فقر او بیکاری کچه یی تر ډیره بریده راټیټه کړی ده. په سلګونو دوکانداران، تجاران او موټروانان هم په کی مصروف دي. نو که چیرته دمېو تجارت همدغه شان دوام پیداکړی نو ویلی شو چې په یاد ولایت کی به د فقر او بیکاري کچه تر ډیره بریده راکمه کړي .
دراتلونکی ۳ دریو کلنو لپاره دتولید دزیاتوالی او دنهالونو دویش پلان

| دپکتیکا ولایت دمرکزشرنی ، ارگون ،زرغونشهر ، یحیی خیل ،یوسف خیل او متاخان ولسوالیو ته دمڼو داصلاح شویو نهالگیو د توضع دری کلن پلان | | | | |
|---|---|---|---|---|
| تعداد نهالونه | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | مجموع |
| | ۳۳۰۰۰ نهالونه | ۴۶۲۰۰نهالونه | ۵۲۸۰۰نهالونه | ۱۳۲۰۰۰ |
| اندازه په جریب | ۵۰۰ | ۷۰۰ | ۸۰۰ نهالونه | ۲۰۰۰ |

## په پکتیکا ولایت دسړخونو جوړولو دری کلن پلان

| دپروژی موقعیت | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | تعداد | لگښت فی باب | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مرکز شرنه | | ۱ | ۱ | ۲ | ۸۰۰۰۰۰؋ | دسړو خو دجوړونی پلان |
| یحیی خیل | ۱ | | ۱ | ۲ | | |
| متاخان | | ۱ | ۱ | ۲ | | |
| جانی خیل | ۱ | | ۱ | ۲ | | |
| زرغونشهر | | ۱ | ۱ | ۲ | | |
| سروبی | | ۱ | ۱ | ۲ | | |
| یوسف خیل | ۱ | ۱ | | ۲ | | |
| ارگون | ۱ | | ۱ | ۲ | | |
| مجوع | ۴ | ۵ | ۷ | ١٦ | ۱۲۸۰۰۰۰۰؋ | |

## دمڼو پروسیس اورفعه حاصیل او پانگه اچونه:

لکه څنگه چي زمونږه دطرحي ددري کلن پلان او دټولي پکتیکا تخمیني دمڼـی باغونوپـه نظرکښـی نیولـو سره پـه ټولـه پکتیکا کښی (۸۷۲۰۰)څخه تولیدیږي.خوکه چیرته دارزش افزایـی پـه برخـه کښـی سرمایـه گـزاري وشي لـه ۵۰څخه تر۴۰زره پوري ټنه به دمحصولات ارزش افزایـی وشي خوله همـدی ارزښـت افزایـی سره دمحصـولاتومعیاري کیدنـه بـه صورت ونیسی خو متاسفانه تراوسه پوري داسی خاصه توجه نه ده ورته شوي.خوفرصت دمعیاري کولوزیات دي.دزراعـي محصولاتوپه پروسیس عمده خلا عبارت دي ددولت نه همکاري،دموسساتو نه همکـاري او دخصـوصي سـکتورنه تشـویق چي سرمایه گزاري وکړي.دنومړي خلادډکولولپاره دپورتنیو بخشونو تشویق او همکاري،دسرمایـه دارانـو جـذب دمحلـي تجارانو تشویق او دپروسیس په برخه کښی ځایی ،دسـورتمنت،گریډنگ،پیکنگ ،پیکیجنگ،واشراوداسـی نوردپروسـیس مربوطه مشنري ضروردي.اوتراوسه پوري داسی هیڅ کـوم خصـوصي سـکتورسرمایه گـزاري نـه ده کړي.لکـه څنگـه چي دنومړي ولایت عمده محصـول مڼـه ده اوزیاتـه انـدازه یـی پاکسـتان تـه پـه تجارتي شـکل نـه صـادریږي.خوکه چیرتـه دپروسیس په برخه کی کاروشي له یوطرفه به خلگ مصروفه بل طرفه به دهقانانورضایت حلاصل شي.اوپـه تیرودریوکلنـو دمڼومحصـولاتو پـه برخـه کښـي هـیڅ رازکارنـه ده شـوي.په یادولایـت کښـی دتولیـداتو زیـاتوالي برخـه کښـی ټولولکـه سکتورحصوصي دولت او ځینوموسساتو کارونه کړي خودصادراتوپه برخه کښی هیڅ کارنه ده شوي.

دپکتیکا ولایت مڼی دپخوارهیسی په کوم داسی علمی شکل نه پروسیس او رفعـه حاصـل کیـږی او دعنعـوني شـکل لـه مخی یی بسته بندی شکل نیسی.اورفعه حاصیل یی هم په غیرمسلکي شکل سره صـورت نیسـی کـوم چـي دمڼـو دونـو دزخمي کیدو ،دشاخونو دماتیدواو همدارنگه دضایاتو اندازه یی زیاته وی چي بزگر ته هغه قیمت چي طمع یی لـری نـه شی پوره کولای چي بیا وروسته دراټولونکو په واسطه راټول او په کارټنونواو بوریو کښی کورونو ته انتقالیږي لکه مخکـی

می هم وویل چې رفع حاصیل یی په غیرمسلکلی شکل او بدون له کومي نویوتکنالوجي په کارولوسره صورت نیسی.ددی لپاره چی دمنو دضایعاتو مخنیوی وشی او هم مارکیټ ته په لوړ کیفیت تولید وړاندی کړو نو لازیمه ده چی د منو دحاصل راټولولو بسته بندی ،سورت بندی او دپروسیس لپاره لازیمه بولو چی په پکتیکا ولایت کی معیاری فابریکه جوړه شی او همکاری موسسات دی په دی برخه کی همکاری وکړی چی په دی سره به مو مارکیټ ته دوامداره عرضه ولرو دمڼو په برخه کی به باغداری وده کړی او هم به خلکو ته کاری فرصتونه برابر شی په داسی حال کی چی تردی مهاله هیڅ کومه فابریکه شتون نه لری ترڅو دمڼی حاصلات پروسیس کړی .
په پکتیکا ولایت کی دبرق دنه شتون دخصوصی پانګی اچوونکو له لوری هیڅ کومه پانګه اچونه نه دی ترسره شوی چی په دی برخه کی دبرق نه شتون لوی علت بلل کیږی چی دولت یا همکاره نادولتی موسسه دی په دی برخه کی کار وکړی ترڅو په پکتیکا ولایت کی دمڼو په برخه کی سرمایه ګذاری وشی .

## د بازارتحلیل:

پکتیکا کي دمڼولپاره محلي ،ولسوالي اوولايت ماركيټ وجودلري.اودافغانستان نورووولايتوته انتقاليږي اوفعلا خارج هيوادپاكستان ته صادريږي دماركيت په اړه بزګرانوهيڅ معلومات نلري دماركيت فعالان عموما كميشن كاران ،عمده فروشان اواوړه تجاران دي بزګردقيمت په اړه دماركيت معلومات نلري.يواځي دتجاراوبزګردواړوجوړامددي.دقيمت ګذاري لپاره په كلي،ولسوالي اوولايت كښې كومه مشخصه ورځ وجودنلري.بزګران دنورووولايتونودماركيت اوخارجي ماركيټونوپه اساس باغونه جوړوي.اوبعضي يی دښه حاصل لاس ته راوړلوپه منظورپه تصادفي دول لري په يحی خيل ولسوالي كي ۳ بابه سردخاني په اورګون ولسوالي كي ۳ بابه وړي سردخاني اويوه لوه سردخانه په مركزشرنه كي وجودلري.دمحصولاتوقيمت په مزرعه كښې كم دي اوبه ماركيټ كي زيات دي مثلا په مزرعه كې د ۷ كيلو مڼو قيمت۱۸۰ افغانی وي خو په ماركيټ كې د ۷ كيلو مڼو قيمت د ۲۳۰-۲۵۰افغانی وي. لوي خريداران دنورووولايتونونه راځي يادولايت كښې ددوي خريداران كم وي.
راتلونكي دري كالوكښې به دمڼواتحاديی جوړي كړي.كوپراتيفونه به جوړكړودبزګرانوسره به دتجارانواړيكي كړودكړني وزارت دمعلوماتي سيستم سره به بزګران ونښلودولايت اودافغانستان په سطحه به كرنيزي شته توكي شركت وكړي.ترڅويادمحصول خلګوته معرفي كړوبزګرانوته به دماركيت په اړه ټريننګونه وركړو.اتحاديوله لاري به بزګران اوتجارانوتولنيزګروپونه جوړكړو.ترڅودوي دماركيت اونرخ معلومات يوبل څخه وكړي.دهيوادننه لوي ماركيټونوسره به بزګرانواړيكي ټينګی كړونودهمدی له لاري معلومات ترلاسه كړي.
لكه څنګه چي دپكتيكا ولايت اقليم په نظر كی نيولوسره دزياتوميوه جاتو لپاره دير مناسب دي چي له همدي برخي څخه يی يوه هم مڼه ده.له بلي خواڅخه دزياتو حاصلاتو توليد او دپكتيكا داقتصادي جغرافيايی موقعيت په نظركي نيولو سره دپكتيكا زياتره مڼي دولسواليو په بازار، دهيواد داخلي ګاونډيو ولايتونو ته او پاكستان ته وړل كيږي.خوهيره ده نه وي دپكتيكا مڼي دښه كيفيت لرلو په اساس اوس دمنځنی اسيا هيوادونه ته هم ماركيت پيداكړيدي.دمڼو محصولات دمحلی تجارانوپه ذريعه خارجي تجارانو ته په لاس وركول كيږي اودنوموړي محصولاتو قيمت ګذاري دعمده فروشي په شكل صورت نيسي.دپكتيكاباغوانان عموما دسږكال ماركيت او دښه قيمت په نظركي نيولو سره دمڼومحصولات او دباغونو احداث كوي.عموما په پكتيكاولايت كي دولسواليواو دولايت په سطحه په معياربرابرسردخاني نه دی موجودي.نوله همدي امله چي دنوموړيو باغدارانومحصولات خراب نشی نو په باغ كي يی نرخونه په تصادفي شكل سره صورت نيسي.چي دمحلی تجارله خوا په ماركيت كي دمناسبي ګټي په نظركي نيولوسره خپل نرخ ټاكي.دمڼو محصولات

چي په پراخه پیمانه صورت نیسي نو دهیواد دداخلي ملي تجارانو په ذریعه ترسره کیږي چي هم یې دهمدي ولایت او هم یې دهیواد نورووولایتو نوځخه وي.

دپکتیکا ولایت دټول ولایت په سطحه تقریبا(۲۲۵۰۰۰) ټنه میوه تولیدوي او ورځ تربلي یې دمېو باغونه دپراخیدا په حال کي دي. خو متاسفانه اکثروخت دبی امني ،په وخت دمارکیت نه موجودیت او له ګاونډي هیواد سره وخت ناوخته دسرحدمشکلات هغه څه دي چي دمېو محصولاتو قیمت په بازارکي راټیټیږي.که چیرته دمېوتولید په پکتیکا ولایت زیات شي اوخلګ دباغداري ته وده ورکړي نومونږ یوازي دانه چي مېو دخرخلاو په تازه شکل وکړوبلکي مونږته په دی برخه کي زیات فرصتونه لاس ته راځي لکه دمېوڅخه دمربا جوړول،په قطیو کي بندول اوهمدارنګه دجوسونو تیارول به مونږ ته دمېو دخرڅلاو زیاتي لاري پرانیزي.چي ددي لاري به مونږه وکولای شو دمېو دضایعاتو مخنیوي وکړو.بزګران به دبازارموندنه کي ستونزه نلري اوهغوي به په دي اړه اطمیناني وي.دی سره به خصوصي سکتورپیاوړي اودزیاتوتجارانوتوجوبه جلب شي چي داکاریواځي دانه چي پکتیکا ولایت ته ګټه ورسوي بلکي دافغانستان ملی اقتصاد دپیاوړتیا کي به رغنده رول ولوبوي اوخلګوته به زیات کاری فرصتونه برابر کړي .نودهمدي لپاره چي ترراتلونکي دریوکلنو پوري مونږه دمارکیټنګ دانکشاف لپاره کاروکړوو نولاندي نقاط باید په نظرکي ونیول شي.

- ✓ دمېو دښه اوباکیفیته نوعوتولید.
- ✓ دتجارانو جلب.
- ✓ دولایت او ولسوالیو په سطحه دمعیاري سردخانو جوړول.
- ✓ دهقانانو ته دبازارموندني ، post-harvest،Pre harvest او درجه بندي( Assortment ) په برخه کي دظرفیت لوړولوورکشاپونوترتیب کول .
- ✓ دکوپراتیفونو ایجاداودزیاتو نمایشي میلو ترتیب کول.
- ✓ دمېودمحصولاتوکانسروکول.

هغه محصولاتو ته چه فعلا تولیدیږی د ښه مارکــــــــــیټ د پیداکولو لاری چاری برابری منی چه دمارکیټ د نه شتون له امله خراب او د بزګرانو د مایوسی سبب ګرځی د یادونی وړده چه دپکتیکا ولایت زیاتره زراعتی محصولات لکه جلغوزی،بادام جهانی شهرت لری مګر د نه توجه له وجی دهغو ټولی ګټی همسایه هیوادونه تر لاسه کوی او د نړی نورو مملکتونو ته د دوی په نامه صادریږی.

## دمېو د محصولاتو مخکی اخیستنه ، قرضه او سب سایډی

پکتیکاولایت کي جلغوزي ،بادام،مڼه اوانګورمخکی درفع حاصل څخه خرڅیږي چي همدي کي ۱۰۰ ٪مخکي خرڅیږي اوبادام،مڼه،انګور۶۰-۵۰٪بزګران یی مخکي درفع حاصل څخه خرڅوي اوباقی پاتي بزګران یی دحاصیل ټولولوپه وخت کي خرڅوي.چي قیمتونه یی دیر فرق کوي که مني په نظرکي ونیسونومخکی درفع حاصل نه یوټن ۲۱۰۰۰افغاني وي خودرفع حاصل وخت کي قیمت ۲۸۰۰۰افغانی ټن خرڅیږي.بزګرانوته هیڅ تولیدي عوامل نه برابروي.بزګریوازي دمارکیټ له ویري خپل محصول مخکی خرڅوي.اوهم نورعایدات نلري نودمجبوري پراساس یی خرڅوي.که دولت لخوداسي قیمت ورته وټاکل شي چي ددهقان لپاره داطمنان ووړوي.په همدي سره دپروسس کمپنی یی واخلي نودلته بزګرمطمعین کیږي اوپه یادولایت کي دمېوبرخه کښی هیڅ قسمه سبسایډي وجودنلري.

څنګه چي په نوموړي ولایت کی دمېو زیات محصولات ،دمعیاری سردخانواو په وخت دښه مارکیت نه موجودیت هغه عوامل دي چي باغوانان همدي ته اړکوي چي خپل محصولات مخکي له رفع حاصیل څخه تجارانوته دیو مشخص

مجموعي قیمت سره ورکوي.چي دهقان ته زیات اقتصادي زیان اړوي.په پکتیکا ولایت کي هیڅ داسی کوچني قرضي ددولت اویا دموسساتولخوانه دي ورکړل شوی چي ترڅوپوری دهقانان ترینه استفاده وکړي.دا چی یاد ولایت کی امنیتي مشکلات زیات دي او په اکثره وخت کی د ولایت مواصلاتي لاری بندی وي نو بزګران له دی ویری چی د منو پخیدو وخت کی به تجاران موجود نه وي او هم زمونږ ولایتي بازار دومره ظرفیت لري چی ټول تولیدات ورته عرضه شي نو کمیشن کاران یا تجاران لدی فرصت څخه په استفادی بزګرانو نه مخکی چی په حاصل ورسیږي په ټیټ قیمت اخلي. که چیری د مارکیټ اسانتیاوی برابری شي او هم د دولت لخوا نه بزګرانو ته وړی قرضی ورکړل شي او یا هم ورته د پروسس په برخه کی کار وشي او یا دبزګرانو داسی ګروپونه یا کوپراتیفونه وجود ولري نو د کرنی ریاست په چوکاټ کی به یو بزګر د تجار سره په رسمي ډول قرارداد کوي او په کی داسی مادی ځای پر ځای شي چی نه بزګران ته تاوان وي او نه تجارته او هم مصرف کونکی په نظر کی ونیول شي.په دی سره به بزګران او تجاران یو پربل اعتماد پیداکړي عامه بزګران به د باغداری سکتور کی کار کولو ته تشویق شي. همدارنګه که چیرته قرارداد کونکي بزګرانو ته زراعتي تولیدي توکي (کیماوی سری، نیالګي ، مسلکي روزنه ، درمل) او نوری اسانتیاوي په واک کی ورکړي او هغوی د منو کښت ته وهڅوي او بیا ورسره په یو معین قیمت د قرارداد له مخي قرارداد وکړي دی سره به د یاد ولایت بزګران پیاوړي شي او مونږ به په اسانی سره وکولی شو چی داخلي بازار ته او هم خارجي بازار ته معیاري تولید وړاندی کړو.

په پکتیکا ولایت کې یو زیات شمېر کرهنیز محصولات تولیدیږي چې له هغې ډلې درې عمده بې د حاصل تر رفع کېدو د مخه قرارداد(Pre-Contract Farming) په اساس ترسره کېږي چې له انګورو، مڼو او جلغوزي څخه عبارت دي.

د کرهنې ریاست او د سوداګرۍ او صنایعو د خونې د معلومات په بنسټ د منو د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادونه(Pre-Contract Farming) اندازه بې په ټن او ارزښت بې په افغانیو په لاندې ډول بیانیږي:

یو ټن عمده کرهنیزومحصولاتو قیمت په پټي، مارکېټ، د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادکې او توپیر بې:

| ګڼه | اقلام | د ۱۳۹٦ کال ټول تولیدات په ټن | د بازار ارزښت بې په افغانیو | د (Pre-Contract Farming) حجم په ټن | د (Pre-Contract Farming) ارزښت په افغانیو |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مڼې | ۲۱۱٬۱٤۰ | ۱۰٬۵۸٦٬۹۸۱٬۸۸۰ | ٦۳٬۳٤۲ | ۱٬۹٦۳٦۰۲٬۰۰۰ |

د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادونو حجم او سلنه بې:

| ګڼه | اقلام | ټول محصول په ټن | د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادپه ټن | د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادسلنه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | مڼې | ۳۰٬۰۹۰ | ۱۸٬۰۵٤ | ٪٦۰ |

| ګڼه | اقلام | قیمت په افغانی | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | په پټي کې | په بازار کې | د حاصل تر رفع کېدو د مخه قرارداد کې | توپیر |
| ۱ | مڼې | ۳۸٬۵۷۱ | ۵۰٬۱٤۲ | ۳۱٬۰۰۰ | ۷٬۵۷۱ |

# په پکتیکا ولایت کې د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادګتې او زیانونه:

د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادونه(Pre-Contract Farming) لکه د بل هریوه شي په څېر یو لړ ښېګڼې او نیمګړتیاوې لري چې په هر یوه یې په لاندې تشریح کیږي:

## د حاصل تر رفع کېدو د مخه قرار داد ښېګڼې

a. د بزګرانو سره مرسته او د تولید په بهیر کې د اسانتیاوو برابرول
b. د بزګرانو لپاره د یوه ډاډمن بازار شتون سبب جوړیږي
c. د قیمت د ګواښونه له منځه وړي
d. د پرسس کوونکو کمپنیو لپاره د خامو مواد شونتیا آسانتیا برابروي
e. د حاصل تر رفع کېدو د مخه قرارداد کېد نوي ټکنالوژۍ نه ګټه پورته کیږي چې د بزګرانو ته د نویو مهارتونو د زده کولو سبب جوړیږي
f. د بزګرانو د هڅونې او د کرهنې د سکتور د پرمختګ سبب جوړیږي.
g. د بزګرانو لپاره د بازارونو د پراختیا سبب جوړیږي

### د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادونو زیانونه

a. د حاصل تر رفع کېدو د مخه قراردادکې قرارداد کوونکي کوښښ کوي چې ټیټ قیمت و ټاکي ترڅو خپله ګټه زیاته کړي
b. زیات تمرکز په کیفیت کیږي چې کیدای شي په اسانۍ سره د بزګرانو تولیدات رد شي
c. په پیش خرید قرارداد کې یوازې د په ګوته شویو نباتاتو کرهنه غوره کیږي چې د نورو نباتاتو په کرهنه منفي اغیزه پرې باسي
d. د ښو ا و کیفیت لرونکو حاصلاتو د ترلاسه کولو لپاره له کیمیاوي در ملو نه ګټه پورته کیږي چې په چاپریال بده اغیزه بري باسي
e. د یوه نوي نبات او نوي ټکنالوژۍ نه په لومړي ځل ګټه پورته کول بزګرته په تولید کې ستونزې او خطرونه را پیدا کیږي
f. د یوه قانوني اډانې نه شتون چې د قراردادي کمپنیو ته د فساد او سرغړونو زمینه مساعده وي

په پکتیکا ولایت وړې قرضې ورکولو کومه منبع شتون نه لرې ترڅو بزګرانو ته وړې قرضې ورکړي لکه کرنیز بانګ اویا کوم همکاره موسسه .

## دتولیدی عواملو او لګښت تحلیل:

په پکتیکا ولایت کی تولیدی عوامل لکه ( کیماوی سری ،کرنیز وسایل ،تخمونه ،نهالونه او ادویه جات په ډیره کمه اندازه ، غیری معیاری او لوړ قیمت سره پیداکیږی چی زیاتره بزګران یی دغزنی ولایت او یاهم دپاکستان هیواد څخه ترلاسه کوی چی په دی سره بزګر ته محصولات په لوړه بیه تماميږی او هغه اندازه ګټه چی طمع یی لری په لاس نه ورځی که چیری عوامل په پکتیکا ولایت کی شتون ولری نو بزګرته به (۱۰) فیصده نورهم ارزانه تمام شی او دمحصولاتو په مصرف کی به کموالی راشی .

د پکتیکا ولایت په زیاتره لیری پرتو سیمو کی کرهنه په عنانوی شکل سره صورت نیسی خلک له تولیدی عواملو څخه په کمه اندازه استفاده کوی چی په دی برخه کی دپکتیکا ولایت بزگرانو عامه پوهای په ډیره ټیټه کچه دی نولازیمه ده چی دبزگرانو لپاره ته په ولایت او مرکز کی دسمنارونو او ورکشاپونو لپاره زمنه برابره شی او ورته دائر شی ترڅو دتولید زیاتوالی رامینځ ته شی او له ضاعیاتو څخه مخنوی وشی .

دتولیدی عواملو په برخه کی په پکتیکا ولایت کی هیڅ پانگه اچونه نه ده ترسره شوی .

## تحلیل سوات:

### قوی نقاط

- ✓ دمناسب اقلیم درلود چی دپکتیکا ولایت په هره سیمه کی دمڼیدکښت اوتولید لپاره زمینه مساعده کړی ده .
- ✓ دمختلفو ورایټی گانو شتون او سمه نتیجه ورکونه .
- ✓ دکافی بشری قوی شتون دباغونو دجوړولو په برخه کی .
- ✓ دباغدارانو علاقمندی د مڼو دباغونو سره .
- ✓ په تیروڅوکلنوکي دباغونوزیاتوالي.
- ✓ دباغونوکښینولواړونددااکثرابزگرانوتجربي اوپوهه.
- ✓ کرهنیزوسامان الاتوموجودیت اوپه اساني سره دنږدي ولایتونوڅخه ترلاسه کول.
- ✓ په دوامداره توگه دتقاضا موجودیت.

### ضعف نقطی

- ✓ دمارکیټ نه شتون .
- ✓ دمیوه جاتو دپروسیس دفابریکو نه شتون.
- ✓ دسړو خونو نه شتون ترڅو محصولات په کښی وساتل شی .
- ✓ دبزگرانو دپوهی ټیټه کچه چی دحصلاتو د کمبود سبب گرځیدلی ده .
- ✓ دبزگرانو سره د تخمونو،کیماوی سرو،دباغداری وسائل او د ادویه جاتو په برخه کی نه مرسته .
- ✓ دهمکارو موسساتو نه شتون ترڅو له باغدارانو سره مرسته وکړی .
- ✓ په غیری فنی ډول سره اوبه ونه .
- ✓ داصلاح شویو ورایټی گانو کمبود .
- ✓ دبزگرانو سره دمرستو او وړو قرضو نه شتون .
- ✓ دافاتو او امراضو لپاره دکافی مرستو نه شتون .
- ✓ دسپري ،کیمیاوي درملو،حشره وژونکواوافت وژونکودرملونامناسب استعمال.
- ✓ دزړوباغونوبیا رغولوته نه پاملرنه.
- ✓ ددولت،موسساتو،تحقیقاتي ادارونه همکاري اودکرني ریاست سره دبزگرانودهمغږي نشتون.

### فرصتونه

- ✓ دخرڅلاوپه موخه یی دښه اولویوداخلي اوخارجي مارکیټونوشتون.
- ✓ دبزگرانودگروپونو،کوپراتیفونو،تجارانواوددولتي ذیدخلواداروپه همکاري دبازارموندني اسانتیاووموجودیت.
- ✓ ددولت اوخصوصي سکتورله لاري دباغونوښه مدیریت اوارزښت زیاتونه .

- ✓ دمېودزړوباغونودبیا جوړولولپاره فرصتونه.

تهدیدونه

- ✓ دامراضواوافاتوحملي اوپه خپل وخت یې دکنترول لپاره لازم تدابیرنه نیول.
- ✓ درفع حاصیل څخه وروسته عملیی (مینځل،درجه بندي،بسته بندي،پروسس اوهمدارنگه دسړوخونونشتون)
- ✓ باغونوته په کافي اندازه غذایی مواددوورکولوپه اړه دعلمي پوهي نشتون.
- ✓ موسمي یخ وهنه اوددذخیره خانونشتون
- ✓

## عمده ستونزې:

- وچکالی چې په پکتیکا ولایت کی دکرنیزو محصولاتو په وړاندی یو لوی چالش دی چی د اوبو کمبود په حاصلاتو کی کمبود راوستلی .
- دبزگرانو سره نه همکاری د دولت له لوری .
- دقرنطین نشتون.
- دهمکاروموسساتونشتون دکرني په برخه کي.
- دمعیاری سړوخونونشتون.
- دثابت مارکیت نشتون.
- دکوچنیو قرضودورکړي نشتون.
- دپروسیس دفابریکونشتون.

## دکرهنزومحصولاتو دتولید او صادراتو دزیاتوالي چټکی لاری:

- داصلاح شویو نهالگیو ترویج او بزگرته په اختیا کی ورکول .
- دبی کیفیته بوټو قرنطین رامینځ ته کول .
- مجهزی سړی خونی جوړول .
- دمېو دباغونو جوړولو.
- امراضو او افاتو په وړاندی دبودجی اختصاص ول .
- دمېو حصلاتو ته بازار مندنه کول .
- بزگرانو ته دوړو قرضو ورکول.
- دهمکارو موسساتو جلبول دباغداری په برخه کی .
- دبزگرانو دپوهی کچی دلوړولو لپاره سمنارونه او ورکشاپونه په لاره اچول.

## پایلی :

لکه مخکی چې ذکر شول چې پکتیکا ولایت دمناسب اقلیم په درلودلو سره د مڼې د کښت او تولید لپاره بهترین بستر دی نو په دی اساس دی دمڼې دکښت لپاره په پکتیکا ولایت کی کاروشی او پانگې اچونې ته دی زمینه برابره شی څکه مڼه په پکتیکا ولایت کی د جلغوزو څخه په دوهمه درجه کی لوړ حاصل ورکونکی ونه ده .

په پکتیکا ولایت کی دمنی دحاصل کیفیت خورا ښه دی چی په داخل او خارج کی زیاته راکړه ورکړه لری نو کـه پـه دی برخه کی په خاص ډول سره دمنی په کښت ،حاصل راټولو، سورت بندی او پروسیس باندی کاروشی او پانگه اچونه وشی دهیواد په اقتصاد کی به رغنده رول ولوبوی .

د دولت او یاهم همکارو موسساتو له لوری دی په پکتیکا ولایت کی دمنی حاصلاتو ته توجه وشی ترڅو موبزگران چی په دی برخه کی ستونزی لری حل شی .

که چیری په پکتیکا ولایت کی دمنی دحصلاتو لپاره ځانگړی سړی خـونی جـوړی چـی حصـلات بـه لـه ضـاعیاتو څخـه خوندی وی چی گټه به یی هم بزگر او هم دهیواد په ملی اقتصاد کی زیاته شی .

د دولت له لوری له همکارو موسساتو سره په دی برخه کی قراردادونه کول .

خصوصی پانگه وال جلبول ترڅو دمنی دپروسیس په برخه کی سرمایه گزاری وکړی .

دبزگرانو لپاره دمختلفو سمنارونو جوړول ترڅود هغوی دپوهی کچه لوړه شی .

په طرح کی ده راتلونکی ۳ کالونو لپاره په مختلفـو ولسـوالیو کـی د منـو دنهـالونو دتوضـع پـلان ترتیـب شـوی دی چـی دکرهنی وزارت له لوری ورته توجه وشی ترڅو په پکتیکا ولایـت کـی دحاصـلاتو زیـاتوالی ،دکیفیـت ښـه والـی ،دبزگرانـو عایداتی سطح لوړوالی ، د شاړو ځمکو ابادول ،د داخلی او خارجی فابریکو ته داولیه مـوادو برابـرول او پـه ټولـه کـی پـه کرنیزو دملی عایداتو کی زیاتوالی دی .

سړی خونی چی دپکتیکا ولایت په حاصلاتو کی رغنده رول لری چی په دی طرح کی ورته د دریو کلونـو لپـاره دجوړولـو پلان ترتیب شوی دی که چیری دکرهنی ریاست او یا هم کومی همکاری موسسی له لوری ورته پاملرنـه وشـی او د ذکـر شوی پلان سره سمی جوړی شی چی دجوړولو پروپوزل او نقشه یی دکرهنی وزارت سره شتون لری دمنو حصلات په څو چنده زیات شی حصلات به له ضایع څخه وژغورل شی .

# شپږم څپرکی

## د افغانستان د سولې او پرمختيا ملي چوکاټ او د ملي لومړيتوبونو پروګرامونه (ANPDF/ NPPs)

### د افغانستان جغرافيايي-اقتصادي (جيواکانوميک) موقعيت

افغانستان د يوه بډايه تاريخ او له قومي او ژبني اړخه د ګڼ شمير وګړو په لرلو سره يوه تاريخي سيمه ده. زيات شمير افغانان په جلا ټولنو کې په غرنيو سيمو په تپو او درو کې چې زموږ د جغرافيې ډيره برخه جوړوي خواره واره ژوند کوي. د ټوټه ټوټه کېدو پر لور رواني دغې طبيعي ګردلې څخه د خلاصون په موخه د ټرانسپورټ اومخابراتي خدمتونو ته لاسرسي او د بازار د همغږۍ د آسانتياوو راوستلو لپاره د زيربناوو د پراختيا په برخه کې د لويې کچې پانګونې اړتيا ليدل کېږي. د څلورو لسيزو جګړې هيواد وران کړی او په ملي کچې د زيربناوو او د فعالو ادارو لرونکي اغيزمن دولت جوړولو هڅې يې له لويو ستونزو سره مخامخ کړې دي.

د ودې او پرمختګ اوږد مهاله پرمخ وړونکي ـ کرهنه، کان کېندنه او سيمه ايز سوداګرۍ- به هماغسې پاتې شي. ولې زړې لارې چارې بايد په پرمختللو لارو باندې بدلې شي. که په اغيزمن ډول تري ګټه پورته شي، يادې عصري سرچينې به د لوړې کچې اقتصادي وده رامنځته کړي. د نړۍ په يوه ګڼ ميشته او خوځنده سيمه کې د څلور لارې پر سر د افغانستان جيوستراتيژيک موقعيت په دې معنی ده چې له ګاونډيو سره پرمختګ په موخه اقتصادي همکاريو د چټکولو لپاره زموږ هيواد د غوره موقعيت لرونکې دی. همدارنګه افغانستان بايد په عامه او خصوصي، کورنۍ او بهرنۍ دواړو برخو کې پانګونه چټکه کړي، او د وخت په تيريدو سره د ملي عوايدو پايداره سرچينې بايد د پراختيايي مرستو ځای ناستې کړي.

په افغانستان کې د جګړو اوږد تاريخ او د پانګونې نشتون ته په کتو سره د پام وړ اقتصادي ودې او ټولنيز پرمختګ ته رسيدل به پوره وخت ته اړتيا ولري. د پرمختګ د اميدوارونکې کچې سره سره به افغانستان په (١٠) راتلونکو کلونو کې د سويلي آسياء سيمه ايز د سړي سر ناخالصو ملي عوايدو تر ټولو ټيټه کچه ولري. نسبي يا د منځنۍ کچې عايد ته د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې د پرمختګ تګلاره، په کلونو او يا هم په يوه لسيزه کې نه بلکې بايد په څو لسيزو کې اندازه کړلای شي. ولې بيا هم ډيره اړينه ده ترڅو د يوه سوله ايز او سوکاله هيواد بنسټونه اوس کېښودل شي.

زموږ تګلاره هم بايد پر واقعيتونو ولاړه وي. په لنډ وخت کې د ودې لرليد ناخرګند دی. تر هغه پورې چې افغانستان کې سوله نه وي راغلې، په لويه کچه د نوي خصوصي پانګې اچونې احتمال کم بريښي. عامه پانګونه، چې په ځانګړې توګه د پراختيايي اقتصاد له کبله منځته راځي هغه به هم له ستونزو سره مخ شي. د پرمختګ شريکان به په افغانستان کې د پرمختګ مهم مالي ملاتړ کوونکي پاتې شي، خو د دوی ملاتړ به په راتلونکو ٥ څخه تر ١٠ کلونو پورې کم شي. د وخت په تيريدو سره بايد دوامداره کورنۍ سرچينې د نړيوال ملاتړ ځای ونيسي. په لنډه موده کې د يوې دوامداره بوديجې په لورې تګ او د افغانستان د اوږد مهاله پراختيا بنسټ ايښودل زمونږ لپاره ترټولو مهم لومړيتوب دی.

### د ملي يوالي حکومت

**لومړني دوه کاله:** په ۲۰۱۴ زيږديز کال کې د قدرت لیږد د افغانستان پر امنيتي، سياسي، او اقتصادي اړخونو باندې د پام وړ اغيز وکړ. کله چې د ملي يوالي نوي حکومت واک تر لاسه کړ يواځې له يوه بحران سره نه بلکې له دريو بحرانونو سره مخ شو، تروريستانو او مخالفو وسله والو ډلو د نړيوالو ځواکونو د شمير په کميدو سره خپلې حملې زياتې کړې، اقتصاد د کړکيچ خواته لاړ، او له سياليو ډکو ټاکنو د ملي رهبرۍ پاملرنه ځانته واړوله.
نوي حکومت دا ومنله چې په اقتصاد کې بنسټيزې ستونزې تر هغه ډيرې ژورې دي چې په لومړيو کې يې اټکل شوی وو. د حکومتي کارکونکو د ګومارنې سياسي کول د حکومت د اساسي دندو لکه پر بانکونو څارنې، عامه تدارکاتو، دفاعي اوملکي خدمتونو، قضايي او د قانون پلي کوونکي ادارو د داخلي کشالې او پراخه اداري فساد سبب ګرځيدلي. امنيت او پراختيا دواړه په خواشنونکي توګه ځو ټوټې شوي وو: په حقيقت کې د دې پرځای چې په څرګنده توګه ټاکلې موخې د منسجمو ملي لومړيتوبونو پربنسټ جوړ او پلې شي، د بودجې د باندې او بودجې د ننه پروژو له مجموعې څخه زيات بل څه نه وو پاتې.
حکومت د خپلې دورې لومړی کال په مهمو چارو کې د اساسي پرمختګونو په راوستلو تير کړ.عامه تدارکات د اصلاحاتو د راوستلو په موخه مرکزي شول. له ملي لومړيتوبونو سره د بودجې بهير د همغږۍ په موخه د عامه مالي مديريت په برخه کې د اصلاحاتو طرحه جوړه شوه.
يو له بله سره تړلې څلور ننګونې- جګړه، اداري فساد، جنايت او بيکاري، د حکومت د اصلاحاتو د پروګرام په مخ کې مهمې آزموينې دي. په داسې حال کې چې د امنيتي خنډونو لرې کول سياسي خبرو اترو او نظامي بريا ته اړتيا لري همدارنګه د عامه باور فضا چې د حکومت له خوا د ښه کيفيت لرونکو مساوي خدمتونو په وړاندې کولو سره رامنځته کيږي په دغه ستونزمنو شرايطو کې د حکومت د ملاتړ سبب ګرځي. خو د کاري زمينې د کچې له لوړولو پرته به افغانان د مخدره توکو ناقانونه توليد، له هيواد نه بهر مهاجرت، او د تاوتريخوالي له جرمي شبکو سره يوځای کېدو په څير خواشينونکو کړنو لاس پورې کړي.

## سياسي او امنيتي لرليد:

د سولې تمه لرل د دوه ګونې بلا په څير ده، چې د پرمختګ پر ټولو لرليدونو باندې سيورى اچوي. موږ د ملي کمپاين يو پنځه کلن پلان جوړ کړی دی، تر څو زموږ د امنيتي ځواکونو همغږۍ او اغيزمنتيا زياته کړي. د افغان ملي امنيتي ځواکونو او پوليسو د ظرفيتونو دوامداره پرمختګ نه يواځې له وسله والو ياغيانو څخه د هيواد په ساتنه کې ډير اړين دی، بلکې د غصب، انسان تښتونې او ناقانونه نيولو په څير جرمونو په راکمولو کې چې سوداګريزې پانګونې ته يو ستر خنډ جوړوي هم خورا ارزښت لري. ځمکنيو ماينونو او له جګړو پاتې چاوديدونکو توکو هم د افغانستان ملکي وګړو ته لوی ګوانښ رامنځته کړی او د پراختيايي فعاليتونو مخنيوی کوي. هره مياشت په منځنۍ توګه ۱۰۰ افغانان د ځمکنيو ماينونو او له جګړو پاتې چاوديدونکو توکو قرباني ګرځي. دغه طرحه پر دريو برخو تمرکز لري: پخلاينه، امنيت، او ثبات. موږ د لوړې سطحې نظامي رهبرۍ کې بدلون راوستی او د افسرانو روزنه مو مسلکي کړې ده. موږ د مهمو اساسي ملاتړ کوونکو دندو لکه، تدارکاتو، مالي مديريت، او پلټنو په برخو کې ملکي څارنه رامنځته کړې، چې دغه څارنه به زموږ د ځواکونو له خوا د مناسبو تجهيزاتو، تغذيې، او مديريت ترلاسه کول ډاډمن کړي. موږ د

اغیزمنتیا راوستلو پر وړاندې داخلي ګواښونو د له منځه وړلو کوم چې د اداري فساد له کبله منځته راغلی د سختو ګامونو پورته کول په پام کې نیولې دي.
د امنیتي سکتور لپاره د مرستندویه هیوادونو پر مرستو باندې د اتکا را کمولو په برخه کې زموږ ژمنه، له کورنیو سرچینو څخه په دوامداره توګه په زیاتې ګټې پورته کوني، د قانون او نظم د ملاتړ صندوق (LOTFA) او د امنیتي مسئولیتونو د لیږد قوماندانی( CSTC-A ) صندوقونو له سرچینو څخه په ګټه پورته کولو کې د کمښت راوړلو ته اړتیا لري.که د امنیتي سکټور لګښت په کال کې ۵د ملیارده امریکایې ډالرو شاوخوا پر ځای ثابت پاتې شي، د کمښت دغه لاره به ډیره ستونزمنه وي ترڅو خپلې موخې ته ورسیږو. سره له دې، د یادو ژمنو تر لاسه کولو لپاره موږ د کورنیو عوایدو په راټولونه کې د پام وړ ښه والی اوله اداري فساد، مالي صندوقونو څخه د ناوړه ګټې پورته کولو څخه مخنیوی او په امنیتي سکټور کې د لګښتونو د ځارنې کلکو میکانیزمونو له مخې د اغیزمنتیا لوړولو ته ژمن یو.

## اقتصادي لرلید:

د افغانستان ټولیز اقتصادي لید زموږ پرځان بسیاینې تګلارې زمینه برابروي. نړیوال مالي صندوق (IMF) او نورو اقتصادي اټکلونکو ادارو په ټولیزه توګه نړیواله وده ورو اټکل کړې ده، چې د صادراتو او پانګونې د جذب په برخه کې د افغانستان پر وړتیا باندې اغیزه لري. خو د تیرو دریو کلونو په ترڅ کې مخ پرشا وده اوس دریدلې ده، که پیاوړې او اغیزمن کورني اصلاحات پلې شي نو شایې چې د غښتلې مګر منځنۍ ودې خوا ته د بیرته را ګرځیدلو اټکل وکړو. افغانستان په لږه کچه پوروړی دی، او د لویو بهرنیو اسعارو ډیری زیرمی، او افغانیو لپاره د تبادلې د نرخ اغیزمن مدیریت لري. چې دا کار د پراختیا له پلوه د لویو اقتصادي کړنلارو بنسټ رامنځته کوی.
خو په مرستو کې چټک کمښت او همدارنګه د عوایدو را ټولولو په برخه کې کمزوری فعالیت یا د عامه مالي چارو ناسم مدیریت د بودجې د زیانمنونکو کسرونو او اقتصادي ودې د لمنځه تلو سبب ګرځیدلی.

### ۱. دخصوصي سکټور د پراختیا پروګرام

د خصوصي سکټور لپاره د مساعد چاپیریال رامنځته کول زموږ د تګلارې یوه بله ستنه جوړوي. سوله، د پانګونې لپاره غوره چاپیریال، او د باور وړ زیربیناوې د هغه خصوصي پانګې د جذب ظرفیت لري کوم چې له هیواد څخه خلیجي او نورو هیوادونه ته لیږدول کیږي.موږ به بیروکراسي را کمه کړو، د ملکیتونو ځانګیرنې به روښانه کړو، د صادراتو لپاره به آسانتیاوې برابرې کړو، د باور وړ بریښنا ترلاسه کولو ته به زمینه برابره کړو، ټرانسپورټ ته لاسرسي کې به آسانتیاوې راولو، او د متشبثینو او سوداګرو شخصي خوندیتوب به تضمین کړو.
په اوسني وخت کې د نظامي وارداتو څخه بغیر افغانستان د خپلو صادراتو لس ځله ډیر واردات لري. دغه نا انډولتیا د لوی شمیر هغو تولیداتو په شمول ده چې که چیرې غوره زیربیناوې او د پانګونې غوره چاپیریال رامنځته شي د هیواد په دننه کې یې د تولید امکان شتون لري. منځني او واړه سوداګریز شرکتونه د افغان اقتصاد د ماشین د جوړولو او د ملیونونو کاري زمینو رامنځته کولو ظرفیت لري.پر منځنیو او وړو سوداګریو راڅرخیدونکې زموږ پالیسی به د سیمه ایزې غوښتنې ځواب ویلو، په هغو برخو کې چې افغانستان نسبي غوره والی ولري په دغو برخو کې د وارداتو ځای ناستو توکو پراختیا ورکولو، پورونو ته د لاسرسي او د بیروکراسي له کبله د رامنځته شویو خنډونو په لرې کولو سره د وارداتو ملاتړ ته پاملرنه وکړي.

هره هڅه چې موږ د خصوصي سکټور د ودې او دندو رامنځته کولو لپاره کوو، ټول يې پانګې ته اړتیا نه لري. ډیرې وخت حکومت له خپل قانوني او د قانون جوړولو ځواک څخه د پانګونې د هڅولو، د خطر او ابهام کمولو، او د پانګونې لپاره سرچینو ته د لارې پرانستلو لپاره ګټه پورته کولای شي. افغانستان د ځینو داسې بیلګو شاهد دی چې د قوانینو بدلون د پانګونې د زیاتوالي او په خدمتونو کې ښه والي سبب شوی. د بیلګې په ډول، د مخابراتو په برخه کې د حیرانتیا وړ پرمختګ چې خصوصي مخابراتي شبکو ته د جواز ورکولو له کبله رامنځته شو. د انرژي د مقرراتو په برخه کې اصلاحات به ډیر ژر د انرژۍ خپلواک تولیدونکي رامنځته کړي چې په ملي شبکو باندې به بریښنا پلوري. د حکومت مقرراتي پروسه ډیرې وخت د منلو وړ اصول لري، لیکن د هغو پلي کول بیلا بیلې مرحلې لري چې د بډو او کم ظرفیتي سبب ګرځي. موږ په سوداګریزو پروسو کې اصلاحاتو ته ژمن یو او په لویو اړونده وزارتونو کې اداري او د خدمتونو وړاندې کولو پروسو د ساده کولو پلان لرو. یاد کره نوښتونه یو واحد مرکز له ځان سره لري چې د خدمتونو خواره واره وړاندې کول به یوه ځانګړې موقعیت ته راولي ترڅو د وړاندیزونو په کچې سره د ثبتولو پروسه ګړندی شي. یادې هڅې به له الکترونیکي اداري اړوند اصلاحاتو سره یوځای شي چې موخه یې د اغیزمنتیا ډیرول دي.

د مقرراتو سمون د بیوزلو له خوا د پانګونې سبب هم ګرځیدلای شي. مونږ اوس مهال د ښاري بیوزلۍ هڅوو، ترڅو پخپلو کورونو او وړو سوداګریو کې د ځمکو د تصدیق لپاره د ملي پروګرام له لارې پانګونه وکړي چې په ټولو لویو او وړو ښارونو کې د اجارې ضمانت وړاندې کیږي. ګرځنده تلیفون له لارې د بانکي خدماتو پرانستل او الکترونیکې تادیاتو ته اجازه ورکول به په راتلونکي کې د بیوزلو او یا لیرې شویو ټولنو لپاره چې نورو مالي سیستمونو ته لاسرسی نلري د راکړې ورکړې او ګټې لګښتونه را کم کړي.

## خصوصي سکټور د ودې له لارې د کاري فرصتونه رامنځته کول

د خصوصي سکټور د ودې پراخولو لپاره زموږ موخې په لاندې ډول دي:

- د اغیزمنو او د سیالۍ ډک بازارونو رامنځته کول.
- د منځنیو او وړو سوداګریو، په ځانګړې ډول د صادراتو اړوند افغاني شرکتونو غښتلی کول.
- د کورني او بهرنی پانګونې هڅول
- د خصوصي سکټور لپاره د یو توانمنونکي چاپیریال رامنځته کولو لپاره زموږ وسایل په لاندې ډول دي :
- د (ISO) له معیارونو سره دخدمتونو او تولیداتو برابرولو په برخه کې له افغان شرکتونو سره مرسته کول،
- د سوداګرۍ د ملاتړ خدمتونه د لاسرسي وړ او اړوند ګرځول.
- د ګاونډیو هیوادونو سره د ګمرکونو ترمنځ د تړونونو پراخول.
- په افغان سفارتونو کې د سوداګریزو اتشو ډیرول.
- د دوه اړخیزو او څو اړخیزو تړونونو پراخول.
- د (TIR) کنوانسیون مطابق بل هیواد ته د بار وړونکو موټرو ننوتلو تر اجازې لاندې د توکو پر نړیوال لیږد باندې د ګمرکونو کنوانسیون پلي کول او همدارنګه د ترانسپورت او لوجستیکي سکټور پیاوړي کول.
- کورنیو تدارکاتو او د وارداتو قانونی ځای نیوونکو توکو ته پراختیا ورکول.
- د خصوصي سکټور د سروې په وسایلو کې د ښه والي راوستل او معیاري کول.
- د صنعتي پارکونو او ځانګړو اقتصادي زونونو ملاتړ او جوړول.
- د غیر ضروري شرایطو د لرې کولو په موخه د جواز پر شرایطو بیاکتنه.

- پانګوالو ته د مالیاتي هڅونو او د پانګونو او شتمنيو حقوقي خونديتوب برابرول.
- د يوې داسې واحدې اداري رامنځته کول چې د سوداګرۍ منسجم الکترونيکي اداري خدمتونه په کابل او اوه نورو مرکزونو کې وړاندې کړي لکه (ثبت، جواز ورکول، د ګمرکونو ماليات).

## ۲. د ولسي تړون پروګرام

افغانستان روغتيا او تعليم ته د لاسرسي پراختيا برخې ته پاملرنه کړې ده. ياده پاملرنه به، تر۲۰۲۰ زېږديز کال پورې د لومړنيو روغتيايي او تعليمي خدمتونو لپاره مالي تمويل په څير چې وار له مخکې ټاکل شوې، دوام ومومي.موږ د خپلې اوسنۍ تګلارې لپاره د دريو بدلونونو وړاندوينه کړې ده. لومړی، د روغتيا او تعليم برخه چې نه يواځې د پوښښ پراخولو ته پاملرنه وکړي بايد چې د کيفيت لوړولو ته يې هم پاملرنه وکړي. دوهم، اوسني مالي بيلګې، په ځانګړې ډول د روغتيايي خدمتونو لپاره ثابتې نه دي دواړه وزارتونه د اصلاحاتو پلانونه ترتيبوي ترڅو د روغتيايي خدمتونو په لمړنۍ بکسه کې د غوره والي او په لړې پرتو سيمو کې د سواد د کچې لوړولو په شمول ياد خنډونه له منځه يوسي. دريم، د تعليم د نصاب او د افغانستان د کار بازار د غوښتنو تر منځ تقاطع دا په ګوته کوي چې نيږدې دوه پر دريمه برخه د پوهنتون نوي فارغين بيکاره دي.

د ولسي تړون د ملي لومړيتوب پروګرام به د تعليم، روغتيا، لمړنۍ کليوالي زيربيناوو، او کرهنيزو خدمتونو په برخه کې د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره ميکانيزمونو ته پراختيا ورکړي. د ټولنو د پراختيا شوراء څخه په ټيټه کچه د حکومتولۍ او پراختيايي فعاليتونو لپاره د ننوتو د يوې نقطې په ډول ګټه پورته کولو سره د منشور موخه د بيوزلۍ را کمول او د ناامنۍ او تاوتريخوالي له منځه وړل دي. د وګړو منشور زموږ د پراختيايي لرليد کيلي ده. د کليوالو ټولنو، ولسواليو، ولايتونو، او مرکزي سطحې يو له بله سره نښلول د حکومت له بشپړو هڅو څخه دي، ترڅو ټوليز پرمختګ ته پراختيا ورکړي او د تير وخت په څير د پراختيا څو ټوټې شويو تګلارو څخه د مخنيوي په برخه کې مرسته وکړي. ياد تړون به ټولنې د پراختيا د پروسې په مرکز کې راولي، او دوی ته به د خدمتونو د وړاندې کولو څخه د څارنې او د پراختيايي لومړيتوبونو د ټاکلو لپاره وسايل او ميکانيزمونه په اختيار کې ورکړي.ټولنې به د ګټه ترلاسه کوونکو په پيژندنه، د غوښتنې په رامنځته کېدو، او همدارنګه د پرمخ وړلو او ساتنه کې مهم رول ولوبوي. د وګړو منشور به د ټولنو د پراختيايي مرکزونو (CDCs) ظرفيت جوړونه وکړي او له پورته نه ښکته د حساب ورکونې اړين ګامونه پورته کړي ترڅو يقيني شي چې زيانمن کېدونکې ډلې لکه ښځې، راستنيدونکي کډوال، په هيواد کې دننه بې ځايه شوي خلک، کونډې، او معلولين د پراختيا په پروسه کې شامل شوي دي.

## ولسی تړون به د خدمتونو لړ تر لړ معيارونه وړاندې کړي

تر ۲۰۲٦ زيږديز کال پورې به دولت د ټولو خلکو لپاره د خدمتونو د اساسي خدماتو وړاندې کول تضمين کړي. په راتلونکو څلورو کلونو کې به ياد پروګرام ۱۲،۰۰۰ ټولنو له لارې په ټولو ۳۴ ولايتونو کې لاندې خدمتونه وړاندې کړي:

- په ملي سطحه پاکو اوبو ته لاسرسی، د ۲۰،۰۰۰ شاوخوا د اوبو د ترلاسه کولو ځايونو رامنځته کول
- په دولتی ښوونځيو کې د غوره کيفيت تعليم، د ښوونکو له حاضرۍ او د زده کوونکو لپاره د زده کړې ساعتونه څخه ډاډمن کېدل

- د روغتیايي خدمتونو لومړنی بسته، په ټولو کلنیکونو کې ټاکل شویو خدمتونو، د عملیاتو حداقل ساعتونو، او د کار ګمارنې لمړنی غوښتنو په شمول

د ټولنې تر مشرۍ لاندې د لومړیتوبونو د ټاکلو او د توپیر د څېړلو پر بنسټ، ټولنې به له لاندې برخو څخه لږ تر لږه یوه یې ولري:

- په لږې پرتو سیمو کې له نویو کېدونکو سرچینو څخه د لومړنی کچې بریښنا تولید،چې د انرژۍ د سیستم له لارې د رسیدو وړ نه وي.
- مارکېټ ته د کلیو د لاسرسۍ د زیاتوالي په موخه د داسې سړکونو جوړول چې سر و کال پرانستې وي.
- په ټیټه کچه د اوبو لګولو او د فاضله اوبو د وتلو زیربیناوې.

## ۳. د اغیزمنې حکومتولۍ پروګرام

په افغانستان کې امنیت، بې ثباتي او لږ پرمختګ له یو بل سره نه بیلیدونکې تړاو لري. د دولت مشروعیت او اغیزمنتیا رامنځته کول پخپله یوه مهمه موخه ده. یو مشروع او ثبات لرونکې دولت ته دغه پاملرنه په لومړي ګام کې د سولې په خبرو کښې پرمختګ، د سیاسي اجماع رامنځته کول، او دامنیت ټینګښت دي. د مالکېت د حقوقو روښتیا، په ځانګړې ډول د ځمکو لپاره چې د نفوسو د لوی شمیر لپاره یوه مهمه فزیکي شتمني ده، یوه مهمه موضوع ګڼل کېږي.د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداره (اراضي) د ملي اداري د قبالې پروګرام په رامنځته کولو سره د یادې ستونزې د له منځه وړلو لپاره کار کوي.د لومړنیو خدمتونو لکه روغتیا او تعلیم په برخو کې، په ځانګړې ډول د ښځو او نجونو لپاره د لاس ته راوړنو خوندي ساتلو ته اړتیا لري ترڅو موږ د خلکو خوندیتوب، پخپل ټاکل شوي استازي باندې باور لرل او د خپلو کورنیو لپاره د کافي عوایدو ترلاسه کول، تضمین کړو.

### الف) د عامه سکټور سمون

د عامه سکټور بنسټیز اصلاحات به د اوسنۍ اداري د کاري دورې تر پایه پورې دوام ومومي. افغانستان د هغو پالیسیو او مقرراتوله بې کچې زیاتوالي څخه اغیزمن دی کوم چې په سمه توګه نه دي پلي شوي. د پلي کولو په برخه کې د اغیزمنتیا راوستلو لپاره موږ باید د مدیریت په سیستمونو کښې اصلاحات، څارنې او مکافات راولو. په راتلونکو دریو کلونو کې به په لوړو عوایدو او لګښتونو لرونکو وزارتونو کې د فعالیتونو د مدیریت اصلاحات راوستل شي. د ملکي خدمتونو او عامه اداري اصلاحات  د لوړ رتبه مدیرانو د وړتیا د لوړولو لپاره پلي شوي دي.

## د یوې اغیزمنې او ځواب ویونکې ملکي اداري  رامنځته کول

افغانستان باید یوه داسې د ملکي خدمتونو اداره رامنځته کړي چې د هیواد د ملي پرمختیایي غوښتنو ځواب ویونکې وي او د افغان نارینه او ښځینه  مساوي ګډون بهیر ته وده ورکړي. خو بیا هم یادې موخې ته د رسیدو لپاره موږ باید یو ژور سیاسي میراث له منځه یوسو، چې د اداري فساد او غیر مشروع نفوذ له خوا خپور شوی، کوم چې د ملکي خدمتونو په بستونو کښې د لوی شمیر غیر مسلکي کار کوونکو ګمارلو سبب شوی. اصلاحات باید د هغه ناسالمو کړنو ریښې له منځه یوسي چې ډیرې ژورې شوي او غښتلي سیاسي څیرې یې قانع کړي دي. د ملکي خدمتونو مسلکي اداري رامنځته کول چې له لګښت څخه یې د ارزښت کچه ډیره وي د ټولو افغانانو په ګټه ده.
پورته یادې شوې موخې به د لاندې فعالیتونو له لارې تر لاسه شي:

- د نويو قوانينو په تصويب او د اوسنيو قوانينو په بيا کتنې سره چې په هغه کې د ملکې خدمتونو قانون هم شامل دی،د ملکي خدمتونو په برخه کې د اصلاحاتو راوستل.
- د مسلکېتوب رامنځته کول، ساتل او پياوړي کول.
- د فعاليتونو پر بنسټ د ولاړ مديريت پراخول.
- د ولسي ترون له لارې د خدمتونو د وړاندې کولو اغيزمنتوب زياتول.
- د حساب ورکونې او روڼتيا پياوړې کول، او
- د داسې لاربشود جوړول چې غوره خدمات وستايي او د فعاليت کموالی تنظيم کړي.

## ب) د اداري فساد د ريښو ايستل:

موږ په بشپړ هوډ سره د اداري فساد له منځه وړلو ته ژمن يو. د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د ولسمشر عملي پلان، ستړې محکمې او لوېې څارنوالی کې د اداري فساد مخنيوی له قوي پروګرام او مناسبې رهبرۍ سره يو ځای شوی چې د معافيت کلتور به له منځه يوسي او مفسدين به عدالت ته راکاږي. په داسې حال کې چې د امنيتي ستونزو له منځه وړل به سياسي خبرو اترو او پوځې برياليتوب ته اړتيا ولري، زموږ د خلکو باور لوړول په دې توګه چې موږ کولای شو د ښه کېفيت لرونکي خدمتونو په بې پرې ډول وړاندې کړو، د عامه ملاتړ پر کچه اغيزه وکړي.

## د اداري فساد پر وړاندې د حکومت د پلان عمده ټکي:

په افغانستان کې له بنسټيز اداري فساد سره د مبارزې لپاره د امنيت، اداري،اقتصاد، او حقوقي ادارو په برخو کې سترو اصلاحاتو ته اړتيا شته. هغه عمده اصلاحات چې مخکې له مخکې پر لاره اچول شوي دي په لاندې ډول دي:

- د عامه تدارکاتو بيا جوړونه، چې د ټولو لګښتونو ۲۰ سلنه جوړوي.
- د قانون د حاکميت او اداري فساد پر ضد د مبارزې په برخو کې د عالي شورا رامنځته کول.
- د وزارت په سطحه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د پلانونو ترتيبول چې پيل يې د ماليې، معدنونو او پطروليم، سوداګری او صنايعو، مخابراتو او معلوماتي ټيکنالوژۍ او ټرانسپورت له وزارتونو څخه کېږي.
- د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې عدلي مرکزڅخه ځانګړي ملاتړ تر څو د لوړې کچې اداري فساد وڅيړي او تر قانوني څار لاندې يې ونيسي.
- د قاضيانو او څارنوالانو د شامېلېدو او بيا ځلې ازموينو په برخو کې د شرطونو اړين کول.
- د ۳۴ ولايتونو د قاضيانو تعويض او تبديل.
- د کمپيوټری تادياتو او الکترونيکي پلورنې څخه په ګټه پورته کولو کې د زياتوالی راوستل.

## ج) د سيمه ايزې حکومتولۍ پياوړتيا

کله چې دولت کمزوری وي، خلک د خونديتوب له نور ډولونو لکه غيرقانوني ملاتړ، وسله والې مليشې او وسله والو شبکو څخه ګټه پورته کوي. موږ بايد په ټولو ولايتونو او ولسواليو کې فيزيکي او اداري شتون رامنځته کړو ترڅو عامه خونديتوب او د امنيتي، قانوني او ټولنيزو خدمتونو وړاندې کوونکو ادارو له نظارت څخه ډاډمن شو. د سيمه ايز حکومتونو له لارې د لګښتونو د کچې له زياتوالي او تر ۲۰۱۹ زيږديز کال پورې د ښاروالانو د ټاکنو په شمول د ټاکنو

د پروسې له اصلاح سره یوځای دپانګوني پروګرام چې په ولسوالیو او ولایاتو کې د حکومت دایمي شتون ته پراختیا ورکړي چې دا به د ځايي حکومتولۍ د پیاوړتیا لامل وګرځي.

د ځايي حکومتولۍ د سیستم د پیاوړیتوب او ملاتړ لپاره زموږ هڅې په لاندې ډول دي:

- د حکومت د ټولو کچو ترمنځ له ځايي ټولنې نیولې تر ملي کچې پورې د اړیکو ټینګول.
- د بودجې ترتیبولو، پلان جوړولو او پلي کولو په برخو کې د ملاتړ او همغږۍ زیاتول.
- د عوایدو ټولولو او خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د ښاروالیو د وړتیا لوړول.
- د ولسوالیو په سطحه د حکومت د شتون زیاتول، او
- د والیانو او ولسوالانو د ظرفیت لوړول.

## د) نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه

افغانستان کښې د نشه يي توکو شته صنعت، د امنیت او پرمختګ په لاره پروت یو ستر خنډ دی. د نشه يي توکو ناقانونه سوداګري د بلواګرۍ د زیاتیدو سبب ګرځي او د دولت مشروعیت ته زیان رسوي. د نشه يي توکو له مصرف کوونکو هیوادونو څخه دوامداره غوښتنه او د ترانزیت په لار کې د پرتو هیوادونه له خوا د نشه يي توکو د لیږد د مخې نیولو اړوند ناکافي ګامونه، زموږ د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د تګلارې اغیزمنتیا محدوده کړې ده. د ۲۰۱۵ زیږدیز کال را په دې خوا موږ د نشه يي توکو ملي کاري پلان پلي کول پیل کړي چې د قانون پلي کول، تعلیم او عامه روغتیا یوه مسیر ته برابروي. د دې خبرې په پوهیدلو چې بریالي اصلاحات اوږد مهاله ژمنو ته اړتیا لري، په راتلونکو پنځو کلونو کې به موږ په داسې حال کې کروند ګرو ته د بدیل معیشت برابرول روان وساتو چې د پیسو مینځلو او نشه يي توکو د قاچاق پر وړاندې به قانون په جدي توګه پلی شي.

## ۴. دعدلي سکټور د رغولوپروګرام

زموږ خلک باید دا احساس وکړي چې دولت د قانون په بې طرفه پلي کولو سره عدالت رامنځته کوي. افغانستان باید د قانون د ونډې د یقیني کولو لپاره باید خپل سیستمونه له سره جوړ کړي، چې د هغه د نشتون له کبله به قراردادونه او د ملکیت حقوق خوندي نه وي او نه به شخړې د قضا او قانوني لارو حل شي. ستره محکمه او لویه څارنوالی دواړه د خپلو خدمتونو د مسلکي کولو او ټولو وګړو ته د حقوقي لاسرسي لپاره په لویه کچه داصلاحاتو پلان جوړوي.

## عدالت ته دټولو افغانانو لاسرسی:

افغانستان به یو عادلانه او منصفانه قضایي او د قانون د تنفیذ سیستم جوړکړي، چې د قواعدو او مقرراتو پر بنسټ عدالت وساتي او د نړیوالو معیارونو سره به سمون ولري. د قانون د پلي کولو سیستم به دا باوري کړي چې د قانون پر وړاندې بې له کوم تبعیضه ټول افغانان مساوي دي.

یاده موضوع به د لاندې ټکو څخه څرګنده شي:

- د هر افغان نر او ښځې لپاره عدالت ته د لاسرسي د حق تضمینول.
- د یوه روڼ او بې پرې حقوقي سیستم رامنځته کول چې د اساسي قانون او بشري حقونو نړیوالو کنوانسیونونو دقیق ډول په نظر کې نیولو سره رامنځته شوی وي.
- په هره کچه د قانون د پلي کوونکو پرسونل مسلکي ظرفیت لوړول.
- د عدلي او قانون پلي کوونکو ادارو کې د ښځو د شمیر زیاتول.

- د عدلي او قانون پلي کوونکو ادارو ترمنځ د همغږي زیاتول.
- له ستري محکمي څخه د اراضي خپلواکي اداری ته د ځمکو د قضایاو د څیړلو د صلاحیت تقویض
- د قضایي ادارو په بیا جوړښت او د قضیو بریښنایي مدیریت سیستم په فعالولو سره د ځواب ورکوني او اغیزمنتیا لوړول.
- د بشري حقونو د ساتنې او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي په برخو کې د جدي ګامونو پورته کول.

## ۵. دکرنې د پراختیا هر اړخیز پروګرام

د افغانستان ناخالص ملي تولید د کرهنیز سکټور له فعالیتونو سره سم حرکت کوي، کوم چې د ۴۰ سلنې نفوس لپاره د کار زمینه رامنځته کوي او زموږ د اوسنیو صادراتو د پام وړ برخه جوړوي. په طبیعي ډول یو بې ثباته سکټور، لکه د افغان کرهنې د ودې مخه، د اوبو د سرچینو د پراختیا په برخه کې د لږې پانګونې، د ټیټ کېفیت لرونکو توکو لکه تخمونه او سرې، د طبیعي سرچینو له منځه تلو، او د کورني او صادراتي بازارموندنې لپاره کمزوري سیستم له کبله نیول شوې ده. اقلیم د بدلون له کبله اوس دری اونی مخکې واوره اوبه کېږي، چې د پسرلې په لومړیو کې د ځمکې پر سر به د ډېرو اوبو د تولیدو سبب شي، او د سیلابونو د راوتلو او ځمکو د ښویدو خطر زیاتوي،او همدارنګه د وچ دوبې په میاشتو کې د کافي اوبو د نشتون ستونزه رامنځته کوي. اوسنی اورښت د ډېر باران اوریدلو په څیر ښکاري، نه د واورې، کوم چې د ډېرو اوبو دساتلو آسانتیاوو او د سیلابونو د مخنیوي پر وړاندې د اړینو ګامونو پورته کولو اړتیا پیدا کوي.

د کرهنیزو تولیداتو د کچې لوړول به د اوبو لګولو په سرچینو، د اوبو په مدیریت، د نیالګي کېنولو پرمختللي موادو، او غوره لارو چارو په برخه کې د پام وړ څو سکټوریزه پانګونو ته اړتیا لري. د ارزښت زیاتولو کړۍ ته باید پراختیا ورکړل شي ترڅو پانګوالو ته د پانګونې لپاره ډېره انګیزه ورکړي. د غنمو او غلو زیات تولید، او کمو شویو رمو ته پراختیا ورکول به د هیواد لپاره د خوراکي توکو خوندیتوب تضمین کړي. پرمختللې ښارې او کلیوالې اړیکې چې کرهنیزو محصولاتو ته د پیرودلو، پروسس او ساتلو توکي تیاروي، د ښاري پرمختګ او د کلیو د روښانه پرمختګ سبب شي.

عامه پانګونه به په لومړیو کې کرهنیزو سکټورونو ته پاملرنه وکړي کوم چې د اقتصادي ودې لوړ قابلیت لري. اصلاح شوي تخمونه، غوره کرهنیزه ټکنالوژۍ، او ډېری سرخونې او د سړیدو آسانتیاوې به له کوچنیو سهم لرونکو سره د خوراکي توکو د خوندیتوب په لوړولو او د کورني او صادراتي بازارونو لپاره د تولید له وروستی کچې څخه مثبتې کچې ته د خوځښت په برخه کې مرسته وکړي. یو اوږد مهاله ظرفیت شتون لري ترڅو افغانستان له واردونکي او کرهنیز هیواد څخه په کرهنیز صنعتي صادراتي هیواد بدل کړي. یادې موخې ته رسیدل د کرهنیز صنعت پرمختګ، د کېفیت د کنټرول ښه والي، د سړیدونکو آسانتیاوو پراختیا، او د غوره بسته بندی معرفي کولو ته اړتیا لري، تر څو پورې چې د ضایع کېدو او خرابیدو څخه مخنیوی وشي.

د کاري زمینې رامنځته کول، د حاصلاتو زیاتول او کروندګرو لپاره د بازارونو پرانستل:

په راتلونکو پنځو کلونو کې به موږ:

- تر اوبو لاندې ځمکه له **۲،۲**څخه **۲،۷** ملیون هکتارو ته لوړه کړو
- د غنمو تولید له ۴٫۵ څخه ۵٫۹ ملیون میټریک ټنو ته لوړ کړو .

موږ به یادو موخو ته په لاندې ډول ورسیږو:

- د اوبو د اغیزمن مدیریت په برخه کې د پانګونې له لارې به د ۱۰۰۰ څخه ډېرو اوبولګولو کانالونه جوړولو، د اوبولګولو نوو شبکو ته پراختیا ورکولو، او د اوبو واړه زیرمتونونو جوړول.
- د غنمو د ملي پروګرام پلي کول، ترڅو د حاصلاتو کچه ٪۲۶ لوړه شي، د ۱۱۰،۰۰۰ هکتاره تر کښت لاندې ځمکې زیاتول، له حاصل اخستلو څخه وروسته په منځنۍ کچه د زیانونو راکمول، او د غنمو د زړو د معیاري بازار رامنځته کول.
- د څارویو په مدیریت کې غوره والي راوستل، د (phytosanitary) د شمولیت معیار او د نړیوال سوداګریز سازمان له خوا منظورشویو تعرفو ته رسیدل ترڅو زموږ له ورو سوداګرو سره په هیواد کې د شته توکو د معادلو وارداتي سیالانو د سیالۍ مخه ونیسي.
- د بنوالي ظرفیت له ۱۸۰،۰۰۰ څخه ۲۳۰،۰۰۰ هکتارو ته لوړول، د ارزښتونو لوړولو په زنځیر(-value chains) کې له پانګونې څخه ملاتړ کول، د صادراتو د تصدیق سند د طرزالعملونو رامنځته کول، او د ښځو له خوا پرمخ وړونکو کرهنیزو سوداګریو څخه د ملاتړ زیاتول.
- د غلو د استراتیژیکي زیرمو بیا ودانول او د کروندګرو د ملاتړ لپاره د غلو د زیرمو د بورډ رامنځته کول.
- د ځنګلونو کرهنه او په ۶۰،۰۰۰ هکتارو کښېې د ځنګلونو بیا اینبودنه ، چې له چاپیریال ساتنې او د کروندګرو لپاره د عوایدو له رامنځته کولو څخه ملاتړ کوي.
- د کرهنې وزارت د بیا جوړښت، تر څو یو غیر متمرکزه او کروندګرو ته ځانګړې شوې پاملرنې اداره رامنځته شي چې خصوصي پانګونه تنظیم کړي او وې هڅوي.

## ۷. دښاري پراختیا پروګرام

په ډېرو هیوادونو کې، ښارونه د جغرافیایي او نفوس د ګټو له کبله د ودې د رامنځته کېدو خوځنده مرکزونه جوړوي . افغان ښارونه لوی تاریخونه لري، لیکن اوس مهال باید چې د ودې په محرکېنو باندې بدل شي. زموږ ښارونه د اوسیدو پر مرکزونو باندې اوښتي، چې د نوو اوسیدونکو، بې ځایه شویو خلکو، او راستنیدونکو مهاجرو لوېې شمیرې د جذب لپاره د اقتصادي بنسټونو له کمښت سره مخ دي. د ښاروالیو لپاره د مستقیمو ټاکنو سره چې د ۲۰۱۹ زیږدیز کال لپاره پلان شوي، زموږ ښارونه به د ښاروالۍ او ښاري چارو د مدیریت لپاره لوړو ظرفیتونو ته اړتیا ولري.

## خوځنده او د هستوګنې وړ ښارونه

یاد سکټور لپاره زموږ موخې په لاندې ډول دي:

- د خوځنده، خوندي، د هستوګنې وړ ښاري مرکزونو د یوې شبکې رامنځته کول
- د اقتصادي ودې په مرکزونو، کلتوري مرکزونو، او د ټولنیز یوځایوالي په مرکزونو باندې د ښاري شبکو بدلول
- د ښاري پلان جوړونې غیر مرکزي کول او د مشارکتي ښاري حکومتولۍ میکانیزمونو جوړول.

د ملي لومړیتوب ښاري پروګرام به:

- حقوقي او مقرراتي جوړښت کې غوره والی راولي، د واک لیږد به پلي کړي، او په ښارونو کې به د قانون حاکمیت ټینګ کړي.
- د ښاري زیربیناوو، په ځانګړي ډول ترانسپورټ او د اوبو ایستلو سیستم به جوړ کړي
- ښاري پراختیایي پلانونو کې کلتوري میراث شامل کړي

- د ښاري ګاونډیتوب پرمختګ، د منطقه بندۍ یا زوننګ د اصولو رامنځته کول او پلي کول، او د مناسبو بیو کورونو ودانولو هڅول.
- د ځمکې د ملکیت د حقوقو خوندیتوب او تصدیقول، بیوزلو ته د ښاري خدمتونو په رسولو کښې د ښه والی، او په کاري فرصتونو کې د زیاتوالی راوستل.
- لویو اقتصادونو ته وده ورکول، د ښاري اقتصادي زونونو جوړول، ښارونو ته نیږدې سیمې په ښاري پراختیایي پلان کې ځای پر ځای کول.

## ۸. د انرژۍ پروګرام

زموږ د پرمختګ تګلاره د تولید کوونکو د وړتیا د لوړیدو سره تړلې ده ترڅو ښاري او نړیوالو بازارنو ته لاسرسی ومومي. د ترانسپورت د دهلیزونو پراختیا د شخړو له کبله اغیزمنه شوې ده. خو، کمزوري ډیزاینونه (ډیر وخت د ګوګل له نقشې څخه اخیستل شوي) او د تړونونو کمزوری مدیریت دواړه په مساوي توګه ننګونکي پاتې شوي دي، چې د ټیټ کېفیت ودانیزو کارونو لپاره د لوړ لګښت سبب شوي. په راتلونکي کې له یادو ستونزو څخه د خلاصون په موخه، موږ به د سړکونو د جوړولو لپاره د تصدیق لرونکو شرکتونو د مخکې له مخکې امتیاز ورکونې پروسه پیل کړو. د ټرانسپورټ د چارواکو د اغیزمنتیا د لوړولو لپار د داسې سیسټمونو پر رامنځته کولو کار دوام لري چې دوی ته په هیواد کې د ترانسپورت زیاتیدونکو اړتیاوو ته په ځواب ویلو کې د همغږۍ اجازه ورکوي. همدارنګه دغه هڅو کښې د سړکونو څانګې، د سړکونو د مالي صندوق، او د ټرانسپورټ د انستیتوت جوړول شامل دي.

افغانستان د بریښنا د تولید او لیږد لپاره یو اوږدمهاله پروګرام پر لاره اچولی دی. د کاسا- ۱۰۰۰ او د ترکمنستان ۵۰۰ کیلو ولټه د بریښنا مزی کولای شي تر ۴۰۰۰ میګا واټه بریښنا ولیږدوي. د ټاپي د طبیعي ګازو نللیکه له ترکمنستان څخه سهیلي آسیا ته د ګازو د لیږد په برخه کې پرمختګ رامنځته کوي. د سلما د څو موخیزه بند فعالول یوه لویه لاسته راوړنه ده او کولای شي د ترانسمیشن له پلورلو څخه د عوایدو د ترلاسه کېدو سبب وګرځي او په افغانستان کې د سوداګریزې او خصوصي بریښنا د شتون سبب شي.

د یوه ماسټرپلان په پلي کولو سره چې له کورنیو سرچینو څخه د پنځو کلونو په ترځ کې د۲،۳۰۰میګا واټه بریښنا په تولید سره او د څلورو لویو آبی بریښنا پروژو او ۶۰۰ میګا واټه له لمر، باد، او طبیعي ګاز له لارې چې دواړو پروژو ته د عامه او خصوصي ګډون له لارې پراختیا ورکړل شوې، د کورني تولید کچه مخ په زیاتیدو ده. د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په پای ته رسیدو سره به افغانستان له نویو کورنیو سرچینو څخه تر هغه ډیره بریښنا تولید کړي چې د تیرو ۴۰ کلونو په ترځ کې د هیواد دننه تولیده شوې ده.لومړیتوب به په ملي شبکه کې پانګونې ته دوام ورکول وي، کوم چې د سوداګریز یا صنعتي پرمختګ لپاره اساسي وړاندینی شرط دی، په داسې حال کې چې د استوګنې په انزوا شوو سیمو کې، د بیا تولید وړ بریښنا په برخه کې زیاتیدونکې پانګونه په لومړیتوب کښې کرار لري.

د زیربیناوو او انرژۍ د پراختیا لپاره د ملي لومړیتوب پروګرام

## د برېښنا او انرژۍ سکټورونو لپاره زموږ موخې:

- د ښاري او کليوالي سوداګرۍ د پراختيا لپاره د ټرانسپورت د لګښت کمول
- د ۵۰۰ کېلو ولټه ملي شبکې بشپړول او د ۱۵ کلونو په ترڅ کې د انرژۍ له اړخه پر ځان بسيا کېدل.
- د مرکزي او سهيلی آسيا ترمنځ د انرژۍ له ليږد څخه د عوايدو ترلاسه کول.
- يادو موخو ته د رسيدو لپاره افغانستان به:
- د خصوصي سکټور زيربيناوو پراختيا وهڅوي.
- خصوصي سکټور ته د ستراتيژيک لحاظ مهمو زيربيناوو پراختيا د چټکولو په موخه د حکومت له خوا دولتي ځمکه په اختيار کې ورکړي.
- د طرحې ترتيب او نوبت لرونکې تدارکاتو پروسه رامنځته کړي ترڅو د داوطلبۍ او بشپړيدو په وخت کې کمښت راولي.
- د زيربيناوو د انجينرانو او پروژو د مديرانو د کادرونو روزل.
- له طبيعي ګازه، نوي کېدونکې انرژۍ، او آبي برېښنا څخه په ګټې پورته کولو د کورني توليد کچه ۲،۳۰۰ميګا واټو ته لوړول.
- د کورنۍ انرژۍ د ليږد او ټرانسميشن پراختيا، په ځانګړې ډول دنوي کېدو وړ انرژۍ له لارې.
- په دې سکټور کې د نرخونو د ټاکلو او سبسايدي د جوړښت سمون .

## ۹. دکانونو او طبيعي سرچينودپراختيا ملي پروګرام:

د استخراجي صنايعو لکه کانونه او هايدرو کاربن پرمختګ به په زياتيدونکې توګه د اقتصادي ودې د محرک په توګه مهم رول ولوبوي. د رښې دواطلبۍ او اغيزمنې څارنې له لارې د هغوی دوامداره پراختيا موږ ته د ځانګړې اهميت وړ ده. وروستي راپورونه په ياد سکټور کې د دولت د قوې شتون اړتيا په ګوته کوي ترڅو د قاچاق او غيرقانوني پراختيا نورو ډولونو مخه ونيسي. له دې کبله، زموږ استراتيژيک پلان د (EITI) له بشپړ مطابقت سره د استخراجي پرمختګ د يوالي غوښتنه کوي او د دې ډاډ ورکوي چې ټول فعاليتونه به د افغانستان تاريخي ميراثونو په ساحو کې او يا دهغه ګرد چاپير د ساتنې اړوند د نړۍ غوره تګلارې وڅاري. لکه څرنګه چې حکومتولي پرمختګ کوي، موږ به د کان کېندنې برخه د نړيوالو پانګوالو پر مخ پرانيزو کوم چې د پانګې او مديريت مهارتونه وړاندې کوي ترڅو خپل بشپړ قابليت ته د رسيدو په برخه کې له ياد سکټور سره مرسته وکړي.

د کان کېندنې سکټور د عوايدو د توليد ډېر لوی قابليت لري. خو، يو کمزوری مقرراتي چاپيريال، د پانګونې د منظورۍ د ورو کېدو سبب ګرځي، او اداري فساد خو وار له مخکې په ياد سکټور کې د پرمختګ مخه ډب کړې ده او د منځنيو او وړو کانونو د رااېستلو له لارې يې د پام وړ عوايدو د ترلاسه کولو مخنيوی کړی دی. موږ به د خصوصي سکټور د پانګونو هڅونې په موخه د قانون جوړونې او مقرراتي جوړښت په برخه کې پرمختګ ته چټکتيا ورکړو. په اړينو زيربيناوو کې د پام وړ پانګونه، په ځانګړې ډول د ريل ګاډو د پټليو په برخه کې چې د کان کېندنې لويې پروژې د بندرونو له آسانتياوو سره تړي، او د انرژۍ پرمختللې ملي شبکو ته اړتيا ده ترڅو د کانونو له ظرفيت څخه پوره ګټه پورته شي.

روڼتيا او حساب ورکونه به د ياد سکټور د دوامداره پرمختګ لپاره لومړيتوبونه وي. موږ اټکل کولای شو چې غيري قانوني کان کېندنه په کال کې د ۳۰۰ مليونه امريکايي ډالرو زيان، د شخړو د زياتيدو، او د جرمونو د رامنځته کېدو

سبب ګرځي. موږ به له (EITI) یا د استخراجي صنایعو د روڼتیا انستیتوت له غوښتنوسره برابروالی، د ګټور مالکېت د ښکاره کېدو لپاره نویو غوښتنو رامنځته کېدل ډاډمن کړو او همدارنګه به له قانوني استخراج څخه د عوایدو تر لاسه کول یقیني کړو. د هایدورکاربن نقشه بندي او اکتشاف هم پیل شوی، خو د پام وړ سوداګریز پرمختګ به د تیلو او ګازو د نړیوالو قیمتونو لوړیدو ته انتظار باسي.

د غوره اقتصاد لپاره د استخراجي سکټور پیاوړي کول

د کانونو او منرالونو سکټور لپاره زموږ موخې په لاندې ډول دي:

- د منرالونو له استخراج څخه تر وروستي بریده د عوایدو لوړول،
- د کانونو د عوایدو ثبات او د وړاندوینې د وړتیا لوړول،
- د تیلو او ګازو د اکتشاف پراخول،
- او غیر قانوني کان کېندنو ته رسیدګي.

یاد سکټور لپاره زموږ لومړیتوبونه په لاندې ډول دي:

- د تړونونو اصلاحات او د سیمه ایزې حکومتولۍ مسلکي کول
- د کانونو پر سیمو باندې د حکومت د بشپړ کنټرول رامنځته کول
- له (EITI) له غوښتنو سره د کانونو د قانون مطابقت
- د لویو کانونو د را ایستلو لپاره د نړیوالو ګډونوالو را بلل
- په ترکمنستان او ایران کې له سیمه ایزو شبکو سره د ریل له لارې د بار او لیږد د نویو لارو جوړول.

## ۱۰. د بشري سرچینود پراختیا پروګرام

افغانستان کښې مهارتونه د بازار له غوښتنو سره په بشپړه توګه سمون نلري. دغه حالت به لا نور هم هغه وخت خراب شي چې د ودې تګلارې پلې کول دوام ومومي. په راتلونکي کې د بازار د غوښتنو د اټکل لپاره، به موږ په مسلکي زده کړو، انجینرۍ، مدیریتي مهارتونو، د خدمتونو په صنعت، او په هغو اصلاحاتو چې افغان کاري ځواک لا نورهم انعطاف منونکي او ځواب ویونکي جوړوي، پانګونه وکړو. د مهاجرو او کورنۍ بې ځایه شویو بیرته راستنیدل کولای شي خپله مثبته ونډه ولري، راوستل شوي مقرراتي اصلاحات به دوی ته د منځنیو او حرفوي زده کړو د ترسره کولو اجازه ورکړي. په جلا وطن کې لوی شوي افغان ځوان نسل لپاره دا اړینه ده ترڅو زموږ د کار په بازارونو کې مدغم شي. موږ به د پایلو پر بنسټ د ښوونې د بیلګې په کارولو او د نصاب په بیاجوړولو، ارزونې، او په زده کړو کې د کړونو په راپور ورکولو سره د زده کړو کېفیت ډاډمن او د لوړو زده کړو موسسو د کېفیت تضمین لوړ کړو.

## د اقتصادي ودې د رامنځته کولو په موخه بشري سرچینو ته پراختیا ورکول

په یاد سکټور کې پانګونه به:

- د کاري ځواک د صادرولو په ګډون به موږ راتلونکي کښې د بازار د غوښتنو لپاره چمتو کړي
- د خصوصي سکټور له غوښتنو سره به د تعلیم کېفیت په غوره توګه برابر کړي
- د اوسنیو مهارتونو بنسټ به غښتلي کړي
- د وقایوي او معالجوي روغتیا په برخه کې پانګونه به د کاري ځواک کېفیت لوړ کړي
- یادو موخو ته د رسیدو لپاره به موږ:

- د مسلکي روزنې له آلماني بيلګې څخه د ګټې په اخيستو سره به مهارتونو او تخنيکي زده کړو ته پراختيا ورکړو.
- د خصوصي مهارتونو د اکاډيميو جوړول به وهڅوو;
- د روزنې په پروګرامونو او د کار په بازارونو کښې د راستنيدونکو مهاجرو او په هيواد کې دننه بې ځايه شويو وګړو د جذب لپار آسانتياوې په ګوته کړو
- دمعلولينو لپاره د عوايدو د ترلاسه کولو په برخه کې د ټولنې پر بنسټ رامنځته شويو کړنلارو څخه ملاتړ وکړو

## ۱۱. د ښځود اقتصادي پياوړتيا پروګرام

موږ په ملي پراختيا کې د افغان ښځو بشپړ سياسي، ټولنيز، او اقتصادي ګډون باوري کولو ته پوره ژمن يو. د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا لپاره د حکومت بودجه د ملګرو ملتونو د ۱۳۲۵ شميره پريکړه ليک او ملي لومړيتوب پروګرام د پلي کولو په لګښتونو کې ځای پر ځای کړې ده.
د راتلونکو پنځلسو کلونو په ترڅ کې د بيوزلی د کمولو په برخه کې زموږ د ژمنو په پلي کولو سره به د ښځو د اقتصادي پياوړتيا پروګرام کې تر ډيره کچې د ۲۵۰ مليونه امريکايي ډالرو پانګونه وکړو. موږ به د اصلاحاتو يوه کړنلاره پلي کړو تر څو پورې چې د ښځو خوځښت زيات کړې، د جندر يا جنسيت د احصاييو په کېفيت کې ښه والی رواڼي، او هغه قوانين چې پورونو او بازارونو ته د ښځو د لاسرسي مخه نيسي کم يا لرې کړي.

## افغانستان د جندر يا جنسيت تګلاره :

زموږ اساسي قانون ښځې ته د هيواد د يوې اوسيدونکې په څير د مساوي حقوقو ضمانت کوي. ليکن موږ بايد د بيوزلی له دوران څخه د دوی د وتو لپاره د هغوی ټولنيز اقتصادي ګډون او له مارکېټونو سره د دوی د مشغولتيا زياتول باوري کړو.
زموږ د جندر تګلاره پر پنځو ستنو ولاړه ده، چې هره يوه يې د حکومت په عملي پروګرام کې ځای لري:

- د بشري حقونو، امنيت، او د افغان ښځو لپاره له کورني تاوتريخوالي څخه د خلاصون په برخه کې زموږ د نړيوالو ژمنو پلي کول،
- د لوړو زده کړو په شمول، تعليم او روغتيايي خدمتونو ته د پوره لاسرسي ډاډمنول،
- د ښځو د اقتصادي پياوړتيا د ملي لومړيتوب پروګرام پيلول،
- په بشپړ ډول د قانون پلي کولو له لارې د ښځو لپاره د اساسي قانون مطابق حقوقو خوندي ساتل،
- په حکومت او سوداګری کې د ښځو د ونډې زياتول.

# اووم څپرکی

## سروی وضعیت زنده گی در افغانستان :

سروی وضعیت زنده گی در افغانستان ۱۳۹۵ جامع ترین منبع معلومات درمورد وضعیت اجتماعی واقتصادی مردم درافغانستان است که توسط اداره مرکزی احصائیه جمهوری اسلامی افغانستان به کمک تخنیکی انستیتیوت سکتور عامه جامعه اروپا ( ICON) درسال ۱۳۹۷ به نشر رسید .

نشر سروی وضعیت زنده گی درافغانستان سال ۱۳۹۵ فعالیت ارزنده اداره مرکزی احصایه بوده که خصوصیت چند گانه این سروی یک وسیله منحصر به فرد برای پالیسی سازان وتمام سازمان های ملی وبین المللی بشما میرود ، ویژه گی ها ی این سروی عبارت اند از پوشش نفوس کوچی ، توانائی تحلیل تغیرات فصلی درشاخص های انکشافی مرتبط، توانائی تولید احصائیه به سطح ولایت همچنان تداوم سروی زمینه تحلیل میلان شاخص های کلیدی انکشافی را مهیا میسازد..

سروی وضعیت زنده گی درافغانستان برای سال ۱۳۹۵ ، ۲۰ شاخص را تحت پوشش قرارداده که شامل ۱۲ هدف از میان ۱۷ اهداف انکشاف پایدار بوده واکثریت آنها دراین دراین گزارش ارایه گردیده است ، سروی وضعیت زنده گی درافغانستان حاوی معلومات اساسی درمورد نفوس وخانوارها ، بازار کار، فقر، مصئونیت غذائی ، زراعت، صحت، تعلیم وتربیه ، مسکن، جنسیت وچالش هایکه خانوار های افغان درگیر آن هستنند ، استراتیژی های مقابله با آن واولویت های مردم برای انکشاف درآن انعکاس یافته است .

### وضعیت زنده گی مردم ولایت پکتیکا به اساس سروی ALCS-۲۰۱۷ :

| شاخص ها | ۲۰۰۷- ۰۸ | ۲۰۱۱-۱۲ | ۲۰۱۳-۱٤ | ۲۰۱٦-۱۷ |
|---|---|---|---|---|
| مساحت (sq.km) | ۱۹۵۱۵,۹ | ۱۹۵۱۵,۹ | ۱۹۵۱۵,۹ | ۱۹۵۱۵,۹ |
| تراکم جمعیت (افراد در هر کیلومتر مربع) | ۱۹,۵ | ۲۱,۲ | ۲۱,۹ | ۲۲,٦ |
| نسبت وابستگی | ۱۱۵ | ۱۵۵ | ۸۱ | ۹۰ |
| نسبت جنسیتی | ۱۱٦,۷ | ۱۰۵,۱ | ۱۱٦,۵ | ۱۲۵,۱ |
| میزان سواد جوانان (۲۴-۱۵ سال) (٪) | ۳۰,۹ | ۳٦,٤ | ٤۳,٤ | ٤٦,٦ |
| میزان سواد در جمعیت ۱۵ ساله و بالاتر | ۲۷,۵ | ۳۲,۲ | ۳۷,۱ | ۳٤,۱ |
| پوشش مراقبت های قبل از زایمان (حداقل یک بازدید) (٪) | ۳,۲ | ۲٦,٤ | ۳٤,۸ | ٤۱,۷ |
| زنان که به وسیله پرسونل صحی ماهر زایمان میدهند (٪) | ۲,٦ | ۲۰,٦ | ٤۰,۵ | ۳٦,۰ |
| زنان که در سن ۱۵ -۱۹ سال، در حال حاضر متاهل اند (٪) | ۲۸,٦ | ۲۷,٤ | ۲,۷ | ۱٦,٤ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| توازن جنسیتی سواد در جوانان ( ۱۵ - ۲۴ ساله) | ۰,۰۹ | ۰,۰۷ | ۰,۰۳ | ۰,۱۰ |
| چند همسری زنان متاهل ۱۵ تا ۴۹ ساله (٪) | ۳,۵ | ٦,٥ | ٥,٨ | ٤,١ |
| جمعیت با کمبود پروتئین (٪) | ٤,٢ | ٥,٦ | _ | _ |
| جمعیت با کمبود کالری و پروتئین (٪) | ۰,٦ | ٥,٦ | _ | _ |
| نسبت وابستگی سالمندان | ١,٧ | ٢,٧ | ۰,١ | ٤,٩ |
| اشتغال به نسبت جمعیت | _ | ٤٧,٢ | ٨٦,٤ | ٤٩,٤ |
| میزان زیراشتغال (٪) | _ | ٢٥,٤ | ٥,١ | ١٧,٧ |
| میزان بیکاری (٪) | _ | ٧,٩ | ٦,٠ | ٢٤,٠ |
| میزان مشارکت نیروی کار (٪) | _ | ٥١,٣ | ٩١,٩ | ٦٥,٠ |
| استخدام نه چندان سود مند | _ | ٣٣,٣ | ١١,١ | ٤١,٧ |
| جمعیت مشغول در کشاورزی (٪) | _ | _ | ٦٨ | ٥٣,٢٣ |
| جمعیت مشغول در تولید (٪) | _ | _ | ٧ | ٥,٤ |
| جمعیت مشغول در خدمات (٪) | _ | _ | ٢٥ | ٤١,٣٨ |
| میزان فقر (٪) | ٧٦,٤ | ٣٠,٨ | _ | ١٢,٨ |
| جمعیت که در فضا باز رفع حاجت مینمایید (٪) | ٥٥,٥ | ٣٠,١ | ٨٢,٢ | ٩,٢ |
| جمعیت که از مواد سوخت جامد استفاده مینمایند (٪) | ١٠٠ | ٩٩,٥ | ٦٨,٦ | ٩٩,٦ |
| خانواده که دارای برق میباشند (٪) | ٥,١ | ٨٥,٨ | ٨٥,٠ | ٨٩,٣ |
| تعداد خانواده | ٨,٦ | ٩,٦ | ٨,٣ | ٩,٩ |
| افراد که در خانواده های پرجمعیت زنده گی میکنند (٪) | ٤٣,٦ | ٥٧,٦ | ٦٠,٥ | ١٨,١ |
| مجموعه تلفن همراه در هر ۱۰۰ نفر جمعیت | ۰,١ | ١,٤ | ٨,٣ | ١٨,٩ |
| کاربران اینترنت در هر ۱۰۰ نفر | ٠ | ۰,۰٩ | ۰,١١ | ٢,٠ |
| خانواده هایی که دارای زمین های آبیاری هستند (٪) | ٧٧,٧ | ٤٩,١ | ٤٩,٨ | ٦٣,٣ |
| خانواده هایی که دارای زمین های للمی هستند (٪) | ٣,٢ | ١٢,٧ | ۰,٣ | ١٨,٤ |
| خانواده هایی که دارای قطعه باغ هستند (٪) | ٣,٧ | ١٨,١ | ٤٩,٥ | ٢٢,٨ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اوسط اندازه زمین های آبی متعلق به خانواده ها (جریب) | ۳,۲ | ٦,٥ | ٧,٢ | ٥,٧ |
| اوسط اندازه زمین های للمی متعلق به خانواده ها (جریب) | ٢,٧ | ٨,١ | ١٠,٥ | ١٠,١ |
| اوسط اندازه زمین های آبی متعلق به خانواده ها (جریب) | ٠,٧ | ٢,٦ | ١,٤ | ٢,٢ |

## سروی وضعیت زنده گی به سطح ملی :

| شاخص ها | ٢٠٠٧- ٠٨ | ٢٠١١-١٢ | ٢٠١٣-١٤ | ٢٠١٦-١٧ |
|---|---|---|---|---|
| مساحت (sq.km) | ٦٥٢٨٦٤ | ٦٥٢٨٦٤ | ٦٥٢٨٦٤ | ٦٥٢٨٦٤ |
| تراکم جمعیت (افراد در هر کیلومتر مربع) | ٣٥,٣ | ٣٩,١ | ٤٠,٧ | ٤٢,٤ |
| نسبت وابستگی | ١٠٥ | ١٠٤ | ١٠٠ | ١٠١ |
| نسبت جنسیتی | ١٠٥ | ١٠٥,٧ | ١٠٥,٣ | ١٠٣,٩ |
| میزان سواد جوانان (۲۴-۱۵ سال) (٪) | ٣٨,٩ | ٤٦,٦ | ٥١,٧ | ٥٣,٦ |
| میزان سواد در جمعیت ۱۵ ساله و بالاتر | ٢٦,٢ | ٣١,٤ | ٣٤,٣ | ٣٤,٨ |
| پوشش مراقبت های قبل از زایمان (حداقل یک بازدید) (٪) | ٣٢,٨ | ٥١,٢ | ٦٣ | ٧٠,٢ |
| زنان که به وسیله پرسونل صحی ماهر زایمان میدهند (٪) | ٢١,٨ | ٣٩,٩ | ٤٥,٢ | ٥٣,٤ |
| زنان که در سن ۱۵ -۱۹ سال، در حال حاضر متاهل اند (٪) | ١٧,٩ | ١٩,٥ | ١٧,٩ | ١٦,٤ |
| توازن جنسیتی سواد در جوانان ( ۱۵ - ۲۴ ساله) | ٠,٤٥ | ٠,٥٢ | ٠,٥٥ | ٠,٥٧ |
| چند همسری زنان متاهل ۱۵ تا ۴۹ ساله (٪) | ٨,١ | ٧,٣ | ٧,٤ | ٧,٨ |
| جمعیت با کمبود پروتئین (٪) | ١٥,٧ | ١٩,٤ | _ | _ |
| جمعیت با کمبود کالری و پروتئین (٪) | ٦,١ | ١٨,٥ | _ | _ |
| نسبت وابستگی سالمندان | ٥,٧ | ٥ | ٤,٩ | ٥,٤ |
| اشتغال به نسبت جمعیت | _ | ٤٥,٧ | ٤٢,٩ | ٢٣,٩ |
| میزان زیراشتغال (٪) | _ | ٤٩,٨ | ٥٥,٤ | ١٥,٦ |
| میزان بیکاری (٪) | _ | ٨,٢ | ٢٢,٦ | ٣٠,٧ |
| میزان مشارکت نیروی کار (٪) | _ | ٤٩,٨ | ٥٥,٤ | ٥٣,٩ |
| استخدام نه چندان سود مند | _ | ٢٥ | ٣٩ | ٣٩,٥ |
| جمعیت مشغول در کشاورزی (٪) | _ | _ | ٤٤ | ٤٤,٣٢ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| جمعیت مشغول در تولید (٪) | _ | _ | ۲۲ | ۱۸,۰۸ |
| جمعیت مشغول در خدمات (٪) | _ | _ | ۳٤ | ۳۷,۵۹ |
| میزان فقر (٪) | ۳٦ | ۳٦,۵ | ۳۹,۱ | ۵٤,۵ |
| جمعیت که در فضا باز رفع حاجت مینمایید (٪) | ۲٤,٦ | ۱۵ | ۱۹,۲ | ۱۳,٦ |
| جمعیت که از مواد سوخت جامد استفاده مینمایند (٪) | ۸۳,۲ | ۷۹,۹ | ۷۵,۹ | ۷٤,۸ |
| خانواده که دارای برق میباشند (٪) | ٤۱,۱ | ٦۸,۹ | ۸۹,۵ | ۹۷,٦ |
